ځرک

اسلامي امارت ثابته کړه

چې د توري او تفاهم ځواک او وړتیا لري !!

شپاړسم کال، شپږمه، پرلپسې ۱۱۹مه ګڼه،
عقرب - میزان ۱۳۹۹ل، صفر المظفر ۱۴۴۲هـ ق، سپتمبر ۲۰۲۰م

د افغانستان اسلامي امارت د رهبري شورا غړي

محترم ملا تاج میر جواد سره د ځرک ځانګړې مرکه

- بین الافغاني مذاکرات او د ولس هیلې
- افغانان د اسلامي نظام غوښتونکي دي!!
- د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم قوت او هیبت!
- د اسلامي حاکمیت جوړولو کړنلاره!
- د تلې د ۶ مې مخکې او وروسته

بین الافغاني مذاکرات

او د کابل واکمنانو زهرجن اظهارات

د پکتیکا ولایت محترم والي **مولوي محمد قاسم (خالد)** له ځرک سره ځانګړې مرکه کې:

د پکتیکا پنځه ولسوالۍ مکملې مفتوحه دي، د پنځو ولسوالیو ۹۵ سلنه
او د نهو ولسوالیو ۷۰ فیصده ساحه د مجاهدینو په واک او اختیار کې ده.

د افغانستان اسلامي امارت

د مذاکراتي ټیم د غړو لنډه پېژندنه

علمي، فرهنګي، ټولنیزه اسلامي خپرونه

څرک

شپاړسم کال، شپږمه، پرلپسې ۱۱۹مه ګڼه، عقرب-میزان ۱۳۹۹ل،
محرم الحرام-صفر المظفر۱۴۴۲هـ ق، سپتمبر ۲۰۲۰م

لړلیک

ګڼه	عـنـوان	مخ
۱	سرمقاله...	۱
۲	د دوحې تړون ولې باید د اوسنیو مذاکراتوبنسټ وي؟......	۲
۳	داسلامي امارت مبارزه نورو اسلامپالو ته د لارې مشال...	۴
۴	بین الافغاني مذاکرات او د کابل د واکمنو زهرجن اظهارات	۷
۵	درهبري شورا غړی محترم ملاتاج میرجواد صاحب سره مرکه	۱۰
۶	د مذکراتي ټیم د غړو لنډه پېژندنه	۲۱
۷	د اسلامي حاکمیت جوړولو کړنلاره !........................	۳۰
۸	دمیزان تر ۶مې وړاندې کیسې!................................	۳۵
۹	د تلې د ۶مې مخکې او وروسته................................	۳۷
۱۰	دمیزان د ۶مې وړاندې خاطرې	۳۹
۱۱	دیموکراسي که اسلامي نظام!..................................	۴۱
۱۲	ګلکڅونه..	۴۲
۱۳	یو څو اندیښنې او ځواب یې !.................................	۴۴
۱۴	داسلامي امارت دمذاکراتي ټیم قوت او هیبت	۴۶
۱۵	بین الافغاني مذاکرات او د ولس هیلې !....................	۴۸
۱۶	ترمپ پوهیږي چې پر سرېو اووښتی!..........................	۵۱
۱۷	افغانان د اسلامي نظام غوښتونکي دي........................	۵۳
۱۸	د پکتیکا ولایت والي مولوي محمد قاسم (خالد)سره مرکه	۵۵
۱۹	ولې دکابل له اداري خلک ناراضه دي؟	۶۱
۲۰	طالبان څوک دي؟	۶۳
۲۱	نومیالي عالم شیخ الحدیث مولوي واعظ سره دڅرک مرکه	۶۶
۲۲	داولاد روزنې په اړه مشورې	۶۸
۲۳	منځنۍ ختیځ کې حالات پر کوم لور روان دي؟	۷۰
۲۴	دشهید ملا صدیق الله احمد زنداني ژوند ته لنډه کتنه.......	۷۴

امتیاز :

دا متیازخاوند : دافغانستان اسلامي امارت دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر : عبید تنویر

لیکوال پلاوی : ډاکټر صابر ، حمید ، جمیل مېړنی او افضل محمد تراب

ګډون :

افغانستان :	۳۵۰ افغانۍ
پاکستان :	۵۰۰ کلداري
امریکا :	۷۰ ډالره
اروپا :	۷۰ یورو
یوه ګڼه :	۳۰ افغانۍ ۶۰ کلداري

یادونه

حتمي نه ده چې په څرک کې خپرې شوې مقالې داداري دپالیسي ترجماني وکړي هره لیکنه دلیکوال خپل نظر دی.

تخنیکي چارې: تخنیکي څانګه

پته :

srak_111@yahoo.com



بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

اسلامي امارت ثابته کړه

چې دجهاد او تفاهم ځواک او وړتيا لري!!

پر افغانسـتان يرغل کوونکو هېوادونو دا فکر کاوه او کابل اداري دا تبليغوله چې اسلامي امارت د تفاهم په نامه څه نه پېژني او نه هم باور پرې لري. دوی دا له پامه غورځوله چې همدا اسـلامي امارت و چې نږدې شل کاله وړاندې يې په داسـې حال کې تفاهم او د خبرو له لارې د هغه وخت د ستونزو د حل غوښتنه کوله چې نړۍ د قبر،وحشت اوزندان له انتخابونو پرته د بل څه حق نه ورکاوه.

د نږدې دوو لسـيزو په جريان کې د برحق جهاد او مقاومت تر څنګ اسلامي امارت د تفاهم دروازه هم خلاصه پرېښـې وه. د اسلامي امارت دريځ دا و چې لومړی بايد د اشغال موضوع، چې دټولو ستونزو زېـږوونکې ده، حـل وفصـل شي او وروسته به بيا افغانان، د پرديو له مداخلې پرته، د خپل هېواد دراتلونکې نظام په اړه تصميم ونيسي .

د روان کال د حوت په ۱۰ مه په دوحه کې د اسلامي امارت او د امريکا د متحده ايالتونو ترمنځ د تړون په لاسليک سره له هېواده د اشغالګرو وتلو ته زمينه برابره شـوه، اوس دا دی د هېواد دراتلونکي برخليک په اړه د افغانانو خپلمنځي تفاهم او مذاکراتو ته لار هواره شوې ده.

اسلامي امارت خودخوا او قدرت غوښونکی قوت نه دی او نه هم باور لري چې په يـواځې ځان دې د افـغانسـتان دنجات او سوکالۍ لپاره پريکړه وکړي .

د دې لپاره چې تر اشغال وروسته افغانسـتان د افغانانو د ديني او ملي اقدارو ممثل، خپلواک، امن او سوکاله وي اړينه ده چې په بين الافغاني مذاکراتو کې ټولو جوانبو ته موقع او دنظر حق ورکړل شي څو خدای مه کړه داسې پرېکړه ونشي چې د هېواد او ولس لپاره زيان ولري.

د بين الافغاني مذاکراتو لپاره د اساس په توګه د حوت د ۱۰ مې په تړون او په خبرو کې د اختلافاتو د حل لپاره د شـرعي مصـدر اومبنا په حيث په حنفي فقه ټينګار، له دې مذاکراتو راوتلې ثمره نوره هم مظبوطوي او تفاهم اسـانه کوي. دا معلومه خبره ده چې په دې مواردو ټينګار د کوم لوري د نفي کولو په معنا نه دي.

اسلامي امارت خپل ولس ته له خپل لوري پوره ډاډ ورکوي چې د ملت ارمانونو ته به ژمن وي او هيڅ داسې پرېکړه به ونکړي چې د افغانستان مصـالح په خـطر کې واچـوي. مقابل جهت هم بايد په عمل کې ثابته کړي چې مذاکراتو او د تفاهم اصل ته ژمن دي او غواړي چې دا کشاله د اوږدولو پرځای نوره حل وفصل وکړي.

موسی فرهاد

د دوحې تړون ولې باید د اوسنیو مذاکراتو بنسټ وي...!؟

کله چې د طالبانو او زلمی خلیلزاد ترمنځ مذاکرات پیل شول، په اوایلو کې ډېر اختلاف د خبرو اترو پر اجنډا و، طالبانو به ویل چې فقط پر دوو موضوعاتو خبرو ته تیار یو، (د افغانستان د اشغال خاتمه او له آینده افغانستان څخه چاته د ضرر نه رسولو اطمئنان).

خو امریکایي لوري به ویل چې نه، پر څلورو موضوعاتو خبري کیږي: دوه دغه پورتني شیان، درېیم د کابل له حکومت سره مخامخ خبري او څلورم اوربند.

دا خبره هم د کابل رسنیو ډېره بدرګه کوله او هم د کابل حکومت.

خو د طالبانو موقف له لویه سره داسې وو چې د افغانانو ترمنځ خبري کول، اوربند، نظام او یا نور مسایل زموږ کورنۍ خبري دي. له خارجیانو سره د مشکل ترحل کولو وروسته یې موږ پخپلو کې حل کول غواړو.

وروسته زلمی خلیلزاد ظاهراً په دې راضي شو چې بس پر دوو موضوعاتو به بحث کیږي، خو نتیجتاً داسې جوته شوه چې طالبانو او خلیلزاد دواړو یو او بل ته تر یوه یوه ټکی په لږ تغیر سره ور تیر سوي وي.

هغه دا چې اوربند د طالبانو په غوښتنه له اجنډا ووتی او د افغان حکومت پرځای له افغاني جهتونو سره خبره طالبانو ومنله.

د همدې جریان په رڼا کې مذاکراتي سلسله وغځېده، چې بالآخره توافق وشو، د مذاکراتي سلسلې په جریان کې که څه هم د کابل حکومت د خپل عادت سره سم هرسهار او بیګا ګډو وډ مواقف اختیارول، خو په ټوله کې هغوی هم له امریکا سره په دې سلسله راضي وو او ملاتړ یې کاوه.

له همدې ځایه وه چې د شپږ زره بندیانو تبادله هم د کابل حکومت د دوحې د تړون په آساس ومنله، که څه هم په نخرو یې پریښودل، خو تبادله یې د همغه تړون له مخې وکړه، تر دې چې کله به یې زر یا سل تنه پریښودل، سمدستي به یې یو نیم اعلان هم کاوه چې اوس دې نو طالبانو خبرو ته راسره کښیني.

له دې نه علاوه د کابل مذاکراتي پلاوی، هم په همغه شرایطو غوره کړای شوی، چې د دوحې په تړون کې ویل شوي، چې د ټولو افغاني جهتونو استاځولي به کولای شي، یعني یواځې حکومت به نه وي.

مطلب دا چې د دوحې د تړون پر موادو د کابل ادارې هم توافق او رضایت درلود، دا چې په زړه کې د امریکایانو پر وتلو خوښ و یا ناخوښه ؛ دا بیله خبره ده.

حقوقي خبره:

نو که چیري د طالبانو دا خبره؛ چې له امریکا سره یې فقط پر دوو موضوعاتو خبري کول غوښتل؛ په اول کې منل شوې وای؛ پر طالبانو ډېر فشار نه وای اچول شوی؛ چې ضرور به پرڅلورو موضوعاتو خبري راسره کوئ، او له امریکا څخه افغان حکومت هم دا غوښتنه مکرراً نه کولای؛ نو نن که د کابل حکومت د دوحې تړون ته ځان ژمن نه بللای، او د آساس په توګه یې نه منلای؛ نو په حقوقي لحاظ به دوی ملامت نه ګڼل کیدای؛ برعکس طالبان به مجبور وای چې له کابل سره د بل نوي تړون له مخې مذاکرات مخته بوځي. اوس چې له طالبانو سره د دوحې په تړون کې توافق شوی، امریکا، ملګرو ملتونو، امنیت شورا، اسلامي کنفرانس، د ۳۶ هیوادونو سفیرانو، د کابل حکومت، ګاونډیانو او نورو ټولو منلې چې پر دریو ټکو: چې په هغه کې له افغاني جهتونو سره د طالبانو خبري کول هم راځي؛ نو اوس لازماً باید چې همدغه تړون د راتلونکو ټولو پړاوونو

لپاره آساس وي. زه فکر کوم چې په حقوقي لحاظ د کابل حکومت سل سلنه دې ته ملزم بلل کیږي. چې باید همدا تړون د خبرو بنسټ ومني.

که چیري یې نه مني، بیا دوی پوه سه، بین المللي ټولنه او امریکا یې پوه سه. طالبان به له سره نوې پریکړه کوي چې د کابل له حکومت سره خبري وکړي، کنه؟ او که کوي یې؛ په کوم آساس یې وکړي؟ دا به د طالبانو خپل د خوښي آپشن وي، ځکه چې د دوحې له تړونه خو کابل قصداً د ځان ایستلو هڅه کوي.

مشورتي جرګه

دا چې اوس د کابل پلاوی دوې ضدونقیض خبري کوي، یو دا چې وایي د مشورتي لویې جرګې د پریکړو پربنیاد به خبري کیږي، او بل وایي چې د امریکا سره امنیتي تړون لري او وروستی اعلامیه یې په ګډه ورسره صادره کړې؛ پرهمغه عمل کوو.

دا دواړې خبري ځکه بې آساسه دي:

(لومړی خو باید وویل شي چې د کابل حکومت امنیتي تړون او وروستی مشورتي جرګه او یا داسي نور ټول کړه وړه، له لویه سره طالبانو په قاطعیت او صراحت سره پرخپل وخت مسترد کړي، آساساً یې منلي نه دي، لکه څنګه چې د کابل حکومت د دوحې تړون منلی وو.)

دویم دا چې مشورتي لویه جرګه خو د کابل حکومت د څلور سوه بندیانو د برخلیک او د هغوی د خلاصون د پریکړې لپاره را وغوښتله، اشرفغني ویل زه یې د خلاصون صلاحیت نلرم، لویه جرګه دې خلاص کړي. دوی خو په اول کې نه امریکا ته خبرداری ورکړی او نه یې طالبانو ته اعلان کړی چې دا مشورتي لویه جرګه د دې دپاره ده چې مورږ د دوحې تړون د بنسټ په حیث نه منو. (سره له دې چې مشورتي جرګه یې دومره ناقصه وه چې حتی ډاکتر عبدالله پخپله هم مسترد کړې وه، نو حقوقي حیثیت یې خلک خپله هم ښه اټکل کولای شي.)

بل داچې دوی د امریکا سره د امنیتي تړون او یا وروستی اعلامیې صادرلو خبره کوي؛ هغه ادعا هم ځکه بیځایه بلل کیږي چې هغه تړون خو له وړاندي لا امریکا درسره مات کړی، امنیتي تړون خو د کابل حکومت د دې لپاره کړی و، چې امریکا به د تل لپاره یا د نامالومي مودې لپاره خپل نظامي حضور په افغانستان کې ساتي او د کابل حکومت په ملاتړ به ابدي جنګ کوي، مګر امریکا خو دا ده اوس خپل ځواکونه باسي، له طالبانو سره یې د خپلو قواوو د خروج معاهده لاسلیک کړه. نو هغه تړون او یا د هغه د آپډیټ وروستی اعلامیه چې د ارګ او امریکایي جنرال لخوا خپره شوه؛ بنیاد ګرځول خو په هیڅ صورت معقول او منطقي نشي بلل کیدای.

له همدې ځایه ده چې باید د دوحې تړون د رواني بین الأفغاني مذاکراتي پروسې آساس وګرځول شي، یو خو به یې نړیوال ملاتړ نور هم پیاوړی شي، ځکه اوس دا فورم ټولي نړۍ تائید کړی، له نوي هغه سره د نړیوالي اجماع رامنځ ته کول بیا په کلونو کلونو وخت اخلي، له همدې لاري کیدلای شي د پروسې راتلونکي پړاوونه ډېر آسانه شي. او ګران هیواد ته مو تلپاتي سوله راشي.

پای..!

د ښووني ځانګړی اسلوب

#روایت_کا چې حسن او حسین رضي الله عنهما چرته بوډا سړي ولید چې اودس یې کوه، خو په سنت طریقه برابر نه و، د نبوت د مدرسې روزلیو ځوانانو مناسب ونه بلله چې مشر او بوډا سړي ته ووایي: اودس دې صحي ونه کړ، باید داسې او هاسې یې وکړې، نو دې مشر ته د صحي اودس ورښودلو لپاره یې د درنښت او هوښیارۍ لاره برابره کړه.

دوی دواړو بوډا ته وویل مورږ دواړه ستا مخکې اوږسونه کوو، ته راته ګوره چې زما اودس په سنت طریقه برابر دی او که زما د ورور، زمورږ فیصله به ته راکوې چې د کوم یوه اودس په سنت طریقه برابر ده.

بوډا ورته وویل: سمه ده، تاسو دواړه اودسونه وکړئ، هغوی دواړو یو په بل پسې اودسونه وکړل او بوډا دواړه څارل، هغوی چې کله اودسونه وکړل بوډا ته یې وویل اوس پرېکړه راوکړه، بوډا هم هوښیار سړی و، په حقیقت پوه شو او هغو دواړو ته یې وویل: ستاسو دواړو اودسونه په نبوي طریقه برابر دي، خو زما اودس په نبوي طریقه نه دی برابر. فیض القدیر للمناوي(۳۲۸/۲)

د اسلامي امارت مبارزه

نوروا سلامپالو ته د لارې مشال

عبدالستار سعید

د افغانستان اسلامي امارت په داسې حال کې د اسلامي نظام دحاکمیت لپاره د مبارزې بیرغ پورته کړ، چې په اسلامي نړۍ کې د شلمې پیړۍ زیاتره اسلامي خوځښتونه د عروج له کنډو څخه د نزول پر خوا راغبرګ شوي وو .په مصر او اکثره عربي هیوادونو کې اخواني حرکت چې د واک تر لاسه کولو هڅې یې ناکامې شوې وې یوازې د پایښت لپاره یې لاس او پښې وهل او خپل فعالیتونه یې له سیاسي هڅو په اجتماعي ـ رفاهي خدماتو بدلول .په بر صغیر کې د مولانا مودودي د فکري خوځښت هم کومه نغده پایله نه تر سترګو کیده .په الجزائر کې اسلامپالو ګټلې میدان سیکولرانو ته بایلود او په افغانستان کې چې کمونیست سیکولران مات شوي وو له بده بخته د یوه فکر) اخوان (او یوه مسلک) انجنیرۍ (سره تړلي اسلامپال) مسعود او حکمتیار (د قدرت په جګړه سره کښیوتل چې په پایله کې د مبارزې دغه میدان هم د فتحې او نظام سازۍ د حماسې پر ځای د خپلمنځي جګړې پر غمیزه واوښت .

د شلمې پیړۍ په وروستۍ لسیزه کې د اسلامپالو خوځښتونو همدا بده ورځ وه چې فرانسوي مستشرق اولیو رای ته یې جرأت ورکړ تر څو) د سیاسي اسلام شکست (تر عنوان لاندې کتاب ولیکي .اولیو رای ولیکل د شلمې پیړۍ له اسلامپالو خوځښتونو څخه یوازې د ایران د خمیني مبارزې رنګ راوړی او نورې مبارزې په شکست محکومې شوي دي.

د سیاسي اسلامپالو شکست بهرني او داخلي عوامل درلودل .له بهرنیو عواملو یې مهم هغه له دوهم جنګ جهاني وروسته نړیوال نظم و چې د امنیت شورۍ پنځو دایمي غړو هیوادونو په کې ټاکونکی رول درلود .دغه وخت چې مسلمانان د ټاکونکي فکتور په حیث د نړیوالو سترو لوبو له موقف څخه غورځیدلي وو، اسلام دښمنه زبرځواکونو په دې اجماع درلوده چې باید د نړۍ په هیڅ کونج کې سیاسي اسلام ته د حاکمیت مخه ورنکړل شي .

د داخلي عواملو له جملې مهم یې د ځینو اسلام پالو خوښتونو انحراف او له خپلو هغو مبادئو سره جفا وه چې په مټ یې دوی په اسلامي ټولنو کې اعتبار او مقام موندلی و .د ډیرو خوځښتونو دوهم او دریم نسل هغه اهدف هیر کړل د کوم لپاره چې دغه خوځښتونه رامنځته شوي وو .

کله چې د طالبانو اسلامي تحریک راپیل شو که څه هم په پیل کې د اسلامي مبارزو ځینو سیالو خوځښتونو ورته په حقارت کتل او هغوی یې د یوه موسمي او نامنظم خوځښت په حیث تعریفول، اما د وخت په تیریدو ثابته شوه چې د دین

کارونه ډیر ځله تر قابلیت نه بلکې تر مقبولیت پورې اړه لري .په اسلامپالو مبارزو کې ظاهري ساخت و ساز دومره اغیزناک نه وي لکه اسلام او اسلامي اهدافو ته اخلاص او وفاداري چې د الله تعالی د نصرت او مؤمنانو د تائید سبب ګرځي.

اسلامي امارت له پېریو وروسته یو ځل بیا د اسلامي حاکمیت لویدلی بیرغ راهسک کړ . پرته له اوږدو مقدماتو او سازماني سابقې یې نړۍ ته د اسلام د سیاسي اقتدار نغده بیلګه وړاندې کړه .د امیر المؤمنین، شریعت، اسلامي عدالت، حدود، قصاص، امر بالمعروف و نهی عن المنکر او اسلامي واکمنۍ نور هیر شوي مفاهیم یې راژوندي او عملي کړل .د الله تعالی پر څمکه یې د الله تعالی نظام تطبیق کړ .او هغه باور یې غلط ثابت کړ چې په دې زمانه کې اسلامي نظام نه شي تطبیق کیدلای .

دا چې اسلامي مبارزې همیشه له ابتلاوو او ازمونونو سره مخامخ کیږي اسلامي امارت د نړیوال صلیبي یرغل له ابتلاء سره مخامخ شو .ټوله کفري نړۍ او ورسره د اسلامي هیوادونو ځینې نامرده واکمن د یوه پراخ یرغلیز اشر په لړ کې په افغانستان راغلل .خپل ټول جنګي توان، تبلیغاتي امکانات او استخباراتي دسیسې یې په کار واچولې تر څو د اسلامي حاکمیت هغه ډیوه مړه کړي چې وروسته له پېریو یې مسلمانانو ته د بیدارۍ یو نوی احساس ورکاوه.

د اسلام دښمنانو خپل ټول توان وکاراوه .له زر، زور، تزویر او حتی زاریو پورې یې هیڅ وسله او وسیله پرې نه ښوده .خو اسلامي امارت د دښمن د دې پراخ تهاجم په وړاندې په خورا لوړه حوصله او متانت د اوږدې او صبر ازمویونکې مبارزې لاره ونیوله .

اسلامي امارت خپل مؤمن ولس له ځان سره وساته، ورسره یې د زمان او مکان اړتیاوو ته په پام سره ددیني علم او فقهې په رڼا کې د مقدس جهاد او څو اړخیزې مبارزې داسې لاره غوره کړه .چې بالاخره دا دی وینو چې هم یې په نظامي ډګر کې د ناټو په شان یو لوی یرغلګر د شکست په ژۍ درولی دی او هم یې په سیاسي برخه کې د یوه الهام بښونکي جهادي ـ سیاسي خوځښت په حیث د عالم اسلام او اسلامي حرکاتو لپاره د بیلګې او ایډیال موقف د ځان کړی دی.

دا څو ورځې وړاندې چې د قطر په دوحه کې د اسلامي امارت استازي له خورا ویاړمن موقف سره په نړیوال سټیج د امریکایي زبرځواک غونډې له لوی طاقت سره د سیال اړخ په حیث مخامخ او د مایک پمپیو تر څنګ د ملا برادر اخند انځور رسنیز شو .که تاسو په سوشل میډیا کې د اسلامي نړۍ د بیلابیلو پرګنو اظهاراتو او تأثرات لیدلي وای نو ایله به درمعلومه شوې وای چې د شرق او غرب مسلمانان اسلامي امارت ته په کوم عقیدت قائل دي او مبارزه یې په څومره درنو کاڼو تلي.

د اسلامي نړۍ له شرق او غرب څخه اسلامپالو فعالانو د اسلامي امارت په اړه په دې د نظر اتفاق درلود چې دغه صف د دې عصر تقریبا یوازینی صف دی چې د خپلې مخلصانه، مدبرانه او عقلمندانه مبارزې په پایله کې بالاخره خپل هدف ته رسیدونکی دی .د دوی په باور د اسلامي حاکمیت لپاره دنړۍ په ګوټ ګوټ کې بیلابیلې مبارزې شوې او لا هم روانې دي .خو په دې مبارزینو کې اسلامي امارت ځکه تر ټولو سرلوړی او بریالی دی چې هم یې

اشغالګر ځواکونه په نظامي ډګر کې مات کړي او يو ځل بيا يې د في سبيل الله جهاد په برکت مسلمانانو ته د اتلولۍ احساس ورکړی دی .دغه راز یې په سیاسي ډګر کې هم ځان د یوه انکارناپذیر حقیقت په حیث ثابت کړی دی .اسلامي امارت د دې په ځای چې له حالاتو سره ځان بدل کړي، د سیمې او نړۍ هیوادونو یې دې ته اړ کړي چې د اسلامي امارت په اړه خپل نظر بدل، په خپلو پالیسو له سره کتنه وکړي او له خپلو هغو مواقفو شاتګ وکړي چې پخوا یې د اسلامي امارت په وړاندې اعلان کړي وو .

دا چې اسلامي امارت د یوه جهادي صف په حیث څرنګه د بریا منزل لنډ کړ، اصلي سبب خو یې د الله تعالی نصرت دی چې اسلامي امارت ته یې په خارق العاده ډول د نړۍ د خورا ستر زبرځواک په وړاندې د پایښت، مقاومت او بالاخره بریا توان ورنصیب کړ .که د ظاهري اسبابو اړخ یې وګوره عمده وجوهات یې دا دي چې اول خو د اسلامي امارت کړنلاره د کوم شخصي فکر یا ځاني اجتهاد په اساس نه بلکې د اسلامي علم، حنفي فقهې او د امت د یونیم زر کلنې علمي ذخیرې په اصولو استواره ده .دلته مسائلو ته د کوم فکري مکتب یا معاصر اجتهاد له عینکو نه بلکې د دیني علم د درنو او مؤثقو منابعو له زاویې کتل کیږي او په همدې اساس ورسره تعامل کیږي.

بله دا چې اسلامي امارت خپل ولس او ولسي ارزښتونو ته هم په درنه کتلي .اسلامي امارت په افغان ولس کوم پردی او وارداتي فکر نه دی تحمیل کړی .د ولس سره یې ګډه ژبه موندلې، د خپل مؤمن ولس اعتماد یې خپل کړی او ولس یې د جهادي صف تر شا د یوه کومکي او ریزرف ځواک په حیث بسیج ساتلی.

که مو پام وي د وروستیو لسیزو زیاتره جهادي خوځښتونه په بې ځایه ټکرونو کې کمزوري او له منځه لاړل . اسلامي امارت د مبارزې په تاریخ کې همیشه خپل مشخص هدف ته متعهد او ځیر پاته شوی .له مسائلو سره یې د اولویت بندي په اساس چلند کړی .خپل ځواک یې منسجم، متحد او په ټاکلو اهدافو مرکوز ساتلی دی .

اسلامي امارت د جوش او هوش تر منځ بیلانس تل رعایت کړی دی .مصلحت چې د اسلام یو ستر باب دی په خپل ځای یې لازمه استفاده ترې کړې .خو په مصلحت اندیشي کې تر هغه حده نه دی اخته شوی چې خبره انحراف ته ووځي .

د اسلامي امارت مبارزه چې په خورا اغزنه لار یې بریمن سفر جاري ساتلی په دې ارزي چې په خورا دقیق ډول مطالعه شي. د اسلامي نړۍ په کچه اسلامي خوځښتونه په خاص ډول د تحقیق او مطالعاتو مراکز باید په دې اړه پوره څیړنې وکړي .تر څو د دې اسلامي صف د بریا رازونه را څرګند او مسلمانانو ته تعریف کړي.

له شک پرته د اسلامي امارت مبارزه د دې وړ ده چې د اسلامپالو مبارزو لپاره د لارې مشال او یوه غوره بیلګه شي . راتلونکي نسلونه کولای شي په همدې پلونو د مبارزو سختې لارې ووهي او بالاخره د بریا تر منزل ځانونه ورسوي.

□□□

بین الافغاني مذاکرات

او دکابل واکمنانو زهرجن اظهارات

حسن مومند

انسانان ټول په فطري لحاظ ازادي خوښونکي دي خو په سم قدر یې هغه خلک زیات پوهېږي چې داشغال اوقبضو ناخوالې یې لیدلی وي؛ دازادۍ دترلاسه کولو لپاره یې هڅې کړې وي؛ تحریکونه یې چلولي وي او پدې لار کې یې قربانۍ ورکړې وي.

دتاریخ په اوږدو کې دافغانستان د اشغال په موخه دنړۍ سترو زبرځواکونو پدې خاوره ډېر یرغلونه کړیدي چې افغانانو یې په مقابل کې تل سخت مقاومت ښکاره کړیدی؛ دلویو قربانیو په بدل کې یې هر غاصب قوت ته ماتې ورکړیده او په شایې تمبولی دی نوځکه افغانان د ازادۍ په قدر ډېر ښه پوهېږي اوپرې زیات خوشالېږي.

د امریکا په مشرۍ کې د انساني تاریخ تر ټولو ستر نظامي اتحاد چې په ۲۰۰۱م کال ټول افغانستان اشغال کړ نو پرې د مسلمان مجاهد اوپر ازادۍ مین افغان ملت غم او درد پرځای و خو دا مجاهد ملت نه ناهیلی و او نه د دې ستر زبرځواک دمادي اسبابو نه مرعوب و نو یې په خالي لاسونو دنړۍ ددې ستر مادي طاقت مقابلې ته را ودانګل.

ربښتیا دا ده چې زموږ خوښي له هماغه وخت نه پیل؛ هیلې مو را ژوندۍ او ځانونه مو کامیاب وګڼل چې مو دعمل په میدان کې د دښمن سره مقابله پیل او د جهاد دمقدسې فریضې نه د کېناستو او وروسته کېدو له ګناه نه الله تعالی وساتلو؛ هغه ګناه چې ورسره ډېر لوی تاوانونه تړلي دي.

امیر المؤمنین او دجهاد نورمشران دنړۍ ددې ستر عسکري اتحاد دپرمختللوطیارو، توغندو، عصري وسلو، حربي وسایلو او ښو ډېرو مادیاتو نه غافل نه وو؛ له دې هر څه خبر وو او پدې ښه پوهېدل چې داسلامي امارت مادي طاقت هیڅ ددې سترزبر ځواک سره دپرتله کېدو نه دی خو موږ ته دا یوه خبره هم نه رامخې ته کېده؛ بس که رامخې ته کېده نو هغه یواځې دا خبره چې اشغالګرو مو هېواد قبضه کړی؛ نظام یې را ړنګ کړی په زرونوخلک یې شهیدان کړي او زندانو ته بوتللي دي نو جهاد راباندې فرض دی.

ددې جهاد نتیجه به څه وي؟ جهاد به کامیاب؛ اهداف به ترلاسه؛ دښمن به مات او اشغال به پای ته ورسېږي، که نه ؟

دا داسې پوښتنې وې چې په جواب یې موږ ځانونه مکلف نه ګڼل.

موږ دجهاد په پاک عمل ځانونه مکلف ګڼل نه یې په نتایجو.

هو! موږ دنتایجو په هکله مکلف نه وو خو دا مویقین و چې جهاد به مو کامیابېږي او دښمن به شکست خوري ؛ دا زموږ د درویش امیر المؤمنین دخولې ګفت او دهر مجاهد دزړه اواز و.

دمسلمانانو دامېدونو سره سم الله تعالی پدې سپیڅلي جهاد اودې جهاد کې ورکړل شویو سترو قربانیو باندې نتایج مرتب کړل؛ مجاهدین دهرې ورځې په تېرېدو قوي شول او پر

دښمن د قوي ګوزارونو له امله د هرې نه بلې ورځې ته د دښمن دشکست یقین په زیاتېدو شو تر دې چې هغه وخت هم راغلو چې ښه برملا امریکا او اتحادیانو یې خپل شکست ومانه او په ابرومندانه ډول د افغانستان نه د وتلو لپاره یې د اسلامي امارت نه دمذاکراتو غوښتنه وکړه.

د دښمن له لورې سولې ته دمایل کېدلو پرمهال سولې ته میلان ښکاره کول د الله تعالی حکم دی نو ځکه اسلامي امارت دامریکا دا غوښتنه رد نکړه بلکې د خپلمنځي ښو ډېرو مشورونه پس یې په عملي ډول دامریکا سره مخامخ دکېناستلو او عملاً دمذاکراتو کولو پرېکړه وکړه.

نړۍ ګومان کاوه چې دامریکا تجربه کار، لوبېدلي پاخه دیپلوماتان به په ډېرې اسانۍ طالب مشران وغولوي او دخپلوغوښتنو نه به یې تېر کړي خودطالب مشرانو سره چې دالله تعالی مرسته وه اوپه ښه نیت او پاکه اراده یې مذاکرات کول نو همدا تجربه کار امریکایي دیپلوماتان دې علماءو کابو ۱۸ میاشتې په مذاکراتو کې مصروف وساتل او څه یې چې ترې غوښتل هغه ټول یې پرې ومنل؛ لس، شل نه بلکې خپل پوره ۵ زره قیدیان یې پرې را ازاد کړل اوامریکا دخپلو ځواکونو ویستلوته په غاړه ایښودو داسلامي امارت سره دهوکړه لیک امضاء کولو اراده هم څرګنده کړه.

دیاد هوکړه لیک لپاره دټاکل شوې نیټې له راتګ وړاندې په کورنیواو نړیوالو رسنیوکې په دې اړه په ښه زوراوشورسره بحثونه اوتبصرې روانې وې، له ځینو سره داباور هیڅ نه و،چې اسلامي امارت دې دکړو ژمنو سره سم په دې وتوانیږي چې دیادې نیټې له راتلو وړاندې دې دبااعتماده چاپیریال برابرولوپه ترڅ کې ټول هېواد کې اورکم پلي کړي شي خو چې کله دعمل میدان راغلو نوبیا ډېرژردهغوئ دغه دناباورۍ خطا ثابته شوه،نړیوالواوافغان ولس ته جوته شوه چې په دې امتحاني اوونۍ کې په ټول هېواد کې داسلامي امارت دحکم نه یوه وړه سرغړونه هم ثبت نشوه. دافغانستان داسلامي امارت په دومره پراخ تسلط، عملي نفوذ اوبشپړ حاکمیت دوستان او دښمنان دواړه حیران وو، هغوئ په لومړي ځل ومنله چې دامارت قیادت پخپلوجهادي اوسیاسي صفونو بشپړکنترول اوپوره واک لري

څومره چې دکب لسمه مه را نږدې کېده، ورسره دنړیوالو دحیرانتیاووترڅنګ پر امارت د باورسلنه هم ډېرېده؛ د زیاترو سیاسي کارپوهانو خیالي اندیښنې، بې بصیرته وړاندوینې اوخطاانګیرنې ناسمې ختې،خو بیا هم د ډېروغرضو اشخاصو،شیطاني کړیو، دقدرت مینانو، دمادیاتو وګو اودچوکیو مجنونانوپر افغان ولس ددغې سترې بریا لیدل پیرزو نه و، هغوی پخپل ټول وس هڅه وکړه څو افغانان له دغه تاریخي شیبو لیدلو محروم کړي

خو داچې دافغان ولس دنیکمرغیو ډډک روښانه سبا راختل حتمي و،هیڅوک یې دراختوپه وړاندې مانع کېدای نشول،نو هماغه و چې دروان ۱۳۹۸ ل کال دکب میاشتې په ۱۰مه چې د۲۰۲۰ز دفرورۍ ۲۹ مې نیټې سره سمون خوري دنړۍ په تاریخ کې دافغانستان اوافغانانو لویه ویاړنه او کارنامه ثبت شوه

او دامریکایي ځواکونو دوتلو او اشغال دپای ته رسېدو تاریخي تړون رامنځته شو.

ددې تړون درامنځته کېدو نه لس ورځې پس باید پنځه زره بندیان ازاد او بین الافغاني مذاکرات رامنځته شوي وای خو دکابل پر واک ناستو دقدرت مینانو دبندیانو د ازادۍ پر وړاندې خنډونه رامنځته او دا پروسه یې د ډېر ځنډ سره مخامخ کړه؛ دوئ ددې پروسې دناکامولو ډېرې هڅې وکړې خو داسلامي امارت ژمنتیا؛ د ولس شدیدې غوښتنې او دبهر فشار له امله ددوئ له لورې دبین الافغاني مذاکراتو پر وړاندې رامنځته کړي خنډونه له منځه ولاړل او بین الافغاني مذاکرات پیل شول چې دا د ولس لپاره د ډېرې سترې خوښۍ باعث وګرځېد اوهیلې یې پیداشوې چې د افغانستان ځلوښت کلنه جګړه به ختمه او هېواد ته به سوله او ارامي راشي.

خو داشرف غني اداري مشران چې خپل واک او مادي ګټې يوائې دځګړې په دوام کې ويني نو لا هم ددې پروسې دناکامولو هڅې کوي چې د اشرف غني د دوه معاونانو سرور دانش او امرالله صالح دتعصب نه ډکې جنګ ته لمن وهونکې تازه څرګندونې يې ښکاره دليل دی.

خواشرف غني او د کابل اداري نور مشران دې پدې پوه شي چې نور په بربنډو دروغو ولس نه شي غولولی او نه يې ورته دسيسې کومه ګټه رسولای شي؛ نه به پدې چال د ډيرې مودې لپاره په قدرت کې پاتې شي او نه به بهرنی نړۍ ورته کوم ارزښت ورکړي.

په هېواد کې سوله او امن راتلل حتمي دي ان شاء الله، سوله شايد وځنډېږي خوځوغلامان يې دخپل قدرت دبقا لپاره مخه نه شي نيولای.

دوئ چې دخپلو مادي ګټو لپاره ولس ته دقبضې دوام او ورسره ترلي لوی تاوانونه غواړي نو ورسره د ولس نفرت هم اوس اوج ته رسېدلی او داسلامی امارت محبوبيت په بې ساري ډول زيات شوی.

په ولس کې داسلامي امارت همدا محبوبيت اودعسکري قوت وسعت يې پرکابل اداري ورځ تربلې حلقه راتنګوي؛ په په نړيوالو رسنيو کې نشر شوي دا راپورونه به محترمو لوستوالو اورېدلي وي چې دکابل ټولې غاړې مورګې داسلامي امارت مجاهدينو نيولي دي چې ورسره دکابل اداري حالت ورځ تربلې بدترېږي.

امريکا اومتحدين يې چې په خپل ټول قوت خپلو استعماري اهدافو ته ونه رسېدل او ددوحې تړون لاسليک ته اړ شول ؛ دهغوئ دنه شتون په صورت کې به يې دلته غلامه اداره څرنګه دولس له ارادې خلاف په خپل نامشروع قدرت کې پاتې شي اوپه هېواد کې به دسولې اواسلامي نظام دراتلو مخه ونيسي؟

مور پدې ډېر ښه پوهېږو چې دکابل اداري نور په تمامه معنی اعتبار له لاسه ورکړيدی او د فوځي ځواک مورال يې دومره لويدلی دی چې نوريې دمجاهدينو په مقابل کې دمخامخ جنګ کولو توانمندي په کلي ډول له لاسه ورکړيده.

بل لورته دفاتحو مجاهدينو مورال ډېر قوي دی.

ننی پراخ سيمه ايز او نړيوال تحليل همدادی چې که دکابل اداري واکمنان روان سياسی اونظامي وضعيت سم درک نکړي ؛په سوله ايزه توګه دمسئلې حل ته خپله ژمنتيا ښکاره نکړي؛ اوسنی فرصت ضايع کړي نويقيني ده چې دسترې رسوايی سره به مخامخ شي.

د افغانستان اسلامي امارت پیاوړی جهادي شخصیت

او د رهبرۍ شورا غړی محترم

ملا تاج میر جواد صاحب!

د افغانستان اسلامي امارت خپلواک دی، د سولې او جنګ په څیر ټولې مهمې پریکړې په خپله کوي، د هیچا تر فشار لاندې نه دی، نه یې د چا فشار ته تر اوسه پورې غاړه ایښې ده.

لومړۍ پوښتنه: تاسې په جریان کې یئ چې د قطر په مرکز دوحه کې بین الافغاني مذاکرات پیل او روان دي، تازه جریان که راته ووایاست چې په کومو پړاوونو کې قرار لري؟

ځواب:

بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله والصلاة والسلام علی رسول الله و علی من تبعهم و من والاهم و بعد:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

اولاً :د څرک د مجلې مدیره هیئت، ټولو کارکوونکو، مینوالو، خپل مجاهد ولس، د سنګر اتلو مجاهدینو، استشهادیانو او خپلو هغو ملګرو او دوستانو ته چې له ډیرې مودې راپدیخوا لیرې سره پاتې شوي یو، نیکې هیلې، سلامونه او احترامات تقدیموم، الله جل جلاله د وکړي چې ټول به روغ، جوړ او په خپلو شرعي امورو کې به بریالي یاست .

ثانیاً :هغه غم ځپلو کورنیو ته چې په دې وروستیو کې د امریکایانو او د دوی د ګوډاګیانو په بریدونو کې یې شهیدان ورکړي دي او یا یې د حق په لاره کې اتلو فرزندانو د شهادت جام نوش کړی دی او یا یې استشهادي اتلوال بریدونه ترسره کړي دي د تعزیت او تسلیت مراتب وړاندې کوم، الله جل جلاله دې د دوی شهادتونه په خپل دربار کې قبول کړي، الله جل جلاله د یې په جنتونو کې په عالیه مقامونو باندې ونازوي او الله جل جلاله د تاسو ته صبر جمیل، اجر عظیم او نعم البدل درپه برخه کړي، الله جل جلاله دې د حق په لاره کې ټولو زخمي شوو مجاهدینو ته عاجله او کامله شفاء ورپه نصیب کړي.

ثالثاً :باید عرض کړم چې د تاریخ او روان سپیڅلي جهاد په دې حساسه مرحله کې د افغانستان د مجاهد ولس د ریښتیني آواز د انعکاس په برخه کې د څرک د مجلې خدمتونه واقعاً د زیات قدر او ستایلو وړ دي، الله جل جلاله د په دې برخه کې د لا مزیدو خدمتونو توفیق ورپه برخه کړي.

اوس راځم ستاسو د پوښتنې ځواب ته :

تر دې دمه چې زه ستاسو مرکه ځوابوم په دوحه کې د دواړو لورو د مذاکراتي ټیمونو بحثونه د مذاکراتو لپاره په کړنلارې راټول دي، په ډیرو مواردو توافق صورت نیولی دی او تمه ده چې په پاتې مواردو به هم توافق رامنځته شي، بیا به

بحثونه د اجنډا په ټاکلو پیل کیږي او وروسته به اصلي مذاکراتو ته داخلیږو.

دوهمه پوښتنه :آیا واقعاً هم اسلامي امارت غواړي چې د خبرو او مذاکراتو په نتیجه کې هیواد ته امن او سلامتي راولي ، دا د اسلامي امارت آرزو ده که کوم بهرنی فشار؟

ځواب: د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریک چې د جهاد او مبارزې په پایله کې یې اسلامي امارت رامنځته شو، په هیواد کې د ربښتیني امن او سولې لپاره د ولس ربښتینی غږ او غبرګون ؤ او د سولې او امن له پیغام سره یې خپل خوځښت پیل کړ؛ په هغه وخت کې یې د هغه انارشیزم او شر او فساد پر خلاف جهاد او مبارزه وکړه، کوم چې د افغانانو سوله او امن اختناق کړی ؤ؛ اوس هم زموږ جهاد او مبارزه د هغو عواملو د له منځه وړلو لپاره ده کومو چې له افغانانو څخه ربښتینی استقلال یرغمل کړی دی، ربښتینې سوله او ربښتینی امن یې تري تروړلی دی، هغه که زموږ جهادي مبارزه ده او که د نبوي شرعي سیاست په مبادي ؤ او اصولو ولاړه سیاسي مبارزه ده .

د افغانستان اسلامي امارت خپلواک دی، د سولې او جنګ په څیر ټولې مهمې پریکړې په خپله کوي، د هیچا تر فشار لاندې نه دی، نه یې د چا فشار ته تر اوسه پورې غاړه ایښې ده، په دې برخه کې یې خپل ولس ته مکرر امتحان ورکړی دی، د افغانستان د اسلامي امارت یوه تر ټولو ستره آرزو په سوله، امن او سوکالۍ کې د افغانانو اوسیدا او ژوند دی.

دریمه پوښتنه :د کابل ادارې ته منسوب مذاکراتي ټیم وایي چې زمونږ سرې کرښې جمهوریت، دیموکراسي، د ښځو حقوق او د بیان آزادي ده، ستاسو له نظره اسلامي امارت څومره چمتو دی چې په دغسې کرښو له هغوی سره بحث او مجادله وکړي؟

ځواب: زموږ په نظر که تر هر نامه لاندې وي باید په هغه پردي فرهنګ، باورونو او مفکورو ټینګار ونشي چې په تیره یوه پیړۍ کې یې افغانانو په مقابل کې مبارزه کړې ده لکه کمونیزم او سیکولریزم او ځینې نور باطل افکار.

اصلاً په افغانستان کې د روان جنګ یو تر ټولو ستر عامل دا دی چې په افغانانو باندې د پردي فرهنګ، پردیو باورونو او پردیو مفکورو د تحمیل جبري هڅې کیږي، کورني او بهرني اړخونه پکې ښکیل دي او په مکرر ډول دغه تحمیل تجربه کیږي.

د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان لپاره سوچه اسلامي نظام غواړي او یوازې یو سوچه اسلامي نظام کولای شي چې د انسانانو تر منځ اجتماعي اړیکې په ښه توګه تنظیم کړي او انسان د دې جوګه کړي چې د خپل خلقت مقصود وپیژني، تعقیب یې کړي، د ځمکې پر مخ د الله جل جلاله له لوري ورسپارل شوې دندې په ښه توګه سمبال کړي؛ فرد او ټولنه دواړه په یو بل له ظلم او تیري څخه راوګرځوي او په دې توګه تر خپل منځ ستونزې حل کړي.

همدغه راز په اسلامي نظام کې د یو لړ اصولو او شرایطو له مخې د ټولنې هر وګړی د بیان د آزادۍ حق لري او دا اصول او شرایط یوازې د دې لپاره دي چې د بیان آزادي یوازې د حق د اظهار او د خپلو حقوقو د اعادې او استحصال لپاره وګرځي او د یو مسلمان د عقیدې، شخصیت او حیثیت د سپکاوي د یوې وسیلې په توګه کار ترې وانخیستل شي، همدغه راز کوم حقوق چې ښځو ته اسلام ورکړي دي؛ که د هغو په رڼا کې په وضعي قوانینو کې د ښځو حقوق تر مطالعې لاندې ونیسو دې پایلې ته رسیږو چې دا حقوق نه دي؛ بلکه د ښځو په حقوقو تیری دی؛ ځکه ښځې په ټولنه کې د خپلې اصلي دندې څخه منحرفوي او د نرانو یوه ملعوبه یې ګرځوي او بس .

څلورمه پوښتنه : د کابل ادارې مشر، چارواکي او پلویان یې تل خپل نظام او اساسي قانون د سیمې په کچه زیات اسلامي ګڼي؛ نو تاسو ولې په اصطلاح د دوی اسلامي جمهوري نظام، اسلامي نظام نه ګڼئ؟

ځواب :اسلامي شریعت د اسلامي نظام لپاره یو لړ مبادئ او اصول لري چې مهم یې دا دي : الله جل جلاله ته د حاکمیت اعلی مختص کول، اسلامي شریعت د تقنین د

يوازيني مصدر يا مأخذ په توګه منل او د اسلامي شريعت سره په ټکر کې د هيڅ قانون نه تسليمول .

کله چې يو نظام په دې مبادیو او اصولو استوار وي د سپيڅلي اسلامي شريعت له مخې اسلامي نظام ګڼل کېدای شي او کوم اساسي قانون چې د دې مبادیو او اصولو بشپړ رعايت ته ژمن وي، اسلامي قانون بلل کېدای شي، د کابل د ادارې په اساسي قانون کې حاکميت اعلی، الله جل جلاله ته نه دی مختص شوی؛ بلکه د ولس حق ګڼل شوی دی، د دې قانون د لومړي فصل په څلورمه ماده کې په صراحت سره دا مطلب ذکر شوی دی .همدغه راز د تقنين په مصدريت او مأخذ کې له اسلام سره وضعي قوانين شريک کړای شوي دي او اسلام د تقنين د يوازيني مصدر په توګه نه دی پکې منل شوی او دا موضوع د بن په تړون کې (چې د کابل د ادارې د اساسي قانون اساس دی) په صراحت سره راغلې ده، دې ته ورته په اوومه ماده کې د بين المللي قوانينو او اعلاميو د مطلق او له کوم قيد او شرط څخه پرته د رعايت ژمنه شوې ده، حال دا چې په ځينو اعلاميو کې د ارتداد په څېر عمل مشروع بلل شوی دی او هر څوک پکې اجازه لري چې خپل دين بدل کړي؛ نو پايله دا شوه چې د دوی په قانون کې ارتداد مشروعيت لري او له کابل څخه د ځينو مرتدينو مصئون خروج د همدې مادې پر بناء ؤ، دا يې يوه بيلګه وه دې ته ورته نور ډېر موارد په نړيوالو تړونونو، قوانينو او اعلاميو کې شته چې دوی يې په خپل اساسي قانون کې بغير له قيد او شرط څخه د رعايت ژمنه ترسره کړې ده .

همدغه راز د نظام په مبادیو او اصولو کې چې کوم مواصفات د زعامت لپاره ټاکل شوي دي، له هغه صفاتو څخه يې ډېر د کابل د ادارې په اساسي قانون کې شتون نلري او نه يې زعامت هغه مواصفات لري، د کابل د ادارې په اساسي قانون کې تاسو هيڅ ځای هم د اسلامي شريعت کلمه نه شئ پيدا کولی، دوی هر ځای تنها اسلام ياد کړی دی، اسلام د دوی په نزد خاص تفسير او تعبير لري او يوازې يې په روح، عقل، ضمير او اخلاقو پورې منحصر ګڼي، د کابل د ادارې په اساسي قانون کې (۱، ۲، ۳، ۳۵، ۴۵، ۵۴ او ۶۳) مادې چې د اسلام په اړه راغلې دي، چې دوی او د دوی علماء سوء ډېر حساب پرې کوي، دا ټول په اساسي قانون کې د اسلام په اړه زينتي مواد دي، عبارتونه يې پيچلي، پوښلي او محتمل دي او په دې مادو کې يوه ماده هم د هغه مبادیو او اصولو په باره کې نه ده راغلې او نه يې مفهوم افاده کوي چې اسلامي شريعت د اسلامي نظام لپاره ټاکلي دي.

سربيره پر دې د کابل اداره د اشغال په سيوري کې رامنځته شوې ده، د داسې اعمالو مرتکبه ده چې په اساس يې اسلامي شريعت له دوی سره جهاد او د دوی قتل واجب ګڼي، د افغانستان په پاکه ځمکه کې يې د فتنې، فساد او فحشاء خپراوي ته زمينه برابره کړې ده، د مسلمانانو وينه مباح ګڼي، هر ځای د مسلمانانو پر ضد د کفارو مرسته او د کفارو امنيت د خپلو امنيتي او دفاعي قواؤ مسؤليت ګڼي او وياړ پرې کوي، بناءً داسې يو نظام ته هيڅکله هم اسلامي نظام نشي ويل کېدای او نه يې قانون اسلامي قانون ګڼل کېدای شي .د کابل د ادارې مشر، چارواکي او پلويان چې د خپل نظام د قانون د اسلامي توب په اړه کومې څرګندونې، ادعاوې او تبليغات کوي دا يوازې د عامه ذهنيت د مغشوشولو، د شکونو د ايجاد او د ولس د تير باسلو لپاره کوي .

پنځمه پوښتنه : د کابل د ادارې مشران تل په خپلو بيانيو کې ټينګار کوي چې مونږ به هيڅکله سابق ته ور ونه ګرځو ، يا (بازګشت به سابق) د منلو نه دی، معنی دا چې مونږ اسلامي امارت نه غواړو او نه پخوانيو زمانو ته ورګرځو ، د حاضر عصر له غوښتنو سره سم به نظام جوړوو او خپلې اتلس کلنې لاسته راوړنې به ساتو او دا لاسته راوړنې د يوې سرې کرښې په توګه تلقي کوي، که لطفاً د اسلامي امارت دريځ په دې هکله راته بيان کړئ؟

ځواب: که (بازګشت به سابق) په دې معنی وي چې د عصر له ساينسي او علمي پرمختګ څخه دې استفاده ترک شي، د دې مونږ هم مخالف يو او داسې (بازګشت به سابق) نه غواړو او که له (بازګشت به سابق) څخه هدف د هغو الهي لارښونو ترک وي چې لوی الله جل جلاله څوارلس

سوه کاله دمخه د انسانانو د اجتماعي اړیکو د تنظیم، د انسان د خلقت د مقصد او د ځمکې پر مخ د الله له لوري انسان ته د سپارل شوې دندې د سمبالښت لپاره

رالیږلې دي؛ نو موږ د داسې) بازګشت به سابق (طرفدار یو او دا زموږ د ایمان او عقیدې برخه ده.

موږ کله هم دا الهي لارښوونې د دیموکراسي په څیر په هغو عقلي مفکورو نه شو تبدیلولای چې د عقل د محدودې دایرې په اساس اختراع شوې دي، که د یو چا عقل د الله جل جلاله د لارښوونو حکمت ته نه شي رسیدلای دا دې ده د عقل کمزوري ده؛ نه د الله جل جلاله د سپېڅلو لارښوونو.

تاسې وګورئ !د انسانانو د اجتماعي اړیکو د تنظیم، د انسان د خلقت د مقصد او د ځمکې پر مخ د انسان د دندې د نوعیت او سمبالښت په اړه د عقل لارښوونې کله هم ثابتې نه و ، هروخت د تغیر په حالت کې وي او دا تغیر هر وخت په کوم منطق نه وي ولاړ؛ بلکه د هوا او هوس تابع وي.

پاتې شوه د اتلس کلنو لاسته راوړنو خبره !کومې اتلس کلنې لاسته راوړنې چې دوی یادوي دا باید د اسلامي شریعت په اساس تفکیک شي، کومې چې د فتنې، فساد او فحشاء په زمره کې راځي موږ په کلکه دا مستردوو او مسترد به يې کړو او زموږ په اسلامي ټولنه کې چې کوم ویجاړې د دې له امله رامنځته شوې دی په ټول توان به د دې ویجاړې د ازالې کوشش وکړو؛ البته هر هغه څه چې د عصر له ساینسي او علمي پرمختګونو څخه واقعي استفاده ګڼل کیږي، زموږ د ټولنې له مصالحو څخه وي او له سپیڅلي اسلامي شریعت سره په ټکر کې نه وي هغه به لا تائید او تشویق کړو .

شپږمه پوښتنه: ځینې خلک دا پوښتنه کوي چې طالبان په افغانستان کې څه ډول اسلامي نظام غواړي؟ د پاکستان په څېر؟ د ایران په څېر؟ د مصر په څېر؟ د سعودي په څېر ؟ او دوی دا هم وايي چې د اسلامي نظام یوه واحده بڼه نشته؛ نو که لطفاً دا راته ووایاست چې تاسو کوم ډول نظام غواړئ؟

ځواب: د اسلامي شریعت له مخې اسلامي نظام خپل تعریف، خپل مبادئ او اصول او خپل ډولونه لري، موږ په اسلامي نړۍ کې موجود نظامونه د اسلامي شریعت په رڼا کې مطالعه کوو او موږ د اشخاصو، ډلو او هیوادونو د سلیقو او افکارو له مخې د نظام نوعیت نه ورانډې کوو؛ بلکه د اسلامي شریعت د لارښوونو له مخې د نظام غوره ډول د خپل هیواد او خپل ولس له مصالحو څخه ګڼو، پاتې دې نه وي چې دا ډول پوښتنې څوک مطرح کوي هغوی د نظام په اړه د اسلامي شریعت له لارښوونو څخه یا ناخبره دي او یا زموږ مسلمان ولس ته د اسلامي نظام په اړه د شکونو د ایجاد په هدف دا پوښتنې مطرح کوي او د یو ډول تلبیس په هڅه کې دي.

اوومه پوښتنه: د کابل د ادارې چارواکي په خپلو څرګندونو کې د افغانستان اسلامي امارت له مخکینیو شاهي سلطنتونو سره پرتله کوي او ادعاء کوي چې د اسلامي امارت پر مهال افغانستان د یوې هدیرې مثال درلود، نه خلکو آزادي پکې لرله او نه له حقوقو څخه برخمن وو، تاسو دوی ته څه ځواب لرئ؟

ځواب: اسلامي امارت د یو واقعي اسلامي نظام ممثل ؤ، زعامت یې د جیدو دیني علماء کرامو له لوري ټاکل شوی ؤ او ټاکل کیږي، مقتدره د رهبري شورې یې درلودله او لري یې چې غړي یې د اهل حل او عقد له صفاتو او صلاحیتونو څخه برخمن دي، د زعامت په اړه تصمیم نیسي او اهلیت ته

په کتو د هیواد د هرې برخې وګړي پکې موجود دي .د زعامت ټولې ټاکنې هغه صفاتو ته په کتو ترسره کیږي چې په یو اسلامي نظام کې یې باید یو زعیم ولري، د مشروعیت اساسي سرچینې یې شریعت او شوری وه او ده، د اسلامي شریعت له مخې د نظام لپاره په ټاکل شوو مبادیو او اصولو ولاړ ؤ او ولاړ دی، سوچه اسلامي دستور یې تدوین کړی ؤ چې تر توشیح پورې د امریکایي اشغالګرو د حملې له وجهې ونه رسیده.

ریاست الوزراء او کابینه یې درلودله چې د یو حکومت ممثله وه چې خپل ولس ته یې ټول اړین خدمات سرته رسول، رئیس، مرستیالان، د کابینې وزیران او والیان د اهلیت پر بناء ټاکل کیدل، په منظم او نا منظم ډول یې په پراخه کچه له ولس سره د دوی د) نماینده ګانو ، قومي مشرانو او جهادي شخصیتونو (په توسط د مرکز، ولایتونو، ولسوالیو او قریو په کچه تماس او مشورې درلودلې .په هر ولایت کې یې د جیدو دیني علماء کرامو یوه شوری تشکیل کړې وه چې د ولایتونو چارې یې له نیږدې څخه څارلې، فیصلې په شرعي محاکمو کې ترسره کیدلې، د سمع شکایاتو کمیسیون به ولایت په ولایت او ولسوالۍ په ولسوالۍ ګرځیده، د مسؤلینو په اړه به یې د ولس شکایتونه اوریدل او د اسلامي شریعت په رڼا کې به یې په هکله فیصلې کولې.

په خپله مرحوم عالیقدر امیرالمؤمنین له ولس سره د امارتي مسؤلینو د تعامل د څار یو ځانګړی مخفي سیستم درلود چې قاصدان به یې په ولس کې ګرځیدل او د چا به چې چارې د اسلامي شریعت او مسلک سره برابرې نه وې په اړه به یې د اسلامي شریعت له مخې فیصله کوله، په تعلیمي او اقتصادي برخو کې خلکو ته د خپل وس تر حده چوپړ روان ؤ، د ځوانانو د تفریح لپاره هغه وخت چې څه ممکن وو هغه ټولو ته د اسلامي شریعت له مخې د یو لړ اصولو په چوکاټ کې اجازه ورکول شوې وه او تشویقیدل، په جبري توګه د ښځو ودول، په بدیو کې د ښځو ورکول او له ښځو سره ځینې نور زور زیاتي ممنوع اعلان شوي وو او په کلکه یې مخه نیول کیده.

نو اوس تاسو قضاوت وکړئ چې د داسې یو نظام پرتله کول له هغه شاهي نظامونو سره کوم عقل او منطق دی چې د یوې کورنۍ په اختیار کې وو، پریکړې به یې یوه شخص کولې، زعامت او کلیدي پوستونه پکې میراثي وو او زیاترو یې له خپل هوا او هوس څخه پرته نور څه نه پیژندل، په لستونو کې یې مارانو ته ځای ورکړی ؤ، په قدرت کې د بقاء په خاطر یې هیواد له ډول ډول کړاوونو سره مخ کاوه، کله به یې د شرق لمن نیوله وه او کله د غرب او د ډول ډول شیطاني مفکورو راواردولو ته یې زمینه برابره کړې وه.

له داسې پوچو تبلیغاتو څخه یوازینی هدف د مذاکراتو له لارې د افغانستان د معضلې له حل څخه ویره، په بین الافغاني مذاکراتو کې د بې باورۍ د فضاء راپیدا کول او د اسلامي امارت او اسلامي نظام په اړه د کمترۍ د احساس پنځول او دښمني ده، چې کله به هم د دې تبلیغاتو ډنډورچیان دې شومو اهدافو ته ونه رسیږي، یوازې به په ولس کې خپل ځانونه لا زیات سپک، منفور او منزوي کړي.

دا چارواکي باید د اسلامي امارت څخه د مخه هغه ورځې وریادې کړي چې د سمتي او لساني تعصبونو، هوا او هوس په اور کې د کابل ښار وسوځیده او په کنډواله بدل شو ، ۶۰ زره ښاریان ووژل شول، په هره پوسته او هر پاټک کې د خلکو په مال او عزت لوبې کیدلې، د خلکو په سرونو میخونه ټک وهل کیدل، د رقص مرده نندارې جوړیدلې، له انسانانو څخه د ګُلابو کار اخیستل کیده او دوی یې یا مخکښان او یا د مخکښانو لاس په نام عسکر وو، دوی باید د هغه جنایتونو له کبله چې په تیرو شلو کلونو کې یې په اصطلاح د اسلامي جمهوري دولت د قانون د واکمنې، اجتماعي عدالت، د بیان د آزادۍ، د ښځو د حقوقو تر رنګینو شعارونو لاندې ترسره کړل وشرمیږي، مړه شي او په ځمکه ننوزي.

د لویدیځ د غلامۍ قبلول، له لویدیځوالو سره یو ځای د خپل ولس قتل عام، د فتنې ، فساد او فحشاء خپرول، بې دینۍ او ارتداد ته د زمینې برابرول، کمسارۍ اداري فساد، د خلکو لوټ تالان، په لویو ښارونو کې کمساري جنایي جرمونه، د ښځو په عزت او ناموس ډلیز تیري، د اسلامي

مقدساتو توهین، له ۹۰ سلنې څخه زیاته د فقر کچه، له هیواد څخه د سلګونه زرو ځوانانو تښتیدل، په مخدره موادو د میلیونونه ځوانانو معتاد کیدل او په شپنیو چاپو کې د پوره پوره کورنیو له منځه وړل کیدل، دا ټول د دوی د جمهوریت ارمغانونه دي .افغانان به په لویو ښارونو کې په څو بلند منزلونو، ښارګوټو، د شپې له مخې په نایټ کلبونو کې په ګډا، بلو څراغونو، شرابو، په سلګونو راډیوګانو، ټلویزیونونو او ټولنیزو شبکو کې په څلورویشت ساعته ساز، سندرو، فحاشي، د یو بل په سپکاوي او توهین او د خرو په لمانځلو څه وکړي؟ !او د کوم درد دوا به یې شي؟ !او تر اوسه یې کوم درد پرې دوا شوی دی ؟ .!

اتمه پوښتنه : اسلامي امارت د افغانستان ولس ته څه ورکړي دي، په خپل وخت کې یې په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو برخو کې کوم خدمتونه ورته ترسره کړي دي؟ که لطفاً په دې اړه یو څه رڼا واچوئ!

ځواب : د افغانستان اسلامي امارت خپل ولس ته ډیر څه ترسره کړي دي او خپل ولس ته د ډیرو خدمتونو افتخار لري؛ خو څنګه چې هغه مهال اسلامي امارت په سخته سیاسي او اقتصادي محاصره کې قرار درلود له همدې امله یې رغنیزې چارې په خلاص مټ په پراخه کچه او د نړۍ له نوو علمي او ساینسي پرمختګونو څخه په استفادې نشوای سرته رسولای او کوم خدمتونه یې چې ترسره کړي دي له مهمو څخه یې دلته یادونه کوو :

۱ — د شورویانو او کمونستانو پر خلاف د سپیڅلي جهاد د دوو سترو ارمانونو) ریښتني استقلال او سوچه اسلامي نظام د حاکمیت (پر خلاف د یوې سترې دسیسې پر وړاندې پاڅون .

۲ — د انارشي او ملوک الطوایفي او هغه زرګونو پاټکونو ختمول چې هره لحظه د خلکو مال، عزت او ژوند پکې لوټل کیده.

۳ — هیواد له تجزیې څخه ژغورل.

۴ - د یو پیاوړي مرکزي نظام ټینګښت.

۵ — د اسلامي شریعت تطبیق، د حدودو جاري کول، امر بالمعروف او نهي عن المنکر او له پیړیو څخه وروسته د اسلامي نظام د عملي نمونې وړاندې کول .

۶ -د سرتاسري کمساري امنیت ټینګول .

۷ -د کمساري اسلامي اخوت د نمونې وړاندې کول او د ناپییلتوب د دریځ ساتل.

۸ -د حکومتي نظام، وزارت خانو او نورو اداري واحدونو د تأسیساتو ترمیم او فعالول .

۹ -د پوهنتونونو، مکتبونو او مدرسو ترمیم او فعالول، د نصاب ورته چاپول، د استادانو د معاشاتو اجراء کول او د دیني او عصري تعلیم تر منځ د توازن کرښه راکشول او د لسیزو راپدیخوا د هغه تعصب ورکول چې د عصري او دیني تعلیم د مؤسساتو تر منځ لمن ورته وهل کیدله .

۱۰ -سره له دې چې طالبانو په اقتصادي محاصره کې قرار لاره، سخت اقتصادي بندیزونه پرې لګیدلي وو؛ خو د ګمرکي محصولاتو په کمولو او د مضاربت د سیستم په ترویج سره یې تجارت بیرته وغوړاوه، د ژوند د اولیه موادو ډیره ارزاني وه او ډیرو غریبو کورنیو هم د خپل ژوند د سوکالۍ په خاطر پرمختللي نقلیه وسایط درلودل .

۱۱ -د سروبي، نغلو او کجکي د بریښنا د بندونو رغول، کابل، هلمند او کندهار ته د بریښنا د مزو تیرول او ښاریان یې له بریښنا څخه برخمن کول .

۱۲ -د بغلان د نساجۍ او سمنټو د فابریکې د ماشینونو ترمیمول او تولید ته یې آماده کول، د شبرغانو د ګازو د استخراج د ماشینونو فعالول، مزار ته د ګاز د پایپ لین غځول او د مزار د کود کیمیاوي د فابریکې فعالول) چې له مخکې څخه یې زیات تولیدات درلودل (او د سمنګان او کرکر د ډبرو سکرو د کانونو فعالول او تولید ته یې آماده کول .همدغه راز شخصي پانګوالو د کابل په صنعتي پارک کې تر سلو پورې فابریکې فعالې کړې او د بریښنا مزي ورته راکش او بریښنا ورته راتیره شوه، په کندز کې د سپین زر فابریکه بیرته فعاله او په تولید یې پیل وکړ، په جلال آباد کې د

پلاستیک فابریکه هم فعاله شوه او د هیواد په نورو لویو ښارونو کې هم ډیرې کوچنۍ فابریکې فعالې شوې چې زرګونو افغانانو ته د کار زمینه پکې برابره شوه، همدغه راز ډیر زیات مارکیټونه، دوکانونه او ښارګوټي شخصي پانګوالو او تجارانو جوړ کړل .

۱۳ -له هغو ډیرو لږو امکاناتو څخه په استفادې چې اسلامي امارت درلودل د طورخم — جلال آباد، جلال آباد — کابل ، کابل — پکتیا ، کابل — غزني ، غزني — کندهار ، کندهار — هرات ، هرات — تورغونډۍ او کندهار — بولدک د سړکونو ترمیمول، همدغه راز له طورخم څخه تر جلال آباد پورې د سړک پخولو اساسي کار روان ؤ ، له جلال آباد څخه تر کابل پورې د سړک پخولو اساسي کار روان ؤ چې تر درونټې پورې رسیدلی ؤ ، له کابل څخه تر غزني پورې د سړک پخولو اساسي کار روان ؤ چې تر میدان ښار پورې رسیدلی ؤ ، له کندهاره تر بولدکه، له کندهار تر هرات او له هرات څخه تر تورغونډۍ پورې د سړک پخولو اساسي کارونه روان وو او دې ته ورته د کندهار، هرات، جلال آباد ، کابل او ځینو نورو ښارونو د داخلي سړکونو د پخولو کار هم روان ؤ .

د یادونې وړ بولم چې اسلامي امارت د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال جناب مولوي صاحب عبدالکبیر په مشرۍ یوه اقتصادي شورى درلودله او دې شورى د خپلو داخلي عوایدو او تجارانو د شخصي پانګونې او د تجارانو د مرستې په مټ د داؤد خان د وخت د هیواد د بیا رغونې پنځه کلن پلان دوباره تر غور لاندې ونیو او د هغه برخو د عملي کولو پلان یې جوړ کړ چې عملي کول یې ممکن او په ګټه وو، د کنړ په سیند د بریښنا د بند د جوړولو ، د ګنبیري دښتې ته د نهر د راتیرولو او په ځینو نورو ځایونو کې د نهرونو د تیرولو، د اوبو د ذخیره کولو او د بریښنا د بندونو د جوړولو سروې ګانې روانې وې او په بانکونو کې یې د دې پرمختیایي پروژو سره د کومک لپاره یو ځانګړی حساب خلاص کړی ؤ، زما اوس هم یوه دردوونکې خاطره په یاد ده چې د جلال آباد ښار د سړکونو د پخولو د چارو لپاره د ماشین آلاتو اخیستلو ته ضرورت ؤ، هغه ماشین آلات په یو ګاونډي هیواد کې واخیستل شول او په ډیره سختۍ سره په قاچاق جلال آباد ته رانقل شول او د امریکایانو د یرغل له وجې دا چاره نیمګړې او ماشین آلات په سړکونو ولاړ پاتې شول.

۱۴ -له ولس سره د خیر ښیګڼې په هدف ټولو بهرنیو خیریه مؤسسو ته د فعالیت د آسانتیاؤ برابرول، پاتې د نه وي چې د دې تر څنګ یې په شفافیت سره د کومکونو د مصرف او خدمتونو د سرته رسولو لپاره د پلان د وزارت په چوکاټ کې یو ځانګړی میکانیزم رامنځته کړی ؤ، همدغه راز یې خپله هم عشر او زکات په مسکینانو تقسیماؤ، پخه ډوډۍ یې په نیمایي بیه په مسکینانو پلورله او معیوبینو ته یې د معیوبینو د وزارت له لارې خاص کارتونه توزیع کړي وو، وخت په وخت به یې کومکونه ورسره کول او شخصاً مرحوم عالیقدر امیرالمؤمنین هر هغه چاته چې دواړه پښې یې د سرو لښکرو او کمونستانو پر خلاف په جهاد کې له لاسه ورکړې وې او یا فلج وو د ګرځیدا راګرځیدا لپاره موټر ورکول.

۱۵ -د مدرسو او جوماتونو آبادول .

۱۶ -د ټاپي د سترې څو هیوادیزې اقتصادي پروژې پیل، د نوو افغانیو د بانک نوټونو ډیزاین او د اتصالاتو او د عصري ټلیفوني سیستمونو د نصبولو په برخه کې له اړونده شرکتونو سره خبرې او په قراردادونو کار، چې دا هر څه د امریکایي تیري له امله ناتکمیل پاتې شول .

۱۷ -په مطبوعاتي برخه کې هم راډیوګانې فعالې وې، د هیواد د استقلال ورځ په ښه جوش سره لمانځل کیدله، ادبي غونډې، مشاعرې، تمثیلي ټوټې او مسابقې جوړیدلې، مجلې اخبارونه او کتابونه چاپیدل .

۱۸ -په ټول هیواد کې د سپورټ ټولو ډولونو ته د اسلامي شریعت له مخې د یو لړ خاصو شرایطو په اساس اجازه ورکول شوې وه او سپورتي مسابقې تشویقدلې .

۱۹ -اسلامي امارت هوايي میدانونه ورغول او یو کوچنی هوایي نظامي ځواک بې) چې یو شمیر هلیکوفتړ، بار وړونکې او جنګي جیټ طیارې یې درلودلې (رامنځته کړ، ټول نظامي سپک او درانه وسایل یې راجمع او ترمیم کړل، پوځي تأسیسات یې ورغول او ټول یې د وزارت دفاع تر کنټرول لاندې راوستل او داسې پوځي او امنیتي ځواک یې رامنځته کړ چې په ډیرو کمو امکاناتو او داخلي عوایدو یې پالنه کوله، نه د ولس د اوږو بار ؤ او نه د بهرنیو مرستو په بدل کې غلامۍ ته اړ ؤ، بلکه د احمدشاه بابا د پیر په څیر یو مستقل او سرلوړی پوځي ځواک ؤ، چې د سیمې هیوادونو هم ترې سترګه کوله .

۲۰ -د مخدره موادو د کښت او قاچاق صفر ته راښکته کول) چې اوس یې په جمهوریت کې کچه بیرته د نړۍ پر مخ تر ټولو لوړې درجې ته رسیدلې ده او په کور د ننه تر درې میلیونه پورې د مخدره موادو معتادین شتون لري).

۲۱ — د اداري فساد ختمول .

د یادونې وړ ده چې اسلامي امارت یاد ټول خدمتونه د خپلو کمو داخلي عوایدو په مټ ترسره کول، هیڅ ډول بهرنۍ مرسته نه وه ورسره حال دا چې په څو جبهو کې له شر او فساد سره پر مصرفه جبه ئي جنګونه هم روان وو او د ملګرو ملتونو له لوري له سختو اقتصادي بندیزونو سره هم مخ وو .

اشغالګرو او د دوی ګوډاګیانو هغو سلګونه میلیارده ډالرو ته په کتو) چې د افغانستان له بیا رغونې سره د مرستې په نامه اعلانیدل (د بیا رغونې په برخه کې له څو سمبولیکو کارونو څخه پرته هیڅ د پام وړ بنسټیز کارونه نه دي ترسره کړي او په څه چې سترګې لګیږي او ترسره شوي دي هغه هم زیاتره خصوصي پانګه والو ترسره کړي دي .

پاتې دې نه وي چې له پیل څخه تر اوسه پورې اسلامي امارت او زموږ شهید پرور ولس په مطبوعاتي محاصره کې قرار لري او زیات مجال د دې نه دی پیدا شوی چې خپل ولس ته د اسلامي امارت خدمتونه او په دې برخه کې لاسته راوړنې په درسته توګه منعکسې شي او زه شخصاً په دې برخه کې له اسلام پالو لیکوالانو څخه هم ګیله لرم چې خپل ولس ته د اسلامي امارت له لوري د ترسره شوو خدمتونو انعکاس او په دې برخه کې تحقیقاتو ته زیاته پاملرنه نه کوي او ډیر ارزښت د حاضرو حالاتو انعکاس ته ورکوي، الله جل جلاله دې وکړي چې دې برخې ته یې توجه راوګرځي او زیاته پاملرنه ورته وکړي.

نهمه پوښتنه: د کابل ادارې په داخل کې له امرالله صالح څخه نیولې د احمدشاه مسعود تر ورور پورې، هغوی وایي چې مذاکرات کومه نتیجه نه ورکوي او له خپلو جګړه مارو یې غوښتي چې یوې بلې جګړې ته تیار شي؛ داډول خبرې څه معنا لري او آیا دغه څیرې دومره ځواک او نفوذ لري چې یو ځل بیا انارشیزم رامنځته کړي؟!

ځواب: احمدضیاء مسعود، امرالله صالح او د دوی په څیر نورو کسانو ته له خپلو شخصي منافعو او د افغانستان دښمنه هیوادونو استخباراتي سازمانونو ته له جاسوسۍ پرته بل څه ارزښت نه لري؛ له خارجي استخباراتي سازمانونو څخه د استخباراتي پروژو ټیکه کول او د خپل ولس او خپلې اسلامي عقیدې پر ضد فعالیت د دوی د ژوند تر ټولو ستره موخه ده، دوی د افغانستان د ټولنې د هیڅ برخې نماینده ګي نه کوي او دا دوی ته د پردیو افغان دښمنه قوتونو څخه پیچکاري شوی نظر دی.

د افغانستان خلک ریښتینې سوله او امن غواړي او د مذاکراتو له لارې د اشغال خاتمه او په افغانستان کې د یو سوچه اسلامي نظام حاکمیت غواړي؛ نور هغه دور تیر شوی دی چې څوک دې د افغانستان د خلکو د ارمانونو او د دې ارمانونو د ستر ممثل) اسلامي امارت (پر وړاندې ودریږي،

ډلې ټپلې او مليشې دې جوړې کړي؛ که د بهرنيانو پوځي او مالي مرستې نه وي، دوی ټول د اسلامي امارت د مجاهدينو د يوې نظامي ډلګۍ د مقابلې وس هم نه لري .

لسمه پوښتنه : امرالله صالح ډير ځله د امارت د نورو مشرانو تر څنګ ستاسې نوم يادوي چې د هغوی جهادي تکتيکونه مو په خپل وخت کې خنثی کړي دي ، محترم جواد صاحب د صالح دغو غورځو پرځو ته څه ځواب لرئ؟

ځواب : زه دا منم چې امرالله صالح به د(CIA) ، (MI٦)، (DGSE) او (RAW) د جاسوسانو د روزلو په کومو روزنيزو پروګرامونو کې برخه اخيستې وي؛ خو د ګوډاګۍ ادارې د ملي امنيت د رئيس په توګه د دندې پر مهال د ده ناکامۍ او د ګوډاګي نظام په پلويانو کې د ده په اړه موجود نفرت دا رابښيي چې نوموړی يو مسلکي استخباراتي کدر نه دی او د استخباراتي مسلکي کدر په توګه نه خپلې چارې په سمه توګه سرته رسولای شي او نه په خپله نفعه رواني مثبتې اغيزې پريباسلی شي .د اسلامي امارت د استشهادي مجاهدينو هغو تکتيکونو چې امرالله صالح يې تصور هم نشوای کولای؛ نوموړی د ګوډاګۍ ادارې د ملي امنيت د لوی رياست له منصب څخه راپريباسه او لاندې يې راخطاء کړ؛ نو په کومو سترګو دی بيا دا شرموونکې دروغجنه ادعاء کوي چې ما د استشهادي عملياتو د تنظيمونکو تکتيکونه ناکام کړي دي؟

که د امرالله صالح په وخت کې وو او که له هغه څخه راوروسته، څه چې د ګوډاګۍ ادارې د ملي امنيت د لوی رياست په نامه ترسره کيدل، دا هر څه د غربي استخباراتو له لوري ترسره کيدل او د هر رياست چارې يې په حقيقت کې هغو خارجي اجنټانو مخته وړلې او مخته يې وړي چې د لويديځو استخباراتي سازمانونو له لوري په هر رياست کې نصب شوي او د دوی مسلکي اجنټان دي.

موږ امرالله صالح ته د يو ښه لفاظ او قوال څخه ويلای شو، د جاسوسۍ ښه اکټونه او تمثيلونه يې تمرين کړي دي؛ خو کله هم يو مسلکي استخباراتي کدر نه دی، الحمدلله د استشهادي عملياتو تکتيکونه او تخنيکونه ډير پيچلي، پرمختللي او بريالي دي، هميشه پکې د نوو نوو تجربو په اساس له نوو نوښتونو او ابتکاراتو څخه کار اخيستل کيږي او نن چې د دښمن ماغزه ځای ته راغلي دي او د زور د ژبې پر ځای د خبرو ژبه کاروي، دا د اسلامي امارت د نورو مجاهدينو د کمسارو قربانيو تر څنګ د استشهادي عملياتو برکت دی؛ نه د امرالله صالح په وخت کې د ګوډاګۍ ادارې د ملي امنيت ادارې مخکې له مخکې د استشهادي عملياتو د کشف او مخنيوي توان درلود، نه يې تر اوسه دا توان پيدا کړی دی او نه يې فزيکي امنيتي موانع د استشهادي عملياتو د تکتيکونو پر وړاندې د مقابلې وړتيا او وس لري، له ډيرې ناتوانۍ څخه يې تل هڅه کړې ده چې د استشهادي عملياتو د رواني اغيزو پر وړاندې د خپل تبليغاتي ماشين په مټ مورچل ونيسي .

يوولسمه پوښتنه : دوحې ته له کابله له راغلي ټيم پرته نور افغان جهتونه هم شته چې د خبرو له بهير څخه بهر پاتې دي، له هغوی سره به د تفاهم بهير څنګه وي؟

ځواب : بلې؛ د افغانستان اسلامي امارت له ټولو مطرحو افغاني جهتونو سره په تماس کې دی او د مسئلې ريښتينې حل هم هغه وخت راوتلی شي چې کله په روانه بين الافغاني پروسه کې ټول مطرح جهتونه دخيل وي، اسلامي امارت به

اجازه ورنکړي چې يوه خاصه شريره کړۍ په بين الافغاني مذاکراتي بهير کې د ټولو مطرحو افغاني جهتونو شموليت او ښکيلتيا يرغمل او سبوتاژ کړي .

دوولسمه پوښتنه : آيا رښتيا هم امريکا دې ته چمتو شوې چې خپل اشغال ختم کړي او که مذاکراتو ته، خپلو موخو ته د رسيدو د يوې لارې په توګه ګوري؟

ځواب : امريکايانو د زور ټولې لارې وکارولې او دې نتيجې ته رسيدلي چې خپل اشغال ته دوام نشي ورکولای او نه خپل ګوډاګيان په افغانانو باندې د ډير وخت لپاره تحميلولای شي، له همدې امله يې د مذاکراتو او منطق لاره خپله کړه . دا چې دوی په خپله محاسبه کې د مذاکراتو له لارې د خپلو کومو اهدافو تحقق په پام کې لري دا په دوی پورې اړه لري، خو موږ له امريکايانو سره توافقنامې ته د کلکې ژمنتيا تر څنګ پوره ويښ او بيداره يو، ان شاء الله نه به مو څوک په اغفال کې واقع کړي او نه به د تاريخ د هغه ترخو تجربو تکرار ته اجازه ورکړو، کومې چې له اسلامي او جهادي حرکتونو سره د دښمنانو د مذاکراتو په اړه موجودې دي.

ديارلسمه پوښتنه : د روان ميلادي کال د جون په مياشت کې ملګرو ملتونو په يو راپور کې ادعاء وکړه چې اوس هم د افغانستان په يو شمير ولايتونو کې بهرنۍ جهادي ډلې شتون لري، د غړو تعداد يې سلګونو ته رسيږي، د طالبانو په پلوۍ جنګيږي، طالبان دوامداره اړيکې ورسره لري او د طالبانو په ليکو کې يې د ځينو نوو ترسيمونو ادعاء هم وکړه، ستاسو په نظر د ملګرو ملتونو د داسې راپورونو سرچينې کومې دي؟ په دې راپور څومره باور کيدای شي؟ او ولې داسې راپورونه خپروي ؟

ځواب : په افغانستان کې د بهرنيو استخباراتي سازمانونو يوه شريره کړۍ) چې د دوی بهرني او افغاني اجنټان پکې شموليت لري(شتون لري، د دې شريرې کړۍ د بهرني اړخ مخکښ) مايکل سمپل (دی چې (MI٦) ته کار کوي، يو وخت د افغانستان لپاره د اروپايي اتحاديې د استازي مرستيال هم ؤ، نوموړی په افغانستان او سيمه کې د پټو، خطرناکو او مرموزو استخباراتي کړنو سابقه لري او تازه يې له ارګ سره اړيکې قايمې کړې دي، نوموړی د مذاکراتو د روان بهير له سرسختو مخالفينو او مخربينو څخه دی، د دې شريرې کړۍ د کورني اړخ مخکښان د ګوډاګي اداري د ملي امنيت پخواني چارواکي دي، دوی ټول د مذاکراتو او سولې له روان بهير، د امريکا او د افغانستان د اسلامي امارت تر منځ د اشغال د خاتمې له تړون او بين الافغاني مذاکراتو سره کلک مخالفت لري او د تخريب او سبوتاژ په هڅه کې يې دي.

زما د معلوماتو له مخې د ملل متحد د دې راپور له خپراوي څخه د مخه) مايکل سمپل (په سرينا هوټل کې ديره ؤ او له خپلو خارجي او داخلي همکارانو سره يې يو ځای د دې راپور لپاره معلومات برابرول چې زياته برخه يې جعلي وه، همدغه راز مايکل سمپل يوه بله تخريبي ځيرنه د زندانيانو د پروسې له تکميل څخه د مخه له) فليکس کوهن (سره په ګډه د بلفاسټ پوهنتون لپاره هم ترسره کړې وه چې د سپتمبر د مياشتې په اوايلو کې د فارن پاليسي لخوا خپره شوه ، په دې ځيرنه کې هم ده ادعاء کړې وه چې د خلاص شوو طالبانو ډيرى برخه بيرته د جنګ ليکو ته ستانه شوي دي او هڅه يې کړې وه چې د زندانيانو د خلاصون پروسه تخريب او په دې توګه بين الافغاني مذاکرات سبوتاژ کړي .

مايکل سمپل او له خارجي او داخلي اجنټانو څخه جوړه دا شريره کړۍ د داسې دروغجنو راپورونو د ليکلو، د جعلي ځيرنو د ترسره کولو او د دروغجنو افواهاتو د خپرولو سابقه لري، د افغانستان اسلامي امارت متحد دی، په راپور کې ادعاء شوی ترسيم هيڅ حقيقت نه لري تر دې چې د ياد شوي ترسيم ادبيات هم د اسلامي امارت له ادبياتو سره هيڅ اړخ نه لګوي.

د افغانستان اسلامي امارت) د خپل شرعي مکلفيت له مخې (له امريکايانو سره شوې توافقنامې ته په کلکه ژمن دی او د توافقنامې د عملي کولو لپاره چې کوم ميکانيزم جوړ شوی دی، د هغه ميکانيزم له مخې قدم په قدم وړاندې ځي او له امريکايانو څخه هم ورته تمه لري او توافقنامې ته د دوی ژمنتيا له نيردې څخه څاري، امريکايان او نړيواله ټولنه بايد

ډېره متوجه واوسي او د يادې شريرې کړې او نورو هغه شريرو کړيو په دام کې ونه نښلي چې غواړي د خپلو شخصي ګټو او منافعو په خاطر له امريکايانو سره شوې توافقنامه او د بين الافغاني مذاکراتو روان بهير تخريب او سبوتاژ کړي، همدغه راز بايد هغه کاذبو او جعلي ترسيمونو او موجوديتونو ته هم متوجه واوسي چې د مذاکراتو او سولې د روان بهير د مخالفو شريرو منزوي اجرتي استخباراتي کړيو له لوري ترسيميږي، د جعلي موجوديت د تثبيت هڅه يې کيږي او له آدرسه يې په جعلي نومونو داسې مواد خپريږي چې شکونو او بې باورۍ ته لمن وهي .

څوارلسمه پوښتنه: څومره هيله شته چې له هغو خلکو سره روغې جوړې ته ورسيږو چې دا اتلس، شل کاله د اشغال په چوپړ کې وو؟

ځواب: د افغانستان د اسلامي امارت په مشرۍ د افغانانو له روان سپيڅلي جهاد سره د الله تعالى ځانګړې نصرت دی او د دې نصرت په مټ د هغو سختو پړاوونو وهل او هغو سختو منزلونو ته رسيدل ممکن شول چې چا يې تصور هم نشوای کولای، ان شاء الله لوی الله جل جلاله به داسې شرايط برابروي چې مقابل لوری به مسخر کيږي او د مذاکراتو له لارې به حق ته غاړه ږدي، موږ جنګ هم د لوی الله جل جلاله د نصرت په اتکاء مخته وړو او سياست هم او په دې باور يو چې تر څو له حق څخه کاږه نشو وروستۍ فتحه او بری زموږ په برخه دی.

پنځلسمه پوښتنه: افغان ولس ته مو پيغام څه دی؟

ځواب :زما پيغام خپل مجاهد ولس ته دا دی چې د روان سپيڅلي جهاد دوام، له فتنې او فساد څخه زر ځله بهتر دی، يا بايد د سياست او مذاکراتو له لارې فتنه او فساد له منځه لاړ شي، اشغال پای ته ورسيږي، له ريښتينې آزادۍ څخه برخمن شو او سوچه اسلامي نظام حاکم شي او يا بايد روان سپيڅلی جهاد دوام وکړي، تاسو ته به ځور وي ، کړاو به وي، بربادي به وي؛ خو د فتنې او فساد زيانونه له دې څخه په زرهاؤ مراتبه زيات، سخت او خطرناک دي او که روان سپيڅلی جهاد او د نبوي شرعي سياست په اساس مبارزه نه وي روانه او او فتنه او فساد په خلاص مټ د نمو، ودې او خپراوي فرصت ولري؛ نو کيدای شي په نيږدې راتلونکي کې زموږ نوی نسل خپل اسلامي او ملي هويت له لاسه ورکړي او زموږ په هيواد کې يوازې په نوم مسلماني او افغانيت پاتې شي او موږ به د ريښتينې آزادۍ او سوچه اسلامي نظام د حاکميت په شکل کې د هغه ميليونونه قربانيو له ثمرې څخه بې برخې شو چې په تيره يوه پيړۍ کې مو د دريو امپراطوريو او ظالمو او مفسدو نظامونو پر ضد ورکړې دي؛ نو له صبر او استقامت څخه کار واخلئ، د سيکولرانو او کمونستانو او د شر او فساد د باندونو د مخکښانو تبليغاتو ته غوږ مه ږدئ .

ان شاء الله ډير ژر به د سختۍ دا ورځې تيرې شي او آساني به راشي او دا د الله جل جلاله حقه وعده ده، ډير ژر به د يو سوچه اسلامي نظام په سيوري کې له خواږه او آرام ژوند څخه برخمن شئ.

ان شاءالله وماذ لک على الله بعزيز. پـای

د افغانستان اسلامي امارت

د مذاکراتي ټیم د غړو لنډه پېژندنه

محترم شیخ الحدیث مولوی عبدالحکیم حقانی

شیخ مولوي عبدالحکیم صاحب د مرحوم مولوي خدایداد صاحب زوی د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په بند تیمور کلي کې په ۱۳۳۶ هجري شمسي کال زیږېدلی دی.

د طالبانو د اسلامي تحریک په پیل کې د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد سره ملګری وو، دتحریک په بنسټ اېښودو کې يې مهم رول درلود.

د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال د کندهار ولایت په جهادي مدرسه کې د تدریس تر څنګ د تمیز ریاست او په مرکزي دار الافتاء کې يې خدمت ترسره کړی دی.

پر هیواد د امریکایي یرغل وروسته د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په هدایت د محاکمو اوسنی جوړښت او تشکیل کې يې مهم رول ادا کړی، کله چې اوسني امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخوندزاده صاحب د سترې محکمې رئیس وو، شیخ مولوي عبدالحکیم صاحب د تمیز محکمې ریاست په غاړه درلود. د مشر په توګه د شیخ صاحب هبة الله اخوندزاده ټاکل کېدو وروسته د سترې محکمې د مشرۍ چارې شیخ مولوي عبدالحکیم صاحب ته وسپارل شوې.

نوموړی اوس مهال د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ شورى غړی او د مذاکراتي ټیم مشر دی.

محترم شیرمحمد عباس ستانکزی

شیرمحمد عباس ستانکزی د مرحوم حاجي پادشاه خان زوی، په ۱۳۳۸هـ ش کال د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ په عباس کلي کې زیږېدلی دی. ابتدايي زده کړې يې د خپل کلي په جومات او د کابل په عمراخان ښوونځي کې ترسره کړې او د کابل حربي ښوونځي څخه فارغ شوی دی. د سردار محمد داود خان لخوا د نورو افغان محصلینو سره یوځای د لوړو نظامي زده کړو لپاره هندوستان ته ولیږل شو او په ۱۳۶۰هـ ش کال د تعلیم له بشپړولو ورسته د شوروي اشغال پرخلاف د جهاد لیکو ته وروګرځید. په جمعیت اسلامي او اتحاد اسلامي ګوندونو کې يې د نظامي استاذ په توګه دندې ترسره کړې، او په ۱۳۶۴هـ ش کال د اتحاد اسلامي د جنوب لویدیځې حوزې نظامي آمر و. نوموړي د قلات، د کندهار هوايي ډګر، د لښکرګاه او په نورو لویو عملیاتو کې عملا برخه اخیستې او له هماغه وخته يې د شهید ملابورجان اخند، شهید ملا مشر اخند، مرحوم ملا محمد رباني او نورو پخوانیو مشرانو سره پیژندګلوي درلوده. په۱۳۶۹هـ ش کال د حرکت انقلاب اسلامي ګوند د عمومي نظامي مسئول په توګه وټاکل شو او د نجیب د حکومت تر سقوطه په همدې دنده پاتې شو. د تنظیمي جګړو پر مهال په کور کښیناست، کله چې د طالبانو اسلامي تحریک راپورته شو ورسره یوځای شو. د طالبانو د واکمنۍ پرمهال لومړی د کندهار ولایت د خارجه ارتباط مرستیال و، بیا په کابل کې د بهرنیو چارو وزارت د معین او بیا د عامې روغتیا وزارت د معین په توګه دندې ترسره کړې. پر هیواد د امریکایي یرغل وروسته يې یوځل بیا په نظامي او سیاسي مبارزه لاس پورې کړ، په لومړي سر کې د طالبانو د سیاسي کمیسیون غړی و، بیا يې مرستیال شو، د ۲۰۱۵ اګست څخه بیا تر ۲۰۱۹م جنوري پورې د سیاسی دفتر رییس پاتې شوی. ستانکزي صیب د امریکایانو سره د مذاکراتي ټیم مشري په غاړه درلوده او اوس مهال د رهبرۍ شورا غړی، د سیاسی دفتر او مذاکراتي ټیم مرستیال دی.

محترم ملامحمد فاضل مظلوم

ملا محمد فاضل مظلوم په ۱۳٤٥هـ ش د اروزګـان ولايـت په چارچينو ولسـوالۍ کـې زيږيـدلی دی. ابتـدائي او دينـي زده کړې يې په هيواد کې دننه په مختلفو مدارسو او مسـاجدو کـې د وخت د مشهورو علماو څخه تر لاسه کړي دي.

محترم ملا فاضل اخوند په ګوانتنامو بندي خانه کې د قرآن کريم حفظ وکړ.

د اسـلامي امـارت د واکمنـۍ پرمهـال د مـلي دفـاع وزارت معين او لـوی درسـتيز و. پـر افغانسـتان د امريکـايي يرغـل پـه لومړيو ورځو کې ملا محمـد فاضـل پـه شـمال کـې اسير او بيـا امريکايانو ته وسپارل شو. نومـوړی پـه ۱۱/ ۱/ ۲۰۰۲م تـاريخ د کيوبا ګوانتنامو زندان ته وليږدول شو چې شاوخوا ديارلس کالـه هلتـه بنـدی و. نومـوړی بلاخـره پـه ۱ د جـون ۲۰۱٤م د يـو امريکايي بندي (بوبرګډال) سره د تبادلې په نتيجه کې د څلـورو نورو مشرانو سره يو ځای ازاد او قطر هيواد ته انتقـال شـو. مـلا محمـد فاضـل اخونـد پـه ۲۰۱۸م کـال کـې د سـياسي دفـتر او امريکايانو سره د مذاکراتي ټيم غړی وټاکل شو. او بيا وروسـته د مذاکراتي ټيم معاونيت هم ور وسپارل شو. نومـوړی اوس مهـال د افغانسـتان اسـلامي امـارت د رهـبري شـورى، سـياسي دفـتر او مذاکراتي ټيم غړی دی.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی

مولوي عبد السلام حنفي د علي مـردان زوی پـه ۱۳۴۸ هــ ش کال کـې د درزاب ولسـوالۍ چـې مخکـې د فاريـاب ولايـت مربوط وه او فعلا د جوزجان ولايت اړوند ده، په ګردن کلي کې زيږيدلی دی.

ابتدائي زده کړې يې د شيربيګ په ښوونځي کې کـړي دي، کله چې جهاد شروع شو، په خپل کلي کې يې ديني زده کړو تـه ادامه ورکړه، صرف، نحو او ابتـدايي د فقهـي کتابونـه يـې دلتـه ولوسـتل، او بيـا يـې د سرپـل او فاريـاب ولايتونـو پـه مختلفـو ولسواليو کې د مشـهورو دينـي علـماوو څخـه د بېلابېلـو فنونـو يعني نحو، منطق، حکمت، بلاغت، فقه، قرائت اوتجويد کتابونه ولوستل.

د تعليم د پوره کولو په خاطر يې پاکستان ته هجرت وکـړ او هلته يې بيا په مارتونـګ، ډاکـې او پېښـور کـې لـوی منطـق، رياضي، اصول فقه، ادب، مناظره، عقايد او د قرآن کريم ترجمـه ولوستل او تر وړې دورې يې زده کړې وکړې. بيا د لـويې دورې لپاره د کراچي ښار مشهورې ديني مدرسې دارالعلوم کراچي تـه ولاړ او هلته يې په ۱۴۱۴ هـ ق کال کې لويه دوره وکړه. بيا يې په بهاولپور کې اصول افتاء، احاديث، تفاسير او د فقـه کتابونـه يـو وار بيـا ولوسـتل. وروسـته يـې پـه رحـيم يارخـان جامعـه تفسيريه کی د فتوی نويسي او ميراث زده کړې وکـړې. نومـوړي د ديني زده کړو سربېره د رخصـتيو پـر مهـال د مختلفـو ژبـو، د کمپيوټر د آفس پروګرامونـو اوهـارډوير کورسـونه او همدارنګـه اکونټينګ کړي دي.

حنفي صاحب د فراغت څخه وروسته مختلف فنون، علوم تر وړې دورې او ترمذي شريف او د ميراث دورې تدريس کـړی دی.

نوموړی درې کالـه د کابـل پوهنتـون د حقوقـو او سـياسي علومـو پـه پـوهنځي کـې د اسـلامي ثقافـت اسـتاد پـاتې شـوی. همدارنګـه پـه مختلفـو هيوادونـو کـې يـې د ډيپلوماسـۍ او مذاکراتو په باب زده کړې کړي دي.

حنفـي صـاحب د خپلـې مـورنۍ ژبـې ازبيکـې سربېـره د پښتو، فارسي، انګليسي، عـربي، اردو، قرغيـزي، ترکمنـی او ترکـي ژبو سره هم بلدتيا لري.

کله چې د طالبانو اسلامي تحريک په کندهار کې پيل شو، حنفي صاحب هغه وخت استاد و او تدريس يې کاوه او د خپلو شاګردانو او د فارياب ولايـت نـورو علـماوو او طالبـانو سره پـه ګډه د طالبانو اسلامي تحريک سره يو ځای شو.

د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال يې لـومړنۍ دنـده پـه فراه ولايت کې د تعليم او تربيې د رئيس په توګه تـر سره کـړې او بيا يو کال په کابل کې د تعليم او تربيـې وزارت د سرپرسـت په توګه هم پاته شوی او بيا پـه همـدې وزارت کـې د تدريسـی معين په توګه وټاکل شو.

د ۲۰۰۱ کال د امريکايانو د يرغـل وروسـته محـترم حنفـي صـاحب د اسـلامي امـارت لخـوا د جوزجـان ولايـت د والي او مسؤول په حيث وټاکل شو. او څه موده وروسته بيـا د سـياسي کميسـيون د غـړي او د مرحـوم اميرالمـؤمنين مـلا محمـد عمـر مجاهد رحمه الله لخوا د رهـبري شـورى د غـړي پـه حيـث هـم وټاکل شو.

محترم حنفي صيب اوس مهال د سياسي دفـتر معـاون او د مذاکراتي ټيم غړی دی.

محترم ملا عبدالمنان عمری

محترم ملا عبدالمنان عمري د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اوسیدونکی او د مرحوم امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد ورور دی. نوموړي په افغانستان کې پر مختلفو مشهورو علماو تر وړې دورې پورې دیني زدکړې کړې دي. د مختلفو خدمتونو تر څنګ یې د افغانستان اسلامي امارت د دعوت ارشاد، جلب او جذب کمیسیون مشري او همداسې یې د افغانستان اسلامي امارت د ملکی تلفاتو مخنیوی او د سمع شکایاتو د کمیسیون مشري هم کړې.

نوموړی اوس مهال د رهبري شورى او مذاکراتي ټیم غړی دی.

محترم مولوی صاحب عبدالکبیر

مولوی صاحب عبدالکبیر د محمد جان زوی د بغلان ولایت، نهرین ولسوالی د « قریه تنګی تبقان » په «تنګی ځدران» کلي کې په کال ۱۹۷۲م کې زیږېدلی دی.

نوموړی د دیني علومو فارغ التحصیل عالم او قومي مخور شخصیت دی.

د افغانستان اسلامی امارت د واکمنی پر مهال یې د لوګر او ننګرهار ولایتونو د والي، د ختیځ زون د تنظیمه رئیس او د ریاسة الوزراء اقتصادي مرستیال په توګه دندې اجراء کړې.

مولوي صاحب د اسلامی امارت د بانفوذه مشرانو څخه دی، نوموړي د ۲۰۰۵ نه وروسته د ۲ کلو لپاره د سیاسي کمیسیون مشري هم کړې.

محترم مولوی صاحب اوس مهال د افغانستان اسلامي امارت د رهبري شورى غړی، د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسون مشر او د مذاکراتي ټیم غړی دی.

محترم مولوی امیرخان متقی

مولوي امیر خان متقي د مرحوم حاجي نادر خان زوی په ۱۳۴۹ هجري شمسي کال د کب د میاشتې په اومه د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ په زرغون کلي کې دنیا ته راغلی. ابتدائي زده کړې یې د خپل کلي په مسجد او د سیمي په ابتدائي مکتب کي کړي. د ثور د کمونیستي کودتا او وروسته شوروي یرغل له امله چې زموږ زیات شمیر هیوادوال مهاجرت ته اړ شول. نوموړی د ۹ کلونو په عمر چې د مکتب په دریم صنف کې و له خپلې کورنۍ سره له هلمند څخه ګاونډي هیواد پاکستان ته مهاجر شو.

نوموړي د هجرت په مهال خپلو دیني زده کړو ته دوام ورکړ او د ځوانۍ عمر ته په رسیدو یې د جهادي صف په تشکیلاتو کې هم خدمت پیل کړ. مولوي امیر خان متقي دینې زده کړې پای ته رسولي او د نبوي احادیثو د وړې او لویې دورې کتابونه یې په کابل باندې د اسلامي امارت له واکمنې وروسته وویل او له دیني علومو د فراغت سند یې ترلاسه کړ.

کله چې په ۱۳۷۳ لمریز کال کې د فساد او ګډوډۍ په مقابل کې د طالبانو اسلامي تحریک پیل شو. نوموړی له دې تحریک سره یوځای او د تحریک په چوکاټ کې یې جهادي خدمت پیل کړ.

مولوي امیر خان متقي د کندهار ښار له نیولو څه موده وروسته د طالبانو داسلامي تحریک دعالی شورى له غړي توب سره په ۱۳۷۳ لمریز کال د کندهار د شریعت غږ راډیو د آمر په حیث وټاکل شو. د ۱۳۷۴ لمریز کال د سرطان په میاشت کې متقي صاحب د کندهار د اطلاعاتو او کلتور د رئیس په حیث وټاکل شو. چې د پلازمینې کابل د فتحې تر وخته یې همدې وظیفې ته دوام ورکړ.

د ۱۳۷۵ لمریز کال د میزان په میاشت کې چې کله پلازمینه کابل فتحه شو، متقي صاحب په همدې میاشت کې د اطلاعاتو او کلتور د سرپرست وزیر په حیث وټاکل شو. نوموړي څو کاله د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په حیث خدمت ترسره کړ چې ورسره یې د اسلامي امارت ویاندي هم کوله او رسنیو ته یې د اسلامي امارت مواقف اعلانول.

مولوي امیر خان متقي وروسته د ۱۳۷۸ کال د عقرب په میاشت کې د چارو د اداري د لوی رئیس په حیث وټاکل شو او له څه موده وظیفې ترسره کولو وروسته د ۱۳۷۸ هش کال د حوت په میاشت کې د تعلیم او تربیې د وزیر په حیث وټاکل شو چې د امریکایي یرغل تر وخته یې همدا وظیفه سرته رسوله.

مولوي امیر خان متقي د هغه پلاوي مشرتوب هم درلود چې له مخالفینو سره د خبرو لپاره د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد لخوا تعین شوی و. د نوموړي تر مشرۍ لاندې یاد پلاوي له مخالفینو سره د ازبکستان په تاشکند کې د ۶ + ۲ هیوادونو په ګډون او بیا د ترکمنستان په پلازمینه عشق اباد او

بیا د اسلامی کانفرانس په منځګړیتوب د سعودي عربستان په جده کې مذاکرات ترسره کړل.

د امریکایي یرغل په وړاندې د جهاد په مرحله کې مولوي امیر خان متقي ډېر کلونه د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون مشر و. نوموړي په خپل مبتکرانه فعالیت سره د دښمن د پراخ رسنیز یرغل په وړاندې د نشراتي جهاد یوه منظمه دستګاه رامنځته کړه او د یوه فعال فرهنګي ټیم په مټ یې د جهاد په اړه د اذهانو په تنویر او د دښمن د تبلیغاتي یرغل په شنډولو کې اساسي نقش درلود.

مولوي امیر خان متقي چې د اسلامي امارت د رهبري شورئ غړیتوب هم لري په ۲۵/۹/۱۴۳۹ هـق نیټه د مشرۍ تابه د دفتر د ریس په حیث وټاکل شو او له دوو کلونو راهیسې یې د اسلامي امارت د مشرتابه دفتر ریاست په غاړه درلود او ورسره له امریکایانو سره په ۱۲/۲/۲۰۱۹ م نیټه د مذاکره کوونکي پلاوي غړی هم وټاکل شو. نوموړی د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د اسلامي امارت لخوا د ټاکل شوي پلاوي غړیتوب هم لري.

محترم ملا نورالله نوری

محترم ملا نورالله نوري د مولوي غلام عمر الدین زوی د زابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ د چشمه بهرام خیلو په کلي کې په کال ۱۳۵۰ هجري شمسي کې زیږېدلی دی. ابتدایې او لوړې زدکړې یې ټولې په هیواد کې دننه په مختلفو مدرسو اومساجدو کې ترسره کړې دي.

محترم نوري صیب په ګوانتنامو کې د قرآن کریم شل سیپارې حفظ وکړ او د خپلې مورنۍ ژبې پرته په فارسي اوعربي ژبو باندې رواني خبرې کولای شي.

نوموړی په ډېر کم عمري کې د پخواني شوروي یرغل پر خلاف په جهاد کې عملا برخه اخیستې او د حرکت انقلاب اسلامي تنظیم په چوکاټ کې یې سیاسي ژوند پیل کړی.

د هیواد څخه د شوروي یرغلګرو تر وتلو یو کال وروسته په ۱۹۸۹م کې نوري صیب د خپلی سیمي د مدرسو له طالبانو سره په ګډه د خپلې سیمي د نظم اومنکراتو څخه د مخنیوي په هدف یو اتحاد طلبه تنظیم جوړ کړ چې خپله نوري صیب یې د معاون په حیث وټاکل شو.

دغه اتحاد طلبه پنځه کاله دوام وکړ او په دغه دوره کې یې ځیني مهم فعالیتونه ترسره کړل.

کله چې په کندهار کې دمرحوم مشر ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله له خوا تحریک شروع شو اوبولدک فتحه شو نو نوری صیب چې یوه میاشت مخکې یې د زابل په شاجوي ولسوالۍ کې ورته کار پیل کړی وو، مګر په زابل کې له چا سره مسلح جنګ ونشو، د خپل ولایت د طالبانو په نمایندګي له یو هیئت سره کندهار ته ولاړ او د مشر ملاصاحب سره ملګری شو او سمدستي دمرحوم ملا صیب لخوا په کارونو توظیف او د خپلو طالبانو سره یو ځای په نظامي کارونو بوخت شو.

نوری صیب د کابل تر فتحې مخکې په خوست ولایت کې د امنیه قومندانۍ معاون او د میدان وردګو ولایت د والي په حیث دندې ترسره کړې.

د کابل تر فتحې وروسته نوموړی د لغمان ولایت د والي په حیث دوه کاله وظیفه اجرا کړی، ورپسې د بغلان ولایت د والي په توګه یو کال او د اسلامی امارت د حکومت په آخري کلونو کې د بلخ ولایت والي او د شمال زون تنظیمه رئیس وو.

پر هیواد د امریکایي یرغل په دوران کې نوري صیب په شمال کې اسیر شو، دیارلس کاله او څو میاشتي په ګوانتنامو زندان کې بندي وو.

چې بالآخره د ۲۰۱۴ د جون په لومړۍ نیټه د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د یوې تبادلې په نتیجه کې د څلورو نورو ملګرو سره یوځای ازاد او قطر هیواد ته انتقال شو.

نوموړی په ۲۰۱۸ کال کې داسلامي امارت د سیاسي دفتر غړی او په ۲۰۱۹ فبروري کې دامریکایانو سره د مذاکراتي ټیم غړی وټاکل شو. او اوس مهال د رهبري شورا غړی، د سیاسي دفتر غړی او د مذاکراتي ټیم غړی دی.

محترم قاری دین محمد حنیف

محترم قاري دین محمد حنیف د مرحوم قاري محمد نذیر زوی په ۱۳۴۲ هجري شمسي کال د بدخشان ولایت د یفتل سفلی ولسوالۍ په سپین ارزنچي کلي کې زېږېدلی دی.

قاري صاحب په ۱۵ کلنۍ کې قرانکریم حفظ کړ او وروسته یې له خپل مرحوم پلار څخه ابتدایي زده کړې شروع کړې، نوموړی په همدغو زده کړو بوخت وو چې د ثور کرغېړنه کودتاه رامنځته شوه.

کله چې کمونیستان واک ته ورسېدل او ددوی پر ضد مقدس جهاد او وسله وال قیام پیل سو؛ دیني مدارس او دزده

کړو مرکزونه د همدغو دین دښمنه کمونیستانو لخوا معطل، تخریب او یا د جګړو له امله زیانمن شول.

بالآخره حنیف صاحب په ۱۳۶۴ کال کي همسایه هیواد پاکستان ته هجرت وکړ او هلته یې د خیبر پښتونخوا په مختلفو مدارسو کي خپل تحصیل ته ادامه ورکړه، د ورځ دورې په شمول یې مروجه فنون تکمیل کړل او کله چي یې د دوره حدیث لپاره اراده وکړه په همدې وخت کي د هیواد د امنیت په موخه د طالبانو اسلامي تحریک پیل شو، قاري دین محمد حنیف د بدخشان د سلګونو نورو طالبانو په شمول د تحریک له کاروان سره ملګری شو او د کابل له فتحي وروسته د امارت د بشپړ حاکمیت تر پایه په ترتیب سره د پلان او لوړو زده کړو وزارتونو د وزیر په توګه پر مسئولیتونو پاتي شو.

له امریکایي اشغال او پر ضد یې د جهاد له پیل وروسته په ۲۰۰۳ میلادي کال د بدخشان د جهادي مسئول په حیث او په ۲۰۰۴ کال د سیاسي کمېسیون د غړي په توګه وټاکل شو، همدارنګه د عالیقدر امیرالمؤمنین مرحوم ملا محمدعمر مجاهد نورالله مرقده د فرمان په اساس د رهبری شوری غړی و ټاکل شو.

محترم قاري دین محمد حنیف په اوس وخت کي د رهبري شوری او مذاکراتي ټیم غړی او په سیاسي دفتر کي د منځنۍ آسیا له هیوادونو سره د اړیکو د اداري مسئول دی.

محترم ملا عبداللطیف منصور

ملا عبداللطیف منصور د الحاج شهید یار محمد ځوی د پکتیا ولایت زرمت ولسوالی د سهاک هیبت خیل په کلي کي کال ۱۳٤٦ هـ ش کي زیږېدلی دی. نوموړي تر پنځم ټولګي پوري د مکتب لوستلو ترڅنګ د لویې دورې پورې دیني زدکړې کړې دي. له طالب علمي څخه په سیاست کي فعال وو، سیاسي ژوند یې د تنظیم طلبه حرکت انقلاب اسلامي افغانستان کي د دعوت تنظیم مسؤل په حیث پیل کړی. د مجاهدینو د بریا وروسته په کال ۱۳۷۱هـ ش کي کله چي جهادي مشر ـ مولوي نصرالله منصور په شهادت ورسید نو ملا عبدالطیف منصور صیب یې ځاي ناستي او د پکتیا ولایت والي په حیث وټاکل شو. منصور صیب د طالبانو د تحریک په اوایلو کي په کال ۱۳۷۳ هـ ش کي د تحریک سره یوځاي شو او په مختلفو دندو یې خدمتونه کړي. ۱۳۷۳ هـ ش د هلمند ولایت د مرستیال والی په حیث او همدارنګه مختصره دوره د کندهار ښاروال په حیث او ۱۳۷۵هـ ش د کرنې او مالداري د وزیر په حیث دنده اجراء کړې. پر هیواد د امریکایي یرغل وروسته محترم منصور په کال ۲۰۰۲م کي د رهبري شورا غړی او د پکتیا ولایت نظامی مسؤل په حیث وټاکل شو. نوموړي تر ۹ کلونو پوري د پکتیا ولایت د نظامی مسؤل په توګه خدمت کړی. ددې نه علاوه منصور صیب د ننګرهار او لوګر ولایت د نظامي مسؤل په توګه هم دنده اجرا کړې، په ۲۰۰۸م کال کي د لنډې مودې لپاره یې د سیاسي کمیسون مشري هم کړې ده. مذاکراتي ټیم او قطر ته تر راتلو مخکي منصور صیب د مشرتابه دفتر رییس او بیا د زراعت او مالداری کمیسون مشر پاتې شوی. په ۲۰۱۹ کال فبروري کي منصور صیب د امریکایانو سره د مذاکراتي ټیم غړی وټاکل شو او اوس مهال د رهبري شورا غړی او د مذاکراتی ټیم غړی دی.

محترم حاجی ملا شیرین اخند

حاجي ملا عبدالله حنفي مشهور په ملا شیرین اخند د حاجي ملا محمد ابراهیم زوی دکندهار ولایت د ژړۍ ولسوالۍ د سنځري کلي اوسیدونکی دی.

حاجي ملا صاحب خپلي لومړنۍ زده کړي په خپل کور کي له خپلو اکابرو څخه چي په سیمه کي په علم سره مشهور وه تر لاسه کړي، ددوی کورنۍ په علماوو سره مشهوره وه، نوري زده کړې یې د حدیثو تر دورې پورې له مختلفو استاذانو څخه په بېلابیلو ختونو او ځایونو کي تر لاسه کړې دي.

د زدکړو په جریان کي یې د حالاتو د تقاضاء او غوښتنې په اساس بیلابیل جهادي خدمتونه هم ترسره کول چي له امله به یې د زده کړو تسلسل قطع شو، د مختلفو جهادي خدمتونو، مسئولیتونو او ملحوظاتو له امله یې و نسو کولای د ستاربندي وکړي.

کله چي روسانو ګران هیواد افغانستان اشغال کړ نوموړی مجبور شو چي دینی تعلیم ورته توقیف کړی، او د شرعي وجیبې د اداءکولو له امله یې د شوروي اشغال په مقابل کي جهاد پیل کړ.د جهاد پیل یې د کندهار ولایت د ژړۍ ولسوالۍ د تورطاق له غره څخه پیل کړ، لومړی د یوفرد او مجاهد په حیث وروسته یې د قومندان او یا مرستیال په حیث جهادي دندې ترسره کړي دي.

د اسلامي امارت په راتګ سره لومړی د یو فرد په حیث د طالبانو د اسلامي تحریک غړی شو، همدا راز یې خپل شخصي ـ تجارت هم پر مخ بیوه، خو کله چي د مرحوم امیرالمؤمنین ملا

محمدعمر مجاهد رحمه الله په کور باندې د دښمن لخوا يوه ستره چاودنه ترسره شوه، له هغه وروسته محترم ملا شيرين اخند د اميرالمؤمنين د امنيت ساتلو د مسئول په حيث وټاکل شو.

په ۲۰۰۱ م کال کې کله چې زموږ په هيواد د امريکا لخوا يرغل وشو، نو د امريکايانو په ضد يې په وسلوال جهاد او مبارزه پيل وکړ، لومړی يې د يو دلګۍ مشر په حيث جهاد ته ادامه ورکوله، وروسته د کندهار ولايت د ولايتي کميسيون مسئول، بيا په مرکزي نظامي کميسيون کې د لوېديځې حلقې د مسئول په حيث، بيا د هرات د والي په حيث، بيا د شمال او شرقي ولايتونو لپاره د عمومي نظامي کميسيون د مسئول په حيث جهادي دندې اجراکړې دي.

همدا ډول يې د اسلامي امارت د استخباراتو د کميسيون مسئوليت درلود، بيا يې د کندهار ولايت د والي او عمومي نظامي مسئول په حيث دنده اجراکوله، په عين حال کې يې د جنوب غربي ولايتونو لپاره د استشهادي کنډکونو د قومندان په حيث يې هم دنده درلوده.

په دا وروستيو کې د عاليقدر اميرالمؤمنين د حکم سره سم د اسلامي امارت په رهبري شورى کې د غړي په توګه او اوس دادى د مذاکراتي ټيم د غړي په توګه وټاکل شو، اوس د مذاکراتي ټيم د غړيتوب ترڅنګ د اسلامي امارت د رهبري شورا غړی هم دی.

محترم شيخ مولوی محمد قاسم راسخ

شيخ مولوي محمد قاسم راسخ د ملا جمعه نظر زوی د جوزجان ولايت د فيض اباد ولسوالۍ د انپيکال قريه کې په کال ۱۳۵۰ هجري شمسي کې زيږېدلی دی.

لومړنۍ عصري او ديني زدکړې يې په هيواد کې دننه او لوړې ديني زده کړې يې د هجرت په ديار کې تر سره کړې دي. په کال ۱۴۱۶ هجري قمري کې يې د مظهرالعلوم دارالعلوم - صوابۍ څخه دوره حديث کړې.

شيخ صيب د خپلې مورنۍ ژبې (ترکمن) سربېره په پښتو، دري او عربي ژبو برلاسی لري.

نوموړی د ترکمن قوم يو مخور مشر، جيد عالم او د حديثو استاد دی.

شيخ قاسم راسخ د هيواد په مختلفو ديني مدارسو کې پنځلس کاله د شرعي فنونو او عربي لغت تدريس کړی دی.

همدارنګه د هجرت په ديار کې لس کاله د دارالحديث (لويه دوره) شيخ او مدرس پاتې شوی دی.

نوموړی د ۲۰۰۷م څخه بيا تر ۲۰۱۶ پورې د افغانستان اسلامي امارت د دعوت او ارشاد کميسون غړی او د جوزجان ولايت د همدې کميسون مسؤول پاتې شوی دی.

محترم شيخ صيب د ۲۰۱۶ څخه تر ۲۰۲۰م پورې د ختيځ او شمالي شلو ولايتونو لپاره د نظامي محکمې د مرافعې قاضې پاتې شوی.

نوموړی اوس مهال د افغانستان اسلامي امارت د رهبري شورا غړی او د مذاکراتي ټيم غړی دی.

محترم مولوی فريد الدين محمود

محترم مولوي فريد الدين محمود د مرحوم مولوي محمد عالم زوي د پکتيکا ولايت مرکز شرڼې کې زيږدلی دی.

ابتدائي ديني زدکړې يې په هيواد کې دننه د خپل والد مرحوم او نورو جيدو علماء کرامو څخه کړې دي، نورې ديني زدکړې يې د پاکستان هيواد په کوهاټ او مردان سيمو کې کړې، د حديثو لويه دوره او فراغت يې د دارالعلوم حقانيه اکوړه ختک څخه په کال ۱۳۹۶ هجري قمري شعبان مياشت کې شوی.

د داود خان د واکمنې پر مهال د هجرت په ديار کې په کال ۱۳۹۵ هجري قمري د مرحوم مولوي جلال الدين حقاني او شهيد مولوي نصرالله منصور سره شناخته او ملګري شوی.

د مجاهدينو د بريا وروسته د پکتيکا ولايت والي پاتې شوی.

د امارت د واکمنې پر مهال په کابل کې د اکاډمې علومو د بشري علومو د معينيت په صفت دنده اجراء کړې.

پر هيواد د امريکا تر يرغل وروسته محترم فريد الدين د تعليم تربيې بخش او همدارنګه د تميز رياست د غړي په حيث خدمت کړی.

مولوی فريد الدين صيب اوس مهال د مذاکراتي ټيم غړی دی.

محترم مولوی مطيع الحق خالص

محترم مولوی مطيع الحق خالص د جهادي رهبر مولوی محمد يونس خالص رحمه الله زوی په قوم نبی خيل په۱۳۴۰ هـ ش کال د ننګرهارولايت خوګيانو ولسوالی قريه نکرخيل کې زيږدلی دی. لمړنۍ ديني زده کړې يې له خپل والد صاحب

رحمه الله او د خپلو دوه ترونو مولوی محمد یوسف او مولوی محمد اسحاق محق رحمهما الله تعالی څخه حاصلې کړې او ابتدائیه او منځنۍ زده کړې یې په همغې منطقې په ښوونځیو کې ترسره کړې. د کمونستانو له کودتا څخه وروسته د۱۳۵۷هـ ش کال د سرطان په میاشت کی ګاونډی هیواد پاکستان ته مهاجر شوی او پاتې دینی زده کړې یې د پښتونخوا په مختلفو مدارسو کې حاصلې کړې. همدارنګه په ۱۹۸۸م ۱٤۰۸ هـ ق کی د مدینې منورې له جامعې اسلامیې څخه په شرعیاتو کې د لسانس ترکچې او د لاهور پنجاب پوهنتون څخه په اسلامیاتو کی د ماسترۍ سند ترلاسه کړی. د دې سر بیره په ۱۹۹۰ او ۱۹۹۱ م کلونو کې د پیښور په امداد العلوم مدرسه کې د لویې دورې د حدیثو کتابونو لوستلو سعادت هم ترلاسه کړی. محترم مولوي صیب د قرآن کریم حافظ دی، نوموړی د خپلې مورنۍ ژبې سربیره په دري، اردو او عربي ژبو خبرې کولی شی. مولوی مطیع الحق خالص د ۱٤۰۸ هـ ق کال څخه د الهجرة والجهاد په مدرسه کی داستاذ په صفت او بیا وروسته په اسلامی حزب کی د تعلیم اوتربیې د ریاست په چوکاټ کې د خارجي مؤسساتوسره د ارتباط د مسؤل په صفت دندې اجرا کړې. د شوروي اتحاد د اشغال او کمونستي نظام د سقوط څخه وروسته د کال ۱٤۱۲هـ ق څخه داستاذ برهان الدین ربانی د دولت او بیا د اسلامی امارت د قیام په دوران کې دننګرهار ولایت د تعلیم او تربیې ریاست د معاون په صفت دندې اجراء کړې. د امریکا تر اشغال وروسته مولوي مطیع الحق خالص د خپل والد جهادی رهبر مولوی محمد یونس خالص رحمه الله په نقش قدم د جهاد لار خپله کړه او د مجاهدینو رهنمایي او د خلکو په هڅولو کې یی رغنده رول ولوبولو. مولوی صیب تیر کال د ۲۰۱۹م کال فبروري میاشت کې د امریکایانو سره د مذاکراتي ټیم د غړي په حیث وټاکل شو. نوموړی اوس مهال د سیاسي دفتر او د مذاکراتي ټیم غړی دی.

محترم ملا خیرالله خیرخواه

محترم ملا خیرالله خیرخواه د مرحوم سید ولي زوی د کندهار ولایت ارغستان ولسوالي په ګوهري کلي کې زیږیدلی.

د کمونیستي کودتا وروسته په کوچنیوالي کي یې د خپلې کورنۍ سره پاکستان ته هجرت کړی او هلته یې د بلوچستان په سرانانو کمپ، د کوټې ښار، بیا د چراټ جامعه محمدیه او کوهاټ کې دیني زدکړې ترسره کړي دي.

ملا خیرالله خیرخواه د قرآن کریم حافظ دی، نوموړی د خپلې مورنۍ ژبې نه پرته په دري، عربي، انګلیسي- او اردو ژبو روانې خبرې کولی شي.

د شوروي پر خلاف جهاد کې یې عملا برخه اخیستې او بیا د طالبانو اسلامي تحریک د پیل سر سم د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ په هیواد کې د فساد د له منځه وړلو او امن راوستلو په هدف کار پیل کړ، د کابل له فتحې مخکې یې د طالبانو د ویاند په حیث دنده اجراء کړې.

د افغانستان اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال د کورنیو چارو وزیر او وروسته د جنوب غرب حوزې تنظیمه رئیس او د هرات د والي په توګه وظیفه اجراء کړې.

پر هیواد د امریکا د یرغل وروسته نوموړی په ۲۰۰۲م کال په پاکستان کې ونیول شو او بیا امریکایانو ته تر سپارلو وروسته په ۱/ ٥/ ۲۰۰۲م تاریخ د کیوبا ګوانتنامو زندان ته ولیږدول شو او هلته څه باندې دیارلس کاله بندي و.

ملا خیرالله خیرخواه په ۱/ ٦/ ۲۰۱٤م د یو امریکایي بندي سره د تبادلې په نتیجه کې د څلورو نورو طالب مشرانو سره یوځای ازاد او قطر ته انتقال شو.

نوموړی په ۲۰۱۸ کال کې د سیاسي دفتر او د امریکایانو سره د مذاکراتي ټیم د غړي په حیث وټاکل شو. او اوسمهال د سیاسي دفتر او د مذاکراتو د ټیم غړی دی.

محترم شیخ مولوی شهاب الدین دلاور

محترم شیخ شهاب الدین دلاور د مرحوم مولوي سید اکبر دلاور زوی په ۱۳٤۱هـ ش کال د لوګر ولایت په مرکز کې زیږیدلی دی. دیني زده کړې یې له خپل پلار او د لوګر ولایت په مختلفو مدرسو کې ترسره کړې. د کمونیستي کودتا نه وروسته له خپلې کورنۍ سره پیښور ته مهاجر شو. په ۱۳٦۲هـ ش کال د اکوړې خټک له دارالعلوم حقانیه څخه فارغ او د پیښور په مختلفو دیني مدارسو کې یې تدریس کړی. د طالبانو د واکمنۍ پرمهال په پیښور کې جنرال قونصل و، بیا په اسلام اباد او وروسته په سعودي عربستان کې سفیر پاتې شوی. دغه راز یې د سترې محکمې د قضایي مرستیال او د کندهار ولایت د تمیز ریاست دندې هم ترسره کړې. پر هیواد د امریکا تر یرغل وروسته نوموړی د سیاسي کمیسون غړی وټاکل شو. مولوی شهاب الدین اوس مهال په سیاسي دفتر کې د افغاني جهتونو سره د اړیکو د ادارې مسؤل او د مذاکراتي ټیم غړی دی.

محترم ملا عبدالحق وثیق

محترم ملا عبدالحق وثیق د ملا محمد سلیم زوی د غزنی ولایت د خوګیاڼی ولسوالۍ د غریب کلا کلي اوسیدونکی دی. ابتدایی زدکړې یې د خپل والد محترم سره او نورې دیني زدکړې یې د هیواد په مختلفو مدرسو کې حاصلې کړي، د لویې دورې ځیني کتابونه یې د هیواد په تاریخي پل خشتي جومات کې د ستر دیني عالم کوڼ اخندزاده سره ویلي. وثیق صیب د قرآن کریم حافظ دی او د عربي په شمول په دریو ژبو رواني خبرې کولی شي. نوموړي خپل سیاسي ژوند د طالبانو د اسلامی تحریک څخه پیل کړی دی او د تحریک په ابتداء کې د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد سره ملګری شوی. وثیق صیب د طالبانو د حکومت په دوران کې مختلفې دندې ترسره کړي، په ابتداء کې د نیمروز ولایت د اطلاعات او کلتور ریس، د کندهار ولایت امنیه قومندان، د کابل د فتحې وروسته د استخباراتو عمومي ریاست د کفیل او اوپراتوفي معین په حیث او همدارنګه په وروستیو وختو کې د کندهار ولایت د استخباراتو ریاست دنده هم اضافي ورسپارل شوې وه. ملا عبدالحق وثیق د کابل امنیتي کمیسون چې د هغه وخت معاون رئیس الوزراء تر مشرې لاندې و، غړیتوب درلود او سیاسي کمیسون چې د هغه وخت وزیر خارجه تر مشرۍ لاندې و، هم غړی پاتې شوی. پر هیواد د امریکا تر یرغل وروسته وثیق صیب د امریکایانو لخوا په غزني کې ونیول شو او شاوخوا دولس کاله په ګوانتانامو زندان کې بندي و. د۲۰۱٤م د جون په لومړۍ نیټه د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د یوې تبادلې په نتیجه کې د څلور نورو ملګرو سره یوځای آزاد او قطر ته انتقال شو. نوموړی په ۲۰۱۸م کال کې د طالبانو سیاسي دفتر غړی او په ۲۰۱۹م فبروري کې د امریکایانو سره د مذاکراتي ټیم غړي وټاکل شو. او اوسمهال په سیاسي دفتر کې د اروپایی هیوادونو سره د اړیکو د اداري مسؤل او د مذاکراتي ټیم غړی دی.

محترم مولوی محمد نبی عمری

محترم مولوي محمد نبي عمري د حاجي محمد عمر زوي د خوست ولایت اسماعیل خیلو ولسوالی د شمشي- خیلو کلي کې په کال ۱۹۷۱م کې زیږدلی. نوموړي ابتدایي زد کړې په هیواد کې دننه کړي دي، د پخواني شوروي اشغال وروسته پاکستان ته مهاجر شوی او پاتې دیني زدکړې یې د هجرت د دیار په دیني مدرسو کې بشپړې کړې دي. د دیني زدکړو او وفاق المدارس سند ترلاسه کولو وروسته یې ٥ کاله تدریس کړی دی. عمري صیب د قرآن کریم حافظ دی او همدارنګه د پښتو او درې ژبو ترڅنګ په عربي ژبې بشپړ تسلط لري. عمري صیب خپل سیاسي او نظامي مبارزه د جهادي مشر محترم مولوي جلال الدین حقاني مرحوم تر مشرې لاندې پیل کړې وه. د شوروي پر خلاف یې عملي جهاد کړی او په مختلفو جنګونو کې پنځه وارې ټپي شوی. د کمونیستانو تر سقوط وروسته د پخواني ریيس جمهور استاد برهان الدین رباني په وخت کې نوموړي د اهل الحل والعقد شورى کې د خپلې ولسوالۍ په نمایندګۍ د وکیل په صفت ګډون کړی وو. عمري صیب د مجاهدینو په حکومت کې په کال ۱۹۹۲م کې د خوست ولایت د امنیه قومندانۍ معاون په حیث دوه کاله خدمت کړی او د طالبانو اسلامي تحریک چې لا کابل نه وو نیولی د زابل ولایت امنیه قومندان په حیث یې وظیفه اجراء کړې. د کابل تر فتحې وروسته عمري صیب د افغانستان د سرحدي قوه د عمومي قومندان په توګه وټاکل شو. پر هیواد د امریکا تر یرغل وروسته عمري صیب د ۲۰۰۲م کال سپتمبر میاشت کې د امریکایانو لخوا ونیول شو او شاوخوا دولس کاله په ګوانتانامو زندان کې بندي و. بلاخره د۲۰۱٤م د جون په لومړۍ نیټه د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د یوې تبادلې په نتیجه کې د څلور نورو ملګرو سره یوځای آزاد او قطر ته انتقال شو. نوموړی په ۲۰۱۸م کال کې د اسلامي امارت دسیاسیدفترغړیاو په۲۰۱۹م فبروري کېدامریکایانو سره د مذاکراتي ټیم غړي وټاکل شو. عمري صیب اوسمهال په سیاسي دفتر کې د ملګرو ملتونو او نړیوالو مؤسساتو سره د اړیکو د اداري مسؤل او د مذاکراتي ټیم غړی دی.

محترم محمد سهیل شاهین

محترم محمد سهیل شاهین د مرحوم حاجي غلام محمد خان زوی د پکتیا ولایت د احمد ابا ولسوالۍ اوسیدونکی دی.

د کابل پوهنتون له انګلیسی ډیپارټمنټ څخه لیسانس او همدا راز په ژورنالیزم کې ډیپلومه لري. دیني زدکړې یې تر موقوف علیه دورې پورې کړې دي.

د پخواني جهاد پرمهال د فرهنګي مبارزې د ډګر فعال پاتې شوی او په ګڼو مجلو کې یې لیکنې خپرې شوې. نوموړی تکړه لیکوال دی او د پښتو سربېره په انګلیسي ژبه هم لیکنې کوي، همدارنګه د خپلې مورنۍ ژبې علاوه په دري، عربی انګلیسی او اردو ژبو رواني خبرې کوي.

د پخواني شوروي اتحاد په خلاف د جهاد په دروان کې د محترم مولوي نصرالله منصور د حرکت انقلاب اسلامي تنظیم اړوند مجلې (خدام الفرقان) او اخبار (TheVoice of Mujahid) مدیر او همدا راز د مجاهدینو د اوه ګوني اتحاد لخوا د خپریدونکي مجلې (The Jihad Rays) مدیر پاتې شوی. نوموړي د مولوي نصرالله منصور د حرکت انقلاب اسلامي تنظیم د سیاسي کمیټې د مرستیال په توګه هم دنده ترسره کړې.

د افغانستان اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال د (The Kabul times) ورځپاڼې رئیس و. بیا په نیویارک کې د ملګرو ملتونو لپاره د افغانستان اسلامي امارت د نمایندګۍ مرستیال او وروسته په اسلام اباد کې د افغانستان اسلامي امارت سفارت د مرستیال په توګه وګومارل شو.

پر هیواد د امریکایی یرغل وروسته یې د اسلامي امارت په فرهنګي برخه کې فعالیت درلود او د الاماره ویبپاڼې د انګلیسي برخې مدیر پاتې شوی.

محمد سهیل شاهین صیب په سیاسي دفتر کې د ویاندۍ تر څنګ د مختلفو ادارو مشري کړې او اوس مهال د سیاسي دفتر غړی او د مذاکراتي ټیم غړی دی.

محترم ملا محمد انس حقاني

محترم ملا محمد انس حقاني د ستر جهادي شخصیت محترم مولوي جلال الدین حقاني رحمه الله کشر زوي د پکتیا ولایت ګرده څیرۍ ولسوالی د کنډو کلی اوسیدونکی دی چې په کال ۱۹۹٤ م کې زیږدلی دی. د مکتب لوستلو ترڅنګ یې تر وړې دوړې دیني زدکړې کړې دي. د خپلې مورنۍ ژبې نه علاوه په دوه نور ژبو هم خبرې کولی شي. د سیاست او کمپیوټر په برخه کې یې لنډمهاله روزنیز کورسونه کړي دي، لا د تعلیم مرحله یې بشپړه شوې نه وه چې د امریکایانو لخوا پداسې حال کې ونیول شو چې قطر هیواد ته د خپل یو عزیز د ملاقات لپاره تللی وو. شاوخوا ٥ کاله د بګرام زندان کې بندي و، د ۲۰۱۹م کال په نومبر کې د دوو بهرنیو استادانو سره د تبادلې په نتیجه کې د دوه نورو ملګرو سره یوځای ازاد او قطر ته انتقال کړل شو. نوموړی د ۲۰۱۹م کال فبروري کې چې لا په زندان کې و، د امریکایانو سره د مذاکراتي ټیم غړی وټاکل شو. انس حقاني اوس مهال په قطر کې د سیاسي دفتر مطبوعاتي اداري غړی او ورسره د مذاکراتي ټیم غړی دی.

محترم ډاکتر محمد نعیم

ډاکتر صاحب محمد نعیم د شهید ډاکتر آغاجان زوی، د میدان وردګو ولایت، د چک ولسوالۍ د عربانو درې د بهادر خان په کلي کې په ۱۳۵۳ هـ ش کال کې نړۍ ته سترګې غړولې دي.

په ۱۳۵۹ هـ ش کې یې چې کله والد مرحوم د روسانو او کمونیستانو له خوا په شهادت ورسول شو، لومړنۍ دیني زده کړې او د دري ژبې د نظم کتابونه یې له خپل اکا مرحوم ملا صاحب امیر جان څخه لوستي، ابتدایي عصري زده کړې یې دکابل ولایت په سپین کلي ښوونځي کې کړې دي، پاتې زده کړې یې د خپلې سیمې عربانو په لیسه کې او شهادت مدرسه کې وکړې او د قرآن کریم حفظ یې هم کړی.

د تعلیمي سلسلې جاري ساتلو په موخه په ۱۳۷۴- ۷۵ هـ ش کې ګاونډي هېواد پاکستان ته لاړ، په ۱۳۷۸- ۷۹ هـ ش کې یې په پېښور کې د عربي ژبې او اسلامي زده کړو له پوهنځۍ څخه لیسانس تر لاسه کړ.

په ۲۰۰۴ یې په لوړ امتیاز (ګولډ میډلست) د سره زرو مډال په تر لاسه کولو سره تکمیل کړه.

په همدې (۲۰۰۴) کال کې یې په نوموړي پوهنتون کې د دکتوراه مرحلې ته داخله وکړه، په ۲۰۰۵ کې یې درسونه تکمیل کړل، او په ۲۰۱۰ کې یې رساله تکمیل کړه، البته د رسالې مناقشه یې لا پاتې ده.

له پیله یې د عصري تعلیم تر څنګ له وخت نه په استفادې سره همهاله دیني زده کړې هم کولې،خصوصا په رخصتیو کې، په ۲۰۰۶ م کې یې په دار العلوم حقانیه کې دوره حدیث وکړه او د فضیلت پګړۍ یې وتړله، د یادونې ده چې په دوره حدیث کې تقریبا په نهه سوه فاضلانو کې یې لومړی مقام تر لاسه کړ.

له ۲۰۰۸ تر ۲۰۰۹ د اسلام آباد په نړیوال اسلامي پوهنتون کې تدریس کړی. او له ۲۰۰۹ تر ۲۰۱۱ پورې په پېښور کې د عربي ژبې او إسلامي زده کړو پوهنځۍ کې تدریس کړی.

د امریکایي یرغل له پیل سره سم داسلامي امارت په لیکو کې د زده کړې تر څنګ یې فکري، جهادي، فرهنګي او سیاسي فعالیت شروع کړی، او په دې لړ کې یې د دښمن له خوا د زندان سختۍ او تکالیف هم ګاللي دي. له ۲۰۱۰ کال راهیسې د افغانستان اسلامي امارت په سیاسي دفتر کې په خدمت بوخت دی.

ابوظهيرم: شمس

د اسلامي حاکميت جوړولو کړنلاره!

د اوږدې او تاريخي جهادي مبارزې وروسته امريکايي اشغالگر ديته اړکړای شول چې له افغانستانه د خپلو اشغالگرو ځواکونو د يستلو په هوکړه ليک لاسليک وکړي، کوم سره سم چې دځواکو نو عملي انخلاء هم پيل شوې ده.

د هوکړه ليک پر ژمنو که څه هم عمل سست روان و او کابل رژيم د بنديانو خوشي کولو پروسې دتکميل کيدو په وړاندې د خنډونو او موانعو ايجادولو ناکا مه هڅې وکړي، خو د فشارونو په نتيجه کې يې د هوکړه ليک له ژمنې سره سم ۵زره بنديان خوشي کړل او د بين الافغاني خبرو شروع کولوته يې په نه زړه لاره هواره کړه.

نو هغه و چې د روان ۲۰۲۰ز کال ستمبر په ۱۲مه نيټه د قطر په پلازمېنه دوحه کې دافغانستان اسلامي امارت دمذاکراتي ټيم او د نورو افغاني ډلو ټپلو نه د جوړ مذاکراتي ټيم ترمنځ د نړيوالو په حضورکې د مخامخ خبرو پرانيستنه وشوه.

له هغه راهيسې په رسنيوکې د اسلامي نظام او اسلامي حاکميت په اړه مختلف بحثونه او تبصرې جريان لري، ځينې افغانستان کې دنورې نړۍ پشان يو ازاد خيال او سيکولر نظام رامنځته کول غواړي او د غربيانو خوشالولو لپاره د اسلامي نظام سره ځرګند مخالفت کوي، هغوی غربي ديمکراسۍ د يومثالي بشري نظام په توګه وړاندې کوي، او دمغرب پشان د ما درـ پدر ازادي ليوال او ار مانجن دي.

بلخوا د هيواد قاطع اکثريت مسلمانان په بيا کلکه د اسلامي نظام د نفاذ غوښتونکي او ارمانجن دي، د هغوی د ژوندانه لويه ارزو او هيله په افغانستان کې د راشده خلافت په څېر د يو عادلانه نظام جوړيدل دي.

ډيری خلک په خولو د راشده خلافت نوم اخلي او د نفاذ غوښتنه يې کوي، خوکله نه کله هغوی د راشده خلافت ترعنوان لاندې ځينې نا اسلامي قوانين اسلامي تصور کوي،زکه هغوی اصلاً د راشده خلافت دسياسي معيارونو، ځانګړتياوو او اصولو په اړه کما حقه معلومات نلري، يواځې هم دومره پوهيږي چې راشده خلافت يو ښه ع نظام دی اوبس!له دې ور هاخوا د خلافت مفهوم، تعريف، تاريخ، شرعي حکم او عملي کړنلاره يې نه پيژني،تردې پورې چې دا ستونزه يواځې ترعامو وګړو پورې محدود نده بلکې ډيری خواص مو هم په دې برخه کې د معلوماتو د فقر ښکارد ي،په خواله رسنيو کې موږهره ورځ وينو چې ځيني جذباتي مبارزين اکثر د خلافت په نامه غير شرعي مواد او افراطي پوستونه نشرکوي، او هغو ته کمپاين جهاد اواسلامي مبارزه تصورکوي بناً په دې ليکنه کې موږ هڅه کوو څو د راشده خلافت د تعريف او مفهوم بيانو لو سربيره په لاندې د رې خبرو هم بحث راټول کړو:

لومړی :د اعتقادي او شرعي اړخه دخلافت اعتقادي اهميت او شرعي حکم بيانول!

دوهم : له تاريخي پلوه خلافت کله پيل شو، څنګه او کله پای ته ورسيد؟

دريم: ايا په اوسني وخت کې د اسلامي خلافت يا اسلامي حاکميت جوړولو لپاره کومه عملي کړنلاره هم شتون لري؟

د خلافت: مفهوم او تعريف:

تر ټولو دمخه د خلافت مفهوم څه دی؟ او هرکله چې دا لفظ و يل کېږي مراد ورڅخه څه کيدای شي؟ د خلافت لفظي معنی ده «نيابت ــ ځای ناستی»

په عظيم الشان قرآن کې د خلافت لفظ ترټو لو د مخه حضرت ادم عليه السلام باره کې د بشري نسل لپاره کارول شوی دی، کله چې الله تعالی فرښتو ته و فرمايل: زه، زمکه کې خليفه جوړونکی يم(البقره) دلته خليفه نه مراد حضرت ادم عليه السلام او د هغه نسل دی يعنې د دې ارضي کائنات نظام الله تعالی بشري نسل ته سپارلی دی

او هغه د دې نظام په چلولو کې د الله تعالی نایب دی، د خلیفه لفظ په قرآن پاک کې د حضرت داود علیه السلام په باره کې هم استعمال شوی دی، څوک چې د بني اسراییل لپاره پیغمبر او د هغوی پاچا و، الله تعالی ورته وفرمایل: اې داوده! ته! مونږ په زمکه کې خلیفه ګرځولی یې، د خلکو ترمنځ فیصلې په حق سره کوه او د هوس پیروي مه کوه (ص) په هر صورت دخلافت معنی نیابت دی او معنی یې داده چې بشري نسل په دې ارضي کائنات کې خپلواک او ازاد نه دی؛ او نایب دی، او د خپلې کاري دایرې د واکونو په محدوده کې پابند او تړلی دی.

عظیم الشان قرآن دامفهوم په بل انداز هم بیان کړی دی کله چې حضرت ادم علیه السلام او حضرت حوا جنت نه زمکې ته ښکته لیږدول کیدل، الله تعالی هغوی ته وفرمایل:تاسو! دواړه زمکې کې ښکته شئ، پس زموږ لخوا به تاسو ته هدایت درځي، چا چې د هغه پیروي وکړه هغه به له غم او ډار نه نجات و مومي او چا چې ترې انکار وکړ،هغه به د اور سون توکي وګرځي(البقره)دا هم د خلافت یو تعبیر دی، چې د نیا کې بشر پخپل ژوند کولو کې مطلقاً ازاد یا خپلواک ندی، بلکې د اسماني لاربښو ونو تابع دی، کومې چې د انبیاء علیهم السلام په زریعه رالیږل شوي دي او د وحې په صورت کې له ادم علیه السلام نه شروع او په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مکمل شوي دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ګڼو ارشاداتوکې دخلافت لفظ استعمال کړی دی، دبخاري شریف په یو روایت کې دا ټول سیستم بیان شوی دی: چې بني اسراییل کې به سیاسي قیادت د پیغمبرانو علیهم السلام په لاسونو کې وو، کله به چې یو نبي رخصت شو، دهغه پر ځای به بل نبي راغی، او روستی نبي زه یم ، له ما وروسته بل نبي نه راځي، البته له ما وروسته به خلفاء وي،په دې ارشاد کې رسول الله صلی الله علیه وسلم خلافت د سیاسي قیادت په معنی کې بیان کړی دی او د ا یې هم ښکاره کړې ده چې له ما وروسته به سیاسي قیادت او واکمنې د خلفاوو په لاسونو کې وي.

همدېته په کتو حضرت امام شاه ولی الله دهلوي پخپل مشهور کتاب ازالة الخفاء کې چې د خلافت کوم تعریف کړی دی، هغه کې یې خلافت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نیابت سره تعبیر کړی دی، هغه فرمایي: خلافت دهغه عامه اقتدار یا واک نوم دی، کوم چې به ټولنه کې د دیني چارو قایمولو مسؤلیت سرته رسوي، د امنیت راوستلو چارې به تنظیموي ، خلکو ته به انصاف رسوي، د اسلامي احکامو نا فذولو مسؤلیت به پوره کوي، د جهادي فریضې اداء کولو اهتمام به کوي، د دې ترڅنګ حضرت شاه ولی الله فرمایي: چې "نیاباتاً عن النبي" عامه واک به د رسول الله صلی الله علیه وسلم دنایب په حیث وي! ګواکې زموږ د خلافت مقصد دادی چې د مسلمانانو سیاست، قیادت، او واکمنې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم دنائب په توګه سرته رسول کېږي، همدا وجه وه چې لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته « خلیفة رسول الله» ویل کیدل، زکه د ا میر المؤمنین اصطلاح وروسته د حضرت عمر رضی الله عنه په دور کې دهغه لپاره غوره کړای شوه.

تاریخي کشمکش:

دلته مناسب ده پر هغه تاریخي کشمکش هم یو ځغلنده نظر واچوو، کوم چې دبشري نسل د پیل نه د خلافت او بشري ذهن د زیار او کوښښ ترمنځ رامنځته شوی، اوتر نن پورې په شد و مد سره جریان لري، د بشري نسل د پیل نه ترننه په بشري ټولنه کې چې کومو قوانینو او ضوابطو واکمنې کړې ده هغه په اساسي توګه په دوه ډوله دي:

۱ــ یوپلو ته د ژوندانه هغه نظامونه دي کوم چې بشري ذهن پخپله تشکیل کړي دي،او په مختلفو صورتو نوکې یې په بشري ټولنو واکمنې کړې ده، په هغوکې کورني شاهي رژیمونه، شخصي ـ امپراطورۍ،جماعتي اوحزبي امیریتونه،اوقبیلوي برلاسی هم رازي،په ورته توګه د ځینو قومونولخوا د واکمنۍ لپاره ځانونه مختص کول هم په دې کې راځي، خو د اټول د بشري ذهن زیږنده دي؛چې کله یوکې شخصي ذ هنیت اغیز لاره، کله به یوکې داجتماعي ذهن رول و، او کله به یوکې قبیلوي او طبقاتي ذهنیت مؤثر و، د دې ټولو مرحلو نه په تیریدو اوس بشري ذهن د مغربي جمهوریت یا ولسواکۍ په صورت کې د خپل عروج تر پولو رسیدلی دی، کوم چې د دې پورته یادو مرحله وار نظامو نو پرمختللی او وروستی صورت دی، او پخپله د مغربي مفکرینو په قول:اوس له دې وروسته بشري ذهن له دې څخه غوره نظام نشي وړاندې کولی، کوم چې هغوی په « اینډ آف هسټري» سره تعبیر وي.

۲ــ بل پلو ته په الهي وحي بانـدې ولاړ نظـام دی، کـوم چـې د ادم علیه السلام څخه پیل شوی او په حضرت محمد صـلی اللـه بانـدې دنازل شوې وحي په صورت کې مکمل شوی دی او عملي تعبیر تـرې په راشده خلافت سره کېږي.

یاد دواړه نظامونه مکمل شوي دي او هریو خپلـې، خپلـې انتهاتـه رسیدلی دی،اوس د دواړو ترمنځ د وروستۍ مقابلې میدان دی، تـرمنځ یې فاینل لوبه روانه ده، له دې دواړو څخه هریوه چې بری ترلاسه کـړ، هغه به په بشري تولنـه واکمنـې کـوي، دا د تـاریخ فیصـله ده، د تـاریخ عمل دی، هیڅوک دا گرځولی نشي، زمـوږ پـه دې ایـمان دی چـې پـه دې مقابله کې به وروستی بری د اسلام وي، د خلافـت بـه وي، د الهـي وحي به وي، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ارشاد سره سم بـه د دې مقابلې وروسـته د اسـلام غلبـه وي! او یـو وخـت بـه داسـې هـم راځي، چې د ځمکې پر مخ به د «لا اله الا الله» ویونکـو نـه عـلاوه بـل څوک شتون نلري دا دور به په هرصورت راځي او د رسـول اللـه صـلی الله علیه وسلم دا ارشاد بـه پـوره کېـږي، خـو د دینـه وړانـدې یـو اوږد کشمکش او تاریخي ټکـر اولـوی تصـادم بـه ضرور رامنځتـه کېـږي او وروستۍ فیصله کوونکې مرحله راتلونکې ده چې د هغې نه پـه تیریـدو سره به موږ د خلافت او اسلامي حاکمیت دورته ننوزو. ان شاء الله.

د خلافت شرعي حکم :

د خلافت د مفهوم او تاریخي کشمکش په اړه د یا دونې وروسـته موږ د هغه شرعي حکم لورته درومو،کوم چې فقهاوو په ښه وضـاحت سره بیان کړی دی، بالخصوص امام ولی الله دهلوي وربانديې ښـه پـه تفصیل سره رڼا اچولې ده، فقهاوو د خلافـت قـایمول واجـب بلـلي، او امام ابن حجر مکي پخپل کتاب « الصواعق المحرقـه»کـې ورتـه «اهـم الواجبات» ویلي،یعنې دټولو واجباتو نه قوي واجب؛ دهغه په وینـا:چې صحابه وو په نزد، دې واجب دومره اهمیت درلـود، چـې د رسـول اللـه صلی الله علیه وسلم د تجهیز و تکفین څخه یـې هـم مقـدم وگڼـه او د رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم د و صـال وروسـته صـحابه وو سملاسي لومړی خلیفه (حضرت ابوبکر صدیق رض) غوره کـړ اوبیـا یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تجهیز و تکفین وکړ.

حضرت امام شاه ولی الله دهلوي په ازالة الخفـاء کـې تـر قیامتـه مسلمانانو لپاره فرض کفایي گرځولی دی، یعنې که د نړۍ په هـیڅ یـوه برخـه کـې د خلافـت نظـام شـتون و نلـري، لـه املـه یـې د ټـولې نـړۍ مسلمانان گناه گاردي، حضرت شاه ولي الله دهلوي دشرعـي خلافـت قایمولو په وجوب لاندیني درې دلایل وړاندې کړي دي:

لـومړی دلیـل: د رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم د و فـات وروسته دصحابه وو لـومړۍ اجـماع دخلافـت پـه جوړولـو شـوې، او هغوی د رسول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم د تجهیـز وتکفیـن څخـه وړاندې دخلیفه ټـاکلو او اسـلامي حاکمیـت د رامنځتـه کولـو فریضـه سرته ور سوله.

دوهم دلیل: حضرت شاه صیب رحمه اللـه د رسـول اللـه صـلی الله علیه وسلم دا ارشاد وړاندې کوي: چې هر شخص مړشو او دهغـه په غاړه کې بیعت نه و، هغه د جاهلیـت پـه مـرگ بانـدې ومړ،حضـرت امام ولي اللـه دهلـوي دلتـه دبیعـت نـه مـراد دخلافـت بیعـت اخـلي او دهرمسلمان لپاره یې ضروري گڼي.

دریم دلیل: شاه صیب وایي: کوم کارچې د یو فرض د اداء کولـو لپاره ضروري وي، هغه هم فـرض گرځـي، مـثلاً: او دس فـرض نـدی، خو د لمونځ د اوداسه پرته نه کېږي، نـو پـه دې وجـه د لمانځـه لپـاره او دس هم فرض گرځي، همدا راز په ټولنه کـې داسـلامي ارکـانو قیـام، د جهاد اهتمام، د قضائي نظام قیام، امنیـت قـایمول،او د اسـلامي علومـو احیا، داټول فرایض دي،او د دې ټولو فرایضو اداء کـول د خلافـت قیـام پرته امکان نلري ، له دې وجې د خلافت قیام د دې یـادو مقاصـدو لپـاره هغسې فرض دی څنگه چې د لمانځه لپاره او دس فرض دی.

د خلافت (اسلامي حاکمیت) سیاسي اهمیت:

دخلافت دشرعي اهمیـت یـا حکـم سربیـره د خلافـت یعنـې د اسلامي حاکمیت سیاسي اهمیت ته پـام گرځـول هـم اړیـن دي،اوپـه دې لړکې یـوه واقعـه لـه دې وجـې د پـام وړده،چـې ور سره د اسـلامي حاکمیت سیاسي اهمیت پېژندنه په اسانه کیدای شي، کله چې په هنـد انگریزان واکمن وو، هغوی نه د ازادۍ ترلاسه کولو مخکښ قاید شـیخ الهند مولانا محمودالحسن دیوبندي رحمه الله په مالټـاکې قیـدي و، ور سره شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مـدني هـم بنـدي و، او هلتـه یـو انگریز صاحب منصب هم دکوم جرم له امله دبنـد سـزا لنـډ و لـه، او دا هغه زمانه وه چې دترکیې عثماني خلافت کوم چې شاوخوا پنځـه سـوه کاله داسلامي نړۍ قیادت او رهبري کړې وه، وروستۍ سـلگۍ کـولې او د برتانیې، فرانسـې اټالیـا پـه گـډون ټولـه اروپـا د هغـه (خلافـت) د ړنگولو په سازشونو بو خت وو، یوه ورځ مولانا حسین احمد مدني لـه

انګریز صاحب منصب نه و پو ښتل:تاسو دیو کمزروي او تش په نامه حکومت په ړنګولو پسې ولې دومره جدي یاست؟ ایا تاسو له عثماني خلافت نه هم ډار احساسوئ؟ په ځواب کې هغه انګریز وویل: داخبره دومره ساده هم نده څومره یې چې ته ګڼې! دا سمه ده چې عثماني خلافت اوس مهال یو کمزوری حکومت دی، پخوانی رعب او دبد به یې پاتې نده، خو یو ځواک له هغه سره اوس هم شته او هغه دی د «خلافت لفظ» او د«امیر المؤمنین اصطلاح» زکه چې د خلافت په لفظ کې دومره ځواک دی که دخلیفه له لوري د هرکافر پخلاف د جهاد اعلان وکړای شي، نو د ټولې نړۍ په مسلمانو ځوانانوکې به جهادي ولولې او جذبې په غورځنګ راولي او یو جذباتي کیفیت به رامنځته کړي، موږ د دې ځواک څخه ډاریږو، او په دې وجه هغه دلمنځه وړل غواړو، نو ربښتیا هم انګریزانو د عثماني خلافت په ضد سازشونه وکړل، هغه یې ړنګ کړ، دهغه وروسته د مسلمانانو د سیاسي مرکزیت په عنوان بله کومه مرجع پاته نشوه، په سبب یې مسلمانان نړۍ کې د پراخ انتشار او افتراق ښکار شول

د خلافت (اسلامي حاکمیت) تاریخي ارخ:

داسلامي خلافت تاریخي ارخ دا دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دیرش کاله وروسته د راشده خلافت دوره وه، کومه چې د خلافت مثالي دوره وه، د هغه وروسته د عامه خلافت دوره شروع شوه، حضرت شاه ولي الله رحمه الله فرمایي: د راشده خلافت دوره تریرش کلو غځیدلی شوه، زکه چې د هغه وروسته د سختو شرایطو حاملین اشخاص پاته نشول، وروسته دعامه خلافت دوره راغله، په کومه چې د راشده خلافت اطلاق نه کېږي، خو د دې دا مطلب هیڅکله ندی چې وروستي خلافتو نه (معاذ الله)غیر اسلامي وو، بلکې وروستي خلافتو نه اسلامي وو، د امت ټولو علماوو په هر وخت او هره زمانه کې هغه منلي دي او په هغوکې:

لومړی د بنو امیه وو خلافت و، کوم چې د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه څخه شروع او ترنوي کلونو یې دوام وکړ.

۲- د بنو امیه خلافت له خلیفه «مروان ثاني» څخه عباسیانو خلافت واخیست، په دې سره اموي کورنۍ هسپانیې ته هجرت وکړ،او هلته یې شاوخوا اته سوه کاله د خلافت بیرغ پورته کړی و، د عباسي خلافت پیل له سفاح نه و شو او نیږدې پنځه سوه کاله قایم و، تردې چې د مستعصم با الله په دورکې هلاکوخان د بغداد ړنګولو څخه وروسته عباسي هم خلافت ړنګ کړ.

له هغه وروسته بنوعثمان دخلافت بیرغ پورته کړ، هغوی ترکان وو، الله تعالی هغوی د اسلام او مسلمانانو د سیاسي خدمت لپاره غوره کړل،سلطان عثمان اول د خلافت اعلان وکړ، او هم د هغه په نوم باندې عثماني خلافت ونومول شو، دخلافت دا دوره شا و خواپنځه سوه کاله وغځیده او د دې سلسلې وروستی خلیفه سلطان عبد الحمید و، څوک چې په ۱۹۲۴ زکې دنوې ترکیې مؤسس مصطفی کمال اتاترک لخو جلا وطن کیدو وروسته، هغه(کمال) د خلافت پای اعلان کړ.

غرض داچې د راشده خلافت دیرش کلنې دورې وروسته د حضرت معاویه رضی الله عنه څخه له دورې نه د عامه خلافت پیل شوې دوره د ۱۹۲۴ زک دمارچ تر ۳مې نیټې وغځیده، په دې دوره کې ښه واکمن هم راغلي دي، اوبدان هم، خو په ټو لیزه توګه دعامه خلافت دورې تسلسل هم د مسلمانانو لپاره یو ستر غنیمت و، بالخصوص په ځینو دورو کې د ټولو نیمګړتیا وو او خرابیو باوجود د عامه خلافت په دیارلس سوه کلن دورکې قضائي نظام ډیر شاندار و، په محاکموکې دقران و سنت په احکامو پرته له کومه ډاره عمل روان و، همدا راز دجهاد تسلسل هم په هره دوره کې روان و، کوم چې په دنیا کې دمسلمانانو د رعب او دبدبې زریعه دی، په دغه موده کې د راشده خلافت پلازمینه مدینه منوره، او د څه وخت لپاره کوفه وه او د بنوامیه وو دخلافت پلازمېنه دمشق و، د بنوعباس دخلاف مرکز بغداد و، او عثمانیانو د قسطنطنیه فتح کولو وروسته هغه تاریخي ښار خپله پلازمېنه وګرځاوه، کوم چې تر ۱۹۲۴ پورې پاته و.

دخلافت (اسلامي حاکمیت) د بیا جوړولو اړتیا:

اوس موږ د دې نکتې په لور زو، چې په اوسني وخت کې د اسلامي خلافت د بیا احیا کولو اهمیت څه دی؟ او د هغه لپاره د مبارزې تګلاره او کړنکلاره څه ډول کیدای شي؟علماوو لیکلي چې خلافت ژوندي کولو لومړی صورت دادی چې دایوه اجتماعي فریضه ده، د اداء کولو پرته یې دنړۍ مسلمانان ګناه ګار او د شرعي فرض تارک دي،بیا یواځې د دې یوفرض تارک نه دي، بلکې د خلافت په زریعه د اسلامي احکامو د نفاذ، د اعلاء کلمة الله، د جهاد ،قضا او دهغو فرایض چې سرته رسول یې لازمي دي هم تارک دي، او د دې

تولو فرايضو دپربښو دو مسؤليت پـه دوى دى، پـردې عـلاوه نـرى کـې دمسلمانانو د سياسي وحـدت، او مرکزيـت جوړولـو يـواځينۍ زريعـه خلافت يا اسلامي حاکميت دى، او د تيرې پيړۍ تجربـو وښـوده چـې دسياسي وحـدت او مرکزيـت پرتـه اسـلامي نـړۍ د تولـو وسـائلو او صلاحيتونو د لرلو باوجود دخپلې يوې مسئلې دحل کولـو موقـف هـم نلري، په دې وجه نن سبا داسلامي نړۍ ترټولو لويه او اهمـه مسـئله داده چې دخلافت يعني داسلامي حاکميت د احيا اوقيام لپاره کـوم ممکـن عملي صورت رامنځته کړاى شي .

داسلامي خلافت (اسـلامي حاکميـت) د رامنځتـه کولـو عملي کړ نلاره:

د خلافت د انعقاد لپاره فقهاوو چې کوم صورتونه راوړي هغـه پـه تپوله کې پنځه دي:

١ــ د عامو مسلمانانو په رايه دخليفه انتخاب کـول لکـه حضـرت ابو بکر صديق رضی الله عنه چې غوره شوى و

٢ــ دوهـم دا چـې د وخـت خليفـه کـوم اهـل شـخص لـه ځـان وروسته ځاى ناستي غوره کړي لکه حضرت ابوبکر صديق رضـى اللـه عنه چې حضرت عمر رضى الله عنه نومولى و.

٣ــ د وخت خليفه يـوه خصـوصي کميتـه د دې لپـاره وگومـاري چې هغه خليفه غوره کړي لکه حضرت عـثمان رضـى اللـه عنـه چـې غوره شوى و

۴ــ دشورى لخوا يوتن خليفه غوره کړاى شي لکه علـى رضـى الله عنه چې دشورى دغړو لخوا غوره کړاى شوى و.

۵ــ يا داچې يـو اهـل شـخص پورتـه شـى دځـواک او تـدبر پـه کارولو سره خلافت قبضه کړي او امت هغه قبول کړي لکـه دحضـرت حسن رضى الله عنه لخـوا داميـر معاويـه رضـى اللـه عنـه سره دبيعـت وروسته د هغه په خلافت دمسلمانانو اجماع راغله.

يوه د پام وړ نکته:

په پاى کې موږ غواړو د يوې اهمې نکتې تـه ځـېرنـه وکـړو، هغـه داچې ١٩٢۴ز پورې دخلافت سلسلې منلو باوجود مـوږ تـه پکـار دي چې د خلافت (اسلامي حاکميت) نظام په جوړولو کې يـواځې راشـده خلافت معيـار وگرځـوو، زکـه د هغـه وروسـته خلافتـي نظامونـه پـوره رهنمائي نشي کولى اونه د راشده خلافت د اصولو ته د مخامخ رجـوع کولو پرته موږ د مغربي جمهوريت مقابلـه کـولى شـو، د حکومـت پـه جوړولـوکې د عـام سـړي برخـه،د وخـت پـه حـاکم بانـدې دتنقيـد حق،درايې ازادي، او د وخت د خليفه نه په ښکاره دخپل حـق غوښـتلو لړکې چې کوم معيارونه د راشـده خلافـت پـه دوره کـې منـدل کېـږي، هغه په را وروسته دورو کې نه مندل کېـږى، او هـم هغـه معيارونـه دي چې په وړاندې کولو سره يې موږ نن ورځ د مغـربي جمهوريـت مقابلـه کولى شو، په خاصه توگه په دوه معاملوکې د راشده خلافت طرزالعمـل ژوندى کول اړين دي:

يو دا چې د حکومت په تشکيل او د خليفه په غوره کولوکې دعام سړي رايه اهميـت لري،ځنگـه چـې دبخـاري شريـف د يـو روايـت لـه مخې: حضرت عمر رضـى اللـه عنـه وفرمايـل: خـبر اوسـئ! دخلکـو دمشورې پرته د خليفه دبيعت نوم وانخلئ،هر چا چـې داسـې وکـړل د هغه خبره ونه منئ!

او دوهـم د حکومـت او نظـام پـه چـارو کـې د خلکـو سره د مشاورت نظام، دکوم اهتمام چـې پخپلـه رسـول اللـه صـلى اللـه عليـه وسـلم کـاوه، او د رسـول اللـه مبـارک سـنت دا و چـې پـه اجتماعـي معـاملاتوکې بـه يـې خلکـو سره مشـاورت کـاوه، لکـه د بـدر، احـد او احزاب غزواتو په اړه احايثوکې شتون لري، تردې چې په حنين کـې يـې د بنديانو خوشى کولو په اړه د مشاورت پر مهال د خلکو د زيات شـمير په وجه عرفاء يعنې خلکونه يې د هغوى د اسـتازو پـه زريعـه دهغـوى د رايو معلومولو فيصله وکړه.

غرض داچې په اوسنيو شرايطو کې موږ چې کله د سياسي نظـام طى کولو لپاره خبرې اوبحثونه کوو،نو راشده خلافت به دلارې مشـعل اومعيارگرځوو،په داسې کولو سره بـه مـوږ وکـولى شـو چـې يوخـواد مغربي جمهوريت مقابله وکړواوبل خواتـه بـه يـو غـوره نظـام نـړۍ او خپلو خلکوته وړاندې کړاى شـو او هـم بـه دوخـت د تولـو ننگونـو او چيلنجونو مقابله هم په سمه توگه وکړاى شو.

په پاى کې دالله رب العـزت نـه غـواړو چـې مـوږ تـه دې توفيـق راکړي چې خپل هيواد او خلکو تـه پـه رښـتنې بڼـه اسـلامي نظـام او سوله را ولو اود هغه نظام نه دې د اجتناب توفيـق را کـړي کـوم چـې د قرآن وسنت، او د راشـده خلافـت سره پـه حقيقـي توگـه سـمون و نلـري امين يا اله العالمين.

د میزان تر ۶مې وړاندې کیسې....!!

موسی فرهاد

د مجاهدینو د انقلاب بریا ته افغان ولس ډېر خوشحاله وو، تر دې وړاندې چې د شوروی یرغلگرو او د هغوی د لاسپوڅو لخوا پر ولس څومر مظالم تېر شوي وو؛ کیسې یې آساطیرالأولین غوندې ښکاري. له همدې خایه وه چې ملت په مجاهدینو پورې خپل زړه تړلی و.

مگر متاسفانه چې مجاهدین په خپل امتحان کې سخت ناکام راوختل، هغه په دې چې ریښتیني وطن دوست او دین دوست مجاهدین ونه توانیدل ترڅو شریر، پردیپال، د قدرت او مال وږي عناصر چې د مجاهدینو په لباس کې وو؛ کابو کړای شي، همدا وجه وه چې اصلي مجاهدین شا ته او مفسد عناصر را میدان ته شول.

د سره شوروي له اشغال څخه د آزادۍ تاریخي فتح او د افغانانو ارمانونه یې نه یوازي داچې په اوبو لاهو کړل؛ بلکې ولس یې د آنارشیزم په بدترین عذاب کې مبتلا کړ.

پر کابل د تنظیمي لنډغرو، کمونیستي بقایاوو، گیلم جمي او رقص مرده ملیشو خونړی راج یو ناځاپه داسې حاکم شو چې د کابل ولس لکه د وږي لیوه خولې ته چې برابر شوی وي، هره شیبه یې د مرگوني ځنکندن غوندې تیریدله.

د مجاهدینو په لاس د کابل د فتحې کیسې ډېرې خلک کوي، شهرت ننگیال چې د هغه مهال ډېر داستانونه یې په غیرمرتب ډول په خپل یو کتاب کې را غونډ کړي؛ څو پراگرافونه یې دلته د بیلگې په توگه د دې لپاره راوړو چې د نوي نسل خوانان نور واقعي حالات ورڅخه اټکل کړای شي.

ننگیال، (د تاریخ پور) تر سرلیک لاندې یوځای لیکي: ... کابل د قیامت ننداره وړاندې کوي، قاتلان، مجرمان، جنگي بدغوني او د جهاد له نوم نه گټه اخیستونکي بدماشان د مرگ په ویش بوخت او د لوټ تالان په مسابقه لگیا دي. د خلکو پر ژوند، مال او برخلیک یې قبضه ټینگه ده، جگړه مارو د خپل هیواد او خلکو پرضد جگړه غځولې، د تاریخ پر وړاندې یې وسله پورته کړې، د تاریخ د دښمنۍ پور یې پر غاړه دی. د ملي موزیم آثار د لوټ او تالان کومې ته لویدلي.

د افغانستان د لرغونو آثارو پیر و پلور او قاچاق یو ځانگړی نامشروع اقتصاد رامنځ ته کړ، د پیښور د مالگو منډۍ مارکیټ د افغاني لرغونو آثارو تجارت په ټوله نړۍ کې مشهور کړ. لنډه دا چې کابل د سیاسي اقتدار د وزلوبې خونړۍ ډگر گرځیدلی، د مجددي، رباني، مسعود، حکمتیار، دوستم، سیاف، مزاري ترمنځ د اقتدار په لوبغالي کې درز او غپ روان دی.

په کابل کې هر ببر سری او وسلوال گلم جم دی، د اسلامي دولت هر پریځی او امنیتي مسئول د لوټ او تالان په ښار کې دی. ډېر خله چې د راکټونو د ډزو په لړه وقفه کې یو سر وهلی، بر وهلی کابلی د یوې گولۍ مړۍ پیدا کولو په خاطر له کوره ووځي، پر اوږه به یې چا لاس ور کیښود، د کلاشینکوف میل به یې ډډې ته ونیول شو، د سترگو په رپ کې به یې هغه د یوې مړۍ ټوله متاع تري لوټ کړه.

بل ځای لیکي: زه او څو ملگرو مو ارگ ته د تللو سلا وکړه، کله چې ارگ ته نږدې شو، په لاره کې مو بل رنگه څیرې او کیسې ولیدې، د ارگ ساتونکي ډلې ډلې پنډ وو، عجیبه ردي بدلي دریشی به یې اغوستې وې، د چا به د اوسپنې خولۍ پرسر وه او چا به لوی ببر سر و، چا به پکول او چا به له سره یوه رینبکۍ تاو کړې وه، له هیبته یې د انسان غوني زیږه کیدلو.

لږ مخکې چې ولاړو د ارگ ښه سپیره الوتې، د ننه د سړک دواړو خواو ته د خښتو ټوټې، وچ خس او خاشاک او د کاغذونو ټوکړې، پلاستیکي کڅوړې پرتې دي چې باد یې یوه او بله خوا الوزوې.

د ارگ ښه دننه چې ورغلو زیات بیروبار دی، خو بیروبار د مراجعینو نه بلکې ټول غوبل وسلوالو ساتونکو جوړ کړی و، چې ټول په یوه خوله نه وو، هر یوه خان ته مخابره او وسله درلوده ، هر یو به پرخپل سر لگیا وو.

له مشرانو سره د ملاقات چانس ناشونی وو، بیرته را ووتلو... بیا لیکي: د پلخشتي جومات خواکې گلم جمې وسلوالو را وگرځولو، له پوښتني گرویږني پرته یې ټانگ ته په زور او کونداغونو وهلو وخیژولو، د مرنجان غونډۍ په یوه زیرخانه یې ننه ایستلو، چې د ژوند کولو هیڅ گنجایش پکې نه وو.

هره شیبه یې د مرگ گواښ و، بالآخره یې له هغه ځایه په وهلو ټکولو را وایستلو، بل ځای یې څلور نفره کتار ودرولو، پرتندي یې توپکونه را ونیول، وای که ژوند غواړې پنځوس زره ډالر را وباسه،

مال یو ډالر هم نشته، ډز شو پر ښي مټ يې وويشتلم ، بل ډز سره په حال کې نه يم راغلی....

ليکوال بل ځای ليکي: د جنګ جګړو داسي حالت دی لکه پرښار چې يوه ټکه را پريوتي وي، هر خوا د راکټو ډزي دي، مرمی اوري، مړي او زخميان له شمېره وتلي دي، د سره صليب د شمېري له مخي په يوه ورځ کې يې اته سوه تنه زخميان يوازي دوی روغتون ته رسولي، او نور چې څومره دي، هيڅ درک يې نه لګيږي.

ننګيال، وايی، په کابل کې چې دجنګ له وجي رسنی نشته نو خلک د شبنامو په څير پرديوالونو له ليکنو، اشعارو او نورو خبرو سره د خپل زړه براس کاږي، چې خيني يې داسي ليکل شوي وو:

ای رهبران! ای رهزنان آه من و جان شما = ای خاينان فتنه جو خونم بدامان شما

من ملت وا مانده ام افتاده ام دربند تان = خونين بود اعضای من ازجنګ و پيمان شما

بل ځای ليکل شوي: کابل برباد کابل = دشمن ناشاد کابل = رهزنان خودفروخته = ميکند بيداد کابل.

په کتاب کې را غونډي شوي عجايبي بيخي ډيري دي، دلته يې د راوړلو ګنجايش نشته، پورتنی هغه يې فقط څو ټکي دي.

لنډه دا چې د ميزان د شپږمي نيټې ور ها خوا د کابل د مرګ، درد او زخم کيسي ډېري زياتي او ډېري دردوونکي دي، چې متاسفانه او بيا هم متاسفانه د مجاهدينو د فتح او بريا په نتيجه کې رامنځ ته شوي، او دا فقط د هغو لنډغرو، جګړه مارانو چې ځانونه يې مجاهدين بلل، خو په حقيقت کې نوري بلاوي وي؛ له لاسه يې دا هرڅه تباهي او د ريښتيني جهاد بدنامي وشوه.

همغه خلک چې د کابل او هيواد د تباهي مرتکبين شول؛ څنګه چې خدای تعالی مخکي هم شرمنده کړل او وروسته يې بيا دا رسوايي هم په برخه شوه چې د امريکا په مشرۍ د ناټو د يرغلګري کفري ټلوالي مقدمة الجيش هم له دوی جوړه شوه، دين او وطن يې د ډالر او نيمګړې واک په بدل کې وپلورل، د خپل ولس پرضد يې د امريکايي يرغلګرو ټوپک پر اوږه کيښود او پوره شل کاله يې دغه ستر جنايت او خيانت ته ادامه ورکړه او لا ورکي نښتي دي. سره له دې چې ځانونه ورته مهذب، وطنپرست، مسلمانان ښکاري...!؟!

و الی الله المشتکی وبه المستعان

پای ....!

له ژوند څخه مي زده کړل

له بوډا حکيم څخه يې وپوښتل ويل: له تېر شوي عمر څخه دي څه زده کړل؟حيکم وويل:

- دا مي پکي زده کړل چي؛ د دنيا ژوند د الله له لوري يو پور دی. نو ژر وي که وروسته انسان به دا پور ادا کوي.

- دا مي پکي زده کړل چي؛ ژر وي که پس مظلوم به حتماً يوه ورځ په خپل حق رسېږي.

- دا مي پکي زده کړل چي دنيا به حتماً يوه ورځ ختمه او رنګه شي خو بيا هم موږ غفلت کوو.

- دا مي پکي زده کړل چي؛ د دنيا تر ټولو شتمن کس هغه دی چي له سلامتيا، ټېکاو او هوسايی څخه برخمن وي.

- دا مي پکي زده کړل څوک چي اوربشي- کري نو د غنمو حاصل نه شي اخيستلای.

- دا مي پکي زده کړل چي؛ عمر خلاصېږي خو د انسان هيلي، غوښتني او کارونه نه خلاصېږي.

- دا مي پکي زده کړل چي؛ له خلکو سره سفر او د سفر ملګرتيا کول. د هغوی د مزاج، اخلاقو، ښه والي او بدوالي د پېژندلو لپاره ښه معيار دی.

- دا مي پکي زده کړل چي؛ کوم کس چي وايي؛ داسي کوم... او داسي به وکړم...

- هغه له عزم او جرأت څخه بې برخي دي، هغه هيڅ هم نه شي کړای.

- او دا مي پکي زده کړل؛ په قبرونو کي چي څومره کسان دي هغوی ټولو داسي کارونه، هيلي او غوښتني لرلې چي په ترلاسه کولو يې نه دي بريالي شوي.

د تلې د ۶مې مخکې او وروسته

صلاح الدین صارم

ډېرې لوړې ژورې تېرې شوې، له روسانو سره د جهاد ثمره فساد او وحشت شوه او ډېره موده یې په برکې ونیوه، له دې وحشته د ولس وپښتلو او بېرته د جهاد ثمرې ته ورګرځېدلو بیا ډېر وخت ونیو، چې ور ورسېدو او ځان مو دمې ته جوړاوه په دامنځ کې یوبل یرغل راودانګل امریکا او ناټو هم دلته د خپل بخت ازمایلو ته سودا وه، دوه لسیزې بیا ووتې چې هغوی وتو ته مجبوره کېدل، نن هغوی هم دادی وزي او خبره د دوو انقلابونو د نتیجې د حصول په مورګو ولاړه ده.

د پېښو دغې لنډې محاسبې او لنډیز ۴۲ کاله په برکې نیولي، د دغې نړۍ نیمې پېړۍ له بدبختیو، ناورینونو، دسیسو، جنګونو، ورانیو، اورونو، ویشونو، یرغلونو او تبعیضونو څخه د هیواد وپښتلو او ولس په ساتلو کې چې د چا رغنده رول دی همدا د تلې د ۶مې فاتح ملا او طالب دی، په دې ورځ یې د کمونیزم په خلاف د جهاد ثمره (اسلامي نظام) ترلاسه د خپلمنځي او تنظیمي جنګونو د وحشت دورې ته د پای ټکی کېښود او په انفرادي ډول یې له دوه لسیزو راهیسې په پرلپسې بې مثاله سربښندنو سره دادی بیا په دغه ورځ د امریکا او ناټو اشغال ته هم د پای ټکی ږدي.

دغې خاورې او هیواد ته تل همدا ملنګ او فقیر طبیعته طبقه ملایان او طالبان وفاداره پاتې شوي، سختیو او کړاوونو ته تل دوی ځان ورکړی، په دې برخه کې د دوی قربانۍ د هغو په پرتله چې په زده کړو یې د دې هیواد شتمني خاورې شوې په څو برابره زیاته بلکې لاد پرتلې هم نه ده، کله هم چې خاورې سربښندنه او قرباني غوښتې له ځینو پرته ټولو یې نورو هیوادو ته پنا وړې او همدا خړ سپېره طالبان او ولس ورته پاتې شوي او په خپلو بې مثاله قربانیو یې خاورې ته تل خپلواکي اعاده کړې، خو بیا د دې په ځای چې تقدیر دې شي تل محروم پاتې شوي او له حقوقو یې سترګې پټې شوې، که څوک نه خپه کېږي ښه مثال یې د افغانستان د هرې دورې اردو ده چې که په تاریخ یې ژور نظر واچول شي له ځینو پرته چې په خپلو سربښندنو یې تاریخ جوړ کړی، نور په مجموع کې د هر یرغل په خدمت کې پاتې شوي او د دې په ځای چې له یرغلګرو هیواد وساتي د یرغلګرو په امر یې له خپلو خلکو سره ژوره دښمني کړې او د هغوی په مرګ او ورکه پسې یې را اخیستې ده.

د تلې د ۶مې ورځ ته دې د افغانستان په تاریخ کې په کمه سترګه نه کتل کېږي، دغه ورځ د افغانستان د دوو لویو انقلابونو له ماقبل او مابعد سره ډېر لوی تړاو لري په ماقبل کې یې د ډېرو لویو فتنو او د افغانستان د تجزیې مخه نیولې او په مابعد کې یې د دغې ورځې په تناظر کې د سیمې او نړۍ په سطحه له ډېرو لویو سیاسي تحولاتو او ننګونو سره په ډېر بصیرت، خورا بریالۍ ډیپلوماسي او نظامي قوت پنجه نرمه کړې او لله الحمد چې دادی نن یې مونږ نغده نتیجه په خپلو سترګو وینو.

نن د امریکا ماته وړه خبره نه ده، چا یې د ماتې تصور هم نه شو کولای، خو طالبان پرته له دې چې د دوی ماته دې حتمي وبولي او کوم ظاهري ډاډ دې وویني د هیواد اشغال یې په زړه نه شو ای زغملای ځکه یې مقابلې ته راووتل همدا د هیوادنۍ مینې وروستی حد دی، د دې بې مثاله مېړانې او لاسته راوړنې قدر به اوس له ډېرو سره نه وي، خو یو وخت خامخا راتلونکی دی چې د دې اتلانو هره سربښندنه به د سرو زرو په کرښه لیکل کېږي او د راتلونکو ټولو نسلونو لپاره به ډېر ستر ویاړ وي.

هغوی چې بیا هم ځان ته د بري لـوېې د بـرې بېدي د اسـلام او اسـلامي انقـلاب نـارې وهـي، دادی د دوی پـه شـتون کـې د کمونسـتي سـرخیلانو، د کابل پلیګون او په هرات کې د حوت د ۲۴ مـې د عـاملینو د تلـین لمـانځلو خبرې کیږي او د دوی له اتلانو سره په یوه تله یې تلي، هغوی ته که چوکۍ، مقـام او مادیـات مهـم نـه وای ولـې لـه طالبـانو سـره پـه دښـمنۍ کـې تـر کمونسـتانو او غربیـانو مخکـې دي پـه داسې حال کې چې که چېرته دوی په خپلو دغـو نـارو کـې صـادق وي نـو لـه طالبـانو سـره د نظـام پـه جوړولـو کـې شاید ډېرمشترکات ولري، خو ښکاره خبره ده چې دوی د مادیاتو تابع دي او د کفـر ملاتـړ یـې هـم د همـدې مـادي اغراضو لپاره کړی. نن د اسلامي نظام پـه راتلـو کې لـوی خنـډ دوی دي چـې غربیان یې د هماغو مادي احساناتو په زور پـــه دې لاره کـــې اســـتعمالوي او بیاهم د اسلام او مجاهد نسبتونه په ځان پوري موښي.

په افغانستان کې د اسلامي نظام قیام بـه ان شـاءالله چـې د تلـې د شـپږمې د ماقبل او مابعد هیلو او ارمـانونو پـه زړه پورې تتمه وي.

د دوکتورنورالدین عترژوند او عملي خدمتونه..؟!

م .بلال

ستر محدث او فقیه استاد دکتور نورالدین عتر، هغه څوک چې معاصر تاریخ کې یې هر څوک له نوم او شخصیت سره اشنا دي، دغه حنفي مذهبه ستر عالم او محدث په علم، عمل او تقوی کې ډېر مشهور شو او د تاریخ په ارزښتناکه پاڼه کې یې غوره ځای ونیو .رحمه الله

نوموړی په کال ۱۳۵۶هـ ق کې چې ۱۹۳۷م .سره سمون خوري، د سوریې هیواد په لرغوني ښار حلب کې وزیږېد، پلار یـې الحـاج محمـد عتر، چې د مشهور صوفي عالم محمد نجیب سراج الدین رحمه الله ځانګړی شاګرد و، خپل زوی د یني زده کړو ته وقـف کـړی و او پـه دې برخـه کې یې تولې اسناتیاوې ورته برابرې کړې وې.

لومړنی او ثانوي زده کړې یې په مشهوره مدرسه) الخسرویة (کې وکړې او پـه ۱۹۵۴م کـال کـې پـه منځنیوعلومـو کـې پـه لـومړۍ درجـه د فراغت سند ترلاسه کړ، وروسې یې د مصر په ستره جامعه (الازهر) کې د اصول الدین په برخه کې د لیسانس تر کچې زده کړې وکړې، په ۱۹۶۴م کې د تفسیر او حدیث په برخو کې د د کتوراه ستره علمي رتبه حاصله کړه او د) طریقة الترمذي فی جامعه، والموازنة بینـه وبـین الصـحیحین (پـه نامه د دکتوراه مقاله یې ولیکله، چې په خپله برخه کې بې ساري ګڼل کیږي.

تر فراغت وروسته یې د لږ وخت لپاره په سوریه کې د مدرس په توګه دنده ترسره کړه، وروسې لـه ۱۹۶۵م .څخـه تـر ۱۹۶۷پـورې پـه جامعـه اسلامیه مدینه منوره کې د حدیثو په برخه کې استاد پاتې شو، بیا بېرته سوریې ته راغی او د دمشق د حلب په جامعـاتو کـې یـې د حـدیث او تفسـیر مضامین تدریسول.

د دتدریس او علماوو روزنې ترڅنګ د لیکنې او تصنیف په برخه کې هم ښه وځلېد، تر پنځوسو زیات ګټورعلمي او تحلیلي کتابونـه لـري، چې تر ټولو مشهور یې) منهج النقد في علوم الحدیث (دی، چې په اوسني وخت کې د مصطلح الحدیث په برخه کې غوره کتاب بلل کیږي او پـه ډېرو جامعاتو کې تدریسیږي.

دغه راز یې) اعلام الانام (هم خورا ارزښتناک کتاب دی، چې په حـدیث الاحکـام کـې بـې سـاری ګڼـل کیـږي او پـه ډېـر جالـب ډول یـې د مجتهدینو او فقهاوو له لوري یو نص څخه د مختلفو احکامو د استخراج او استنباط څرنګوالی په ګوته کړی دی.

خدای بخښلی دکتور نورالدین عتر رحمه الله د زده کوونکو لپاره تر مهربانه پـلار کـم نـه و، شـپه ورځ یـې پـه خـورا خوښـي سـره د هغـوی د علمي وړتیاوو د لوړولو لپاره هڅې کولې .که څه هم ستر عالم و او د علمي کړیو ترمنځ یې ښه نوم درلود؛ خو بیا یې هم د ځان شـهرت او نـوم نـه خوښېده او هڅه یې کوله چې ګمنام پاتې شي.

د اسلامي نړۍ دغه ستر عالم او لیکوال او د زرګونو علماوو استاد، د تېرې اوونۍ د چهارشنبې په ورځ د رواني ستمبر میاشتې په ۲۳مـه نېټـه ۸۳کلونو په عمر له دې فاني نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې او تر شا یې ارزښـتناکه علمـي پانګـه) زرګونـه شـاګردان او تـر پنځوسـو زیـات ګټور علمي او تحلیلي کتابونه (امت ته پرېښودله .رحمه الله رحمة واسعة

دمیزان د 6مې وړاندې خاطره!

بشير ارمان

دمدرسې په مسجد کې مو په جماعت سره دماښام لمونځ وکړ، ناڅاپه د مدرسې انصارمهتمم پورته شو او دلنډې خطبې ويلو وروسته يې وويل: مبارک شئ! نن الحمد الله افغانستان کې د مجاهدينو قربانيو او دشهيدانو وينوپه رنګ راوړو سره افغانستان ازاد شو او مجاهدين کامياب شول،اميد دی چې هلته ژر يو سوچه اسلامي حکومت رامنځته شي!

هغه ويل ګورئ! شوروي او کمونست رژيم ته په شکست ورکولو کې دافغاني علماوو او طالبانو ونډه اوکردارتربل هرچا ډېر اومهم وو، بايد افغان ملت دهغوی قرباني هيرې نکړي!

د هغه دهمدومره وينا وروسته په مدرسه کې ميشت افغاني طالبان دډيرې خوشالۍ څخه چا خبره په کاليوکې نه ځاييدل، انصارطالبان دافغانانواومره خوشال ښکاريدل،اوخپلو افغاني ملګروته يې د افغانستان دازادۍ او دمجاهدينو د دبري مبارکۍ ورکولې.

کله چې ماته اوس هغه منظر راپه زړه شي، نو حيران شم، چې مسلمانان دمجاهدينو په بري اودافغانستان ازادۍ ته څومره زيات خوشال وو اوهيلمن وو ورته،کا شکې! جهادي رهبرانو دجهاد له اهدافوسره خيانت اوجفاوې نه وای کړې.

لړه موده نه وه تيره شوې چې ډير په هغه خوشالۍ پښيمانشول ، زکه دپلازمېنې په ګډون دهيواد په زياترو ولايتونو کې دقدرت په سر جنګونه پيل شو ل او په خاصه توګه د کابل ښاردننه دحزب وجمعيت او کلجم مليشو ترمنځ جنګونو جوړ کابل په کنډوالو بدل کړ.

بيا هم خلکو هم تمه درلوده او نهيلي نشول، چې دحزب وجمعيت نه علاوه نورمجهز جهادي ګوندونه شته دي، هغوی به کله هم اوسنی بدمرغه حالت و نه زغمي؟ خامخا به هغوی را پورته شي دګيلم جم مليشې او په قدرت باندې دمينوګوندونودجنايتونو او دهغوی دنه ښبونکوخيانتونومخنيوی به وکړي، په مقابل کې به ولس راپورته کړي،او جزب وجمعيت به دولس په مټ قانع کړي چې د جګړې لاس واخلي او دټولو جهادي احزابو په خوښه او اتفاق سره به يو رښتيني اسلامي حکومت جوړشي.

متاسفانه! چې دوخت په تيريدو سره د ولس داهيلې زندۍ او قتل شوې، نور جهادي رهبران لاړل دغفلت په خوبونو ويده شول، اوځينو دحزب ، جمعيت او ګيلم جمانو ترمنځ دجنګ له ننداري خوندونه اخيستل، يو داسې نر په هغوی کې پيدانشو چې هغه په باتورۍ اوميړانه دقدرت ليوني هبران په لار کړې وای، بلکې ځينو، ځينوخو د مسعود او نظار شورچوپړته پناه وروړه،ورڅخه يې په سوالونو اوزاريو وزارتونه غوښتل شروع کړل. او په ډيرو واسطواوپه اوونيو کوښښونه کول چې په څه ډول داحمد شاه مسعود په ملاقات مشرف شي!

لنډه داچې هغه (احمدشاه مسعود) خوهسې هم دجهادپه ټوله دوره کې له شورويانو سره پروټوکولونه درلودل،دکومو په بدل کې چې شورويانو ورته پريمانه پيسې ور کولې، او په بدل کې به يې ده دسالنګونو له لارې دشوروي اتحاد اکمالاتي کاروانونه په خوندي توګه پلازمېنه کابل ته پرېښودل،اوس هغه پروټوکولي قهرمان دکابل فاتح ومنل شو،اوهغه په کابل کې ترټولو زيات ځواکمن شو

هغه مهال چې روسانو دا درک کړه،چې دنجيب کمونستي رژيم د خپل ژوند وروستۍ سلګۍ اخلي، نو ژرېې خپل پخوانی پروټوکولي دوست (مسعود) سره خفيه يوبل پروټوکول لاسليک کړ، دکوم په ترڅ کې چې هغه روسانوسره داسلامي نظام دمخنيوي او له واک نه دمخلصو مجاهدينو دلرې ساتلو، او په دولت کې کمونستانوته دغوړسهم ورکولو ژمنې وکړي، او روسانو هم کمونستانوته مسعود سره دهمکارۍ او يوځای کيدو دنده وسپارله، هغه وچې

مسعود دپنجشیرڅخه په راوتلو دکمونستي جنرالانو په بدرګه او د هغوی پــه ټــانګونوکې سپور کابل ته ننوت.

له شک پرته د جهادي تنظیمونو لخوا دمسعود نه مهـار کـول او کابـل تـه خـلاصي تنې له ټول ځواک سره دهغه راپریښودل لویه تیروتنه او اشتباه وه، دکومې له املـه چـې ترننه افغان ملت دوسپنو نیني چیچي.

یقین دی که کابل ته دمسعود دننوتوسره ټولواحزابو کلک مخالفت په ډاګه کـړی و، او دکابل امنیت چارې یواځي دکابل ولایت جهادي قومندنانوته سپارل شـوي وای، څنګـه چې داروانباد مولوي جلال الدین حقاني صیب طرحه اوغوښتنه وه، هغه درسـنیو لـه لارې په ډاګه اعلان وکړ،چې کابل ته دې ټول مجاهدین اوقومندانان له خپلسري ننوتوڅخه ډډه وکړي او یواځي دکابل ولایت اړونده جهادي قومندانانوته دې دکابل امنیت ساتلو اختیـار ورکړل شي، تردې چې هغه مسعودڅخه مخامخ په مخابروي خبروکې وغوښتل چـې کابـل ته دننوتو څخه ډډه وکړه، که څو هم مسعود ورسره ژمنه وکړه چې دی له پروان څخـه خپـل ځواکونه دکابل په لور نه لیږدوي، خوپه عمل کې یې لکـه د حکمتیـار کابـل تـه دننوتـو لپاره خپلو ځواکونوته قومنده ورکړه، تردې چې دواړه لوري دارګ ودانۍ پـه دروازو کـې دیوبل سره مخامخ شول، چون مسعود سره له وړاندې نه ګڼ شمیر دکمونسـت رژیـم بقایـا ځواکونه هم ملګري شوي وو او دوستم هم دوړاندې نه نیم کابل نیولی و، نو دریواړو پـه ګډه دحکمتیار ځواکونه د ارګ له دروازونه په شا وتمبول،په دې سره بیـا هـم جګـړه تـم نشوه، بلکې نور هم پکې شـدت راغـی،آن دکابـل نـه بهـر ولایتونوتـه یـې تـپ ورسـید، دمرکزي قوي دولت د نشتوالي په وجه ولایتونوکې ځایي زوراکي قومندانان مسلط شـول، هغوی دخپلو شخصي ګټو وټونه ملي شتمنۍ قربان کړې، ځای په ځای دملوکـو الطـوایفۍ راج خور شو، ټولې لویې لارې ټوپکیـانو اوپاټکیـانو ونیـوي، هغـوی پـه رنـا ورځ هغـه وحشتونه او ظلمونه کول چې په لیکلو یې قلم شرم کوي

دپخواني جهاد اهداف په سیند لاهوشول، تردې چې خلک دې ویلوتـه مجبـور شـول چې ووایي: له دې وخت نه خو هغه دسرو کمونستانو وخت... وو

ددې ټولو بدمرغیو او ناخوالو په لیدو سره د هیواد اصـیلو بچیـانو(طالبـانو) دامیـر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ بانـدې دکنـدهار میونـد ولسـوالۍ «سنګحصـار کلي» دیوپاټک دړنګولو څخه پاڅون پیـل کـړ، پـه لنـډ وخت کـې یـې نـورې سـیمې هـم دپاټکیانو دشرڅخه خلاصه کړې، دبولدک ولسوالۍ دنیولـو وروسـته یـې کنـد هارولایـت دشروفساد له ځواکونوڅخه پاک کړ،دهغه وروسته شاوخوا نور ولایتونه یـې هـم تصـفیه کړل او په ډیره لنډه موده کې په خورا تیزۍ سره دکابل تردروازو پورې ورسیدل

کابــل دروازوتــه د رســیدوڅخه وړانــدې مسعود او ربـاني بـه طالبـان دامـن فربښـتي بلـل،خو کلـه چـې هغـوی دکابـل پـه دروازو پراوونه واچول، مسعودیانو وربانـدې ناڅاپـه بریدونه وکړل، او په نـاخبرۍ کـې یـې زیـات شمیر طالبان شهیدان، ټپیان، او اسیران کـړل، بالاخر د طالبانو او مسعودیانو ترمنځ دجنګونو اوږده لړۍ پیـل شـوه،طالبانو دجـلال ابـاد او ختیځو ولایتونو د فتح کولو وروسته دمیـزان د۱۳۷۵ ل کال په ٦مه نیټه د هیواد پلازمېنه د هغـه مسـعود او کمونسـتو جنرلانولـه واک څخه ازاده کړه، دکومو په وړاندې چې دجهـاد وخت لویو، لویو تنظیمونـو وسـلې غورځـولې وي، دکوم مسـعود ځواکونـوچې دحکمتیـار ځواکونه دارګ له دروازې نـه پـه شـاتمبولي وو، طالبانو هغه مسـعود سره لـه حکمتیـاره (چـې طالبـانو سره دګـډې مقـابلې لپـاره یـې دماهیپر ترون په ترڅ کې صدر اعظم کړی و) دکابل نه وشاړه طالبان هغه ومسعودچې لـه ځان پرته یې بل څوک خپل سیال نه ګاڼه، پـه یومنډه ترکولاب ورساوه، نـن یوځـل بیـا هغـه طالـب تـه چـې امریکـایي اشـغالګریې د۱۹ کلنې جګړې وروسته دیته اړ کړل، چې ورسره دخپل شکسـت پـه پایـه لاسـلیک وکـړي او عمـلاً لـه افغانسـتانه دخپلـو ځواکونوپـه ویستلو پیل وکړي مظلوم افغانـان منتظـردي، او کابـل تـه یـې دفاتحانـه ورتـګ شـیبې شماري،دطالب لیـدلو تـه سـترګې پـه لار دي اوغوربږاسي چې کله به دطالب په لاس دیـوې بلې لویې فتح غږ اوري؟ هـو! د یولـویې فـتح غږ...!

ډیموکراسي که اسلامي نظام؟

قدرت الله شهاب

کله نه چې د سولې خبرې پیل شوي دي له هغه ورځې څخه موږ ګورو چې پر خواله رسنیو باندې دغه بحثونه خورا ډېر تاوده شوي دي چې بعضې وايي اسلامي نظام په افغانستان کې غواړو بعضې وايي نه د ډیموکراسۍ نظام دې وي او دا ځیني خو بېخي وايي چې په هیڅ صورت موږ تر ډیموکراسۍ نه تېرېږو دا زموږ ده سرو کرښو څخه ده.

دلته دا پوښتنه مطرح کیږي چې ډیموکراسي افغانانو ته څه ګټې لري او اسلامي نظام څه ګټې لري؟

اول به راشو ډیموکراسۍ ته، ډیموکراسي دا دی کلونه وشول چې پر افغانانو امریکایي ډیموکراسي تپل شوې ده چې په دې ډیموکراسۍ کې څومره افغانان در په دره شول او څومره فساد ددې ډیموکراسۍ په چوکاټ کې په افغانستان کې ترسره شول.

ددې هیڅ مثال په نړۍ کې نه لیدل کیږي او له دې سره سره له عسکر څخه ونیسې بیا تر ماموره له وزیر څخه ونیسې تر ارګ مشره ټول په اخلاقي فساد ککړ دي آن تردې چې ده افغانستان په تاریخ کې اول ځل خلکو دا هم ولیدل چې په دننه ارګ کې د ډیموکراسۍ تر چتر لاندې ده ښځینه کارکوونکو عزتونه نه وو محفوظ لوړپوړي چارواکي ټول په اخلاقي فساد ککړ دي لکه د فوټبال فدراسیون مشر لکه د کابل د جنایي جرمنو آمر او داسې ډېر مثالونه یې شته دي.

د پولیسو په لیکو کې په پراخه کچه بچه بازۍ په شان ناوړه او ده شرم ډک عمل آن تر دې حده چې نړیوالې رسنۍ پرې غږیږي، داسې ډېر نور مثالونه شته دغه ټول جرمونه او فسادونه د ډیموکراسۍ ځېرنده دي چې دوئ ورته خپلې لاسته راوړنې وايي.

اوس که راسو اسلامي نظام ته نو اسلامي نظام خو ټولې نړۍ ته معلوم دی چه هغه د امن او سوکالۍ او ده خلګو ده ښه ژوند کولو له پاره تر ټولو غوره نظام دی چې تر ټولو ښه مثال یې ده طالبانو ده تیري واکمنۍ دوره ده چیرته چې په افغانستان کې یو سوچه اسلامي افغاني نظام موجود وو چې په هغه نظام کې ده ټولو حقوق محفوظ وو که ښځینه وو که نارینه ټول خوشحاله وو چا فساد نه سو کولای چا غلا نه سوه کولای چا نامشروع اړیکي نه سوې ساتلای چا بچه بازۍ نه سوې کولای چا ظلم نه سوو کولای چا رشوت نه سو اخیستلای چا زنا نه سوه کولای چا ده نشئي توکو کاروبار نه سو کولای چا شراب سرعام نه سوه چیښلای په ټول هیواد کې مکمل امن وو . او داسي مثالي ده امن نظام وو چې تر اوسه یې نړۍ مثالونه ورکوي.

نو اوس تاسو فیصله وکړئ چې په افغانستان کې د افغانانو لپاره کوم یو نظام ګټې لري، کوم یو زیانونه البته یوه خبره باید وکړم چې کوم خلک ډیموکراسي غواړي او د اسلامي نظام مخالف دي هغه ټول هغه خلګ دي چې په اسلامي نظام کې د هغه خلکو شخصي ګټې په خطر کې کیږي لکه مثال په توګه بیا دوئ سرعام شرابونه نه سي چیښلای بیا دوئ خپلې نامشروع او ناروا جنسي اړیکي نسي ټینګولای بیا دوئ سرعام فساد نسي کولای دوئ په ارګ کي نشې او تماشې نه سي کولای غلا نه سي کولای نو له دې وجې څخه دوئ د اسلامي نظام مخالف دي.

په دا سې حال کې چې ټول افغان اولس د اسلامي نظام او د سولې تږی دی الله ج دې نور افغانانو ته یو رېښتونې سوله او اسلامي نظام ور په برخه کړي.

د یو پیاوړي او خپلواک افغانستان په هیله

ګلخونه

غزل

د ازادۍ قېمت د وینو په سودا ورکوي
تر ګل نازک وجود په خوله کې د بلا ورکوي

سپینو ملکو یې تصمیم د جنازې نیولی
یو طالب پروت دی له ژَوَرو ټپو سا ورکوي

په خپل وطن کې یمه خپلو تر مرۍ نیولی
او در باري مُلا زما د مرګ فتوا ورکوي

بد بختي نده مبارک مو دې شي دا امتیاز
خدای وکافرو ته زمونږ په لاس سزا ورکوي

ته خبر نه یې ښکلیه مخ کې دې د څه شي نور دی؟
خالق سپوږمۍ ته هم له لمر څخه رڼا ورکوي

د زړهٔ پر دښت دې ښایي بیا د هجر شپه پیلېږي
سترګو کې سور شفق دې دغسې معنا ورکوي

راشد مشفق

آزادي

ازادي چا په خیرات راکړې نه ده
ازادي مو دسرو وینو ثمره ده

ازادۍ ته مو هزار سرونه ځار کړل
ازادي مو نازولې میلمنه ده

دغازیانو د سرو وینو برکت دی
چې دکفر د غرور بېړۍ چپه ده

دناقوس منحوسه چیغه ده خاموشه
په هر لوري دتکبیر مسته نعره ده

ای عمره! سر را پورته کړه له قبره
ناټوګۍ د لست له سره را شېوه ده

دملت دسترو هیلو خوب رښتیا شو
پر هیواد یوه خوږه مسکا خوره ده

د نرۍ ددې پیاوړې ځواکمن ماتې
داسې ښکاري ته به وایې افسانه ده

آزادي چا ته دنوي ژوند آغاز دي
چا ته بیا یوه بدرنګه پدیده ده

د عاکف امارتي د قلم نوکه!
خوندور دې هر یو شعر او ټپه ده

درجات رزق

مال: پایین ترین درجه رزق است.

صحت: بلند ترین درجه رزق است.

فرزندان صالح: بهترین نوع رزق است.

و رضایت اللّٰه: کامل ترین نوع رزق است.

یا رب کامل ترین رزق ات را میخواهم ....

غزل

سپینې سپوږمۍ او رڼو ستورو به مې ځارکولو
ما به چې تیوله شپه مزل د درد په لار کولو

چې ته شهید وې که ژوندی زه خبرنه وم یاره
ما هره ورځ ستا د راتللو انتظار کولو

بیلتون دې نه ؤ سم طوفان ؤ اوکه څه ؤ اشنا
زما دزړه په سرزمین یې چې رفتار کولو

کلي کې هر چابه دچا په ویر سلګۍ وهلې
چا به د ورور ارمان کا ؤ چابه د پلار کولو

ښار د ناترسوکې مې ژوند ؤ چا درد نه پیژندو
نو به مې چاته دخپل مات زړګي اظهار کولو

څوک شهیدان شول چاپه نیمه لارکې پریښودمه
زما یارانو پسې خدایه چا ازار کولو

څه غم زده زندګي کړله بدرالدین ځلاند به
ته ورته ګوره تل په غم به یې روزګار کولو

بدرالدین ځلاند

عیب

صائب

اگر به ترک کلاه دیگران شوند ازاد
کلاه مردم ازاده ترک سر باشد
دعای مردم افتاده رد نمی گردد
حذر ز جلکنید زدستی که زیر سر باشد
زعیب خویش، هنر نیست چشم پوشیدن
که پرده پوشی عیب کسان، هنر باشد

غزل

د ازادۍ قیمت د وینو په سودا ورکوي
تر ګل نازک وجود په خوله کې د بلا ورکوي

سپینو ملکو یې تصمیم د جنازې نیولی
یو طالب پروت دی له ژَورو تپو سا ورکوي

په خپل وطن کې یمه خپلو تر مرۍ نیولی
او در باري مُلا زما د مرګ فتوا ورکوي

بد بختي نده مبارک مو دې شي دا امتیاز
خدای وکافرو ته زموږ په لاس سزا ورکوي

ته خبر نه یې ښکلیه مخ کې دې د څه شي نور دی؟
خالق سپوږمۍ ته هم له لمر څخه رڼا ورکوي

د زړهٔ پر دښت دې ښایي بیا د هجر شپه پیلېږي
سترګو کې سور شفق دې دغسې معنا ورکوي

پیرمحمد کاروان

موسم د منې دی خو ته په کې سپرلی راوله
سولې زین کړی د ګل ګل مینې نیلی راوله

زمونږ سندرې ساندې چیغې چیغې د ویر
په کې جوهر د خوشحالۍ په سُر و لی راوله

نه چې پردی شي په پردي وطن کې ورک شي رانه
د مور وطن واوره ناره وایي لالی راوله

د لمر قاصد ویل چې شپې مو سپینې سپینې راځي
سپوږمۍ د امن ته د ستورو هرکلی راوله

په سرو سکروټو کې روانې اوبه وینم په خوب
د ګلابونو د نرګسو بوزغَلی راوله

سېل د باګرام د بلبلانو دې کابل ته راځي
خپل آباسین ته تږی کابلی راوله

پر پاڼه پاڼه یې کاروان لیکي افغانه غزل
و خړو دښتو ته د سره غاټول ټولی راوله

یو څو اندېښنې او ځواب يې!

عابد

دځينو خلکو په ځينو څرگندونو سړی ډېر حيران شي چې څرنګه هغه څوک چې په ختمه دې افغان وي او بيا دې هم د داسې څه اظهار وکړي، چې د ده دخاورې له اصليت سره دې په ټکر کې وي، هغه خاوره چې اسلام يې داصليت او معرفت نښه ده. خو دریغه! چې داسلامي امارت دواکمنۍ په سقوط او دغربي کفارو په يرغل سره نولس کلن اشغال داسې څه ته هم زمينه مساعده کړه چې اوس ځينې خلک داسلامي نظام د راتلو له آواز سره په وېره کې شي او بېلابېلې اندېښنې ورته رامخته کيږي.

مخکې له دې چې په دغو اندېښنو له دوی سره وغږيږو د دغو اندېښنو درامنځته کېدو له اسبابو به هم مخ نه اړوو. لومړی د دغو اندېښمنو خلکو سلنه که په ولس کې وکتل شي دنشت برابر ده اودافغانستان دمسلمان مجاهد ولس په منځ کې د دوی کچه له شک پرته چې هيڅ ده، خوداچې د دې خلکو لاسرسی تر تبليغاتي وسايلو دی او تر ډېره په دستوري ډول دځينو مغرضو کړيو له لوري هم د دغه ډول اندېښنو راپورته کولو ته کار کيږي، نو ځکه بايد ترقلم لاندې راشي اوخلکو ته حقيقت څرګندشي، هڅه به وکړو د دوی د داډول اندېښنو په دفع کې خپل معلومات له دوی سره شريک کړو.

څنګه اسلامي نظام؟ هغوی چې داسلام له دين څخه ناخبر دي فکر کوي چې داسلام قواعد او اساسات هم ديوچا په لاس کې کيدلی شي، وخت په وخت به تغير مومي اودخلکو له غوښتنو سره سم به دهغوی په مزاج برابريږي، يا دځينو خلکو فکر اوعمل اسلام بولي او وايي لکه دچا... اسلامي نظام، په ځای د دې چې خلک په اسلام وپېژني اسلام په خلکو پېژني، په داسې حال کې چې داسلام اساسات ډېر واضح دي او هيڅوک به داسې پيدا نه شي چې خپل حق پکې خوندي ونه بولي، طالبان هيڅکله نه شي کولای داسلام اساسات د ځان په نفع برابر کړي، هرڅوک کولای شي داسلام په اصولو داعتماد له مخې ډېر زړور وي او له هيڅ څه څخه وېره ونه لري.

په تېرو شلو کلونو کې چې د يرغل په سيوري کې د ديموکراسۍ له لورېنې کوم نظامونه په افغانستان تپل شوي ايا داسې کوم څه به هم ولري چې له راتلونکي اسلامي نظامه يې پرې غوره وبولو، دتېرو شلو کلونو په موده کې دنظام په برخه کې مونږ کومې ناخوالې ونه ليدې؟ تر دې چې دهمدغو نړدې څلوېښتو هيوادونو د عسکرو په شتون کې بيا هم ونه توانيدل چې لا اقل د دوی راوړې دغې ارمغان ديمکراسۍ اساسات خو پلي کړي، بلکې دقدرت دوېش او جوړ جاړي په غرض څو ځله په خپله د نظام اداري بڼه ورته بدله شوه او داسې يو څه به رامنځته شول چې په قانونيت اومشروعيت به يې دنړۍ په هيڅ ديمکرات هيواد کې بېلګه په ګوتو نه شي.

دښځــو حقــوق : دښځو حقوق په څه معنا؟ که هرڅومره وويل شي چې ښځو ته داسلام مبين دين کوم حقوق ورکړي هيڅوک تر هغو پورته حق نه شي ورکولای، ولې بيا هم ځيني لږکي دا غږ پورته کوي چې که په افغانستان کې اسلامي نظام راشي، نو دښځو حقوق! به څنګه شي او داسې ښيي چې رښتيا هم دوی د ښځو دحقوقو رښتوني مدافعين دي. لومړی خو به په مذاکراتو کې اصولو ته کتل کيږي چې په اصولو کې موافقت راشي بيا فروع مسائل د هغو په رڼا کې خامخا حل کېدلای شي، د اسلام په اصولو هيڅکله معامله شونې نه ده، پاته

فرعي مسائل د دې نه وي چې عليا مصالح په خطر کې پرېږ واچول شي، داهم ده چې دښځو له حقوقو بايدهغه څه مقصود نه شي چې دښځو د حقوقو غږ پورته کوونکي مدعيان يې دغرب عرياني او دخپلو غريزو داشباع لپاره کاروي، په داسې حال کې چې زمونږ دين، کلتور، عنعنات اواجتماعي جوړښت يې هيڅکله هم اجازه نه ورکوي او دا واقعيت به تر بل هرچا پخپلو ښځوته داشغال په تېره شل کلنه دوره کې ښه معلوم شوی وي، په تېرو شلو کلونو کې چې د ديمکراسۍ په سيوري کې ښځې دکوم تيري ښکار شوې دي بل څوک به دومره نه وي او هغه ناخوالې چې دوی په دغه موده کې وليدې دافغانستان په تاريخ کې يې بېلګې نه شي موندل کېدای. دغه راز دې دښځو حقوق يوازې تر ښارونو هم نه محدوديږي راشئ په کليو او اطرافو کې چې ښځې دکوم ظلم ښکار دي دهغوی دې هم غم وخوړل شي او ښکاره ده چې دهغوی غم له اسلامي نظام پرته بل هيڅ بشري نهاد نه شي خوړلی.

د ښځو کار او تعليم: دښځو کار او تعليم هم له همدې قبيلې څخه دي، اسلامي امارت بار بار دا خبره واضح کړې چې د خپلو خپلو شرايطو او امکاناتو په برابرېدو سره به په دې اړه اقدام کوي، که يو وارې ځان مسلمان بولو نو بيا ولې له قرآني هداياتو څخه وېره ولرو او د ښځو دکار او تعليم په اړه داسلام لارښوونې زيانمنې وګڼو، زمونږ جګړه هم دشخصي مفادو، واک او مقام ترلاسه کولو لپاره نه ده، بلکې انساني بشريت ته دهمدې ناجي دين اسلام د احکامو د پلي کولو لپاره ده، دښځو کار که دنړۍ او په ځانګړې ډول په افغانستان کې وارزول شي، دغه اصطلاح د ځانګړو موخو لپاره کارول کيږي او يوداسې څه نه دي چې سړی په دې مطمئين شي چې په دې شعار کې رښتياهم د ښځو دحقوقو غم خوړل شوی، خو که په دې اړه اسلام ته رجوع وشي نو هلته دښځې حقوق ډېر خوندي دي، دمال دمالکيت، تجارت، او دژوند په ډېرو نورو برخو کې داسلام په خپلو اصولو کې له ډېر څه برخمنه ده، خو مونږ مخکې له دې چې دښځې دغه حقوق په يوه اسلامي نظام کې ووينو اويايې ځان ته معلوم کړو، له نورو سره دهغوی داغراضو شعارونه بدرګه کوو.

د بيان آزادي: دبيان ازادي که داسې وي لکه داشغال په داتېرو شلو کلونو کې خو سمه ده مونږ پرې راضي يو اوبايد چې همداسې دحاکم نظام طرف نيول دبيان ازادي وي، مونږ وليدل چې دبيان آزادي څه ډول ازادي وه او مطبوعاتو کوم طرف نيولی و؟ چې نه تنها خپل دغه عمل يې خپله خطا نه ګڼله بلکې په ډېر ټينګار يې توجيه کاوه هم او که نه په راتلونکي نظام کې بل ډول ازادي غواړي او له اوسه ورته کمپاينونه کيږي، نو دا به بيادېره بې انصافي وي.

دلته دبيان ازادي له عقيدې سره تړاو نه لري، داهيواد او داخلک ديوې عقيدې خلک او کلک مسلمان ملت دی، البته که دذميانو او لږکيو حقوق هم دبيان په ازادي کې شامل وو لکه څنګه يې چې ديمکراسي ښوونه کوي نو هغه خو داسلامي نظام په راتلوسره پخپله خوندي کيږي، بلکې د هغوی دحقوقو دخونديتوب او دلته د نورو مذهبونو د پيروانو سره دښه چلند ښه بېلګه دافغانستان اسلامي امارت وړاندې کړې او بيا يې هم وړاندې کولای شي چې د حاکميت په دوره کې يې په دې اړه هيڅ کومه ستونزه رامنځته نه شوه.

د پيغمبر ﷺ په دعاګانو کې جامع مانع دعا

اللّهُمّ إِنّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنْتَ الْمُسْتَعَانُ، وَعَلَيْكَ البَلَاغُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ.(ترمذي دويم ټوک ۱۹۲ مخ)

ای الله زه له تانه هغه خير غواړم کوم چې نبي عليه السلام له تانه غوښتی. او زه له تانه پناه غواړم له هغه شر څخه چې ستا نبي عليه السلام ترې پناه غوښتې، هم ته هغه ذات يې چې مدد درنه غوښتل کيږي او هم ته دعا قبلونکی يې، نشته له ګناهونو د بچکيدو طاقت مګر د الله په حفاظت سره او نشته د نيکۍ قوت مګر د الله په مدد سره.

داسلامي امارت دمذاکراتي ټيم قوت او هيبت!

جمشيد هلمندی

د بين الافغاني مذاکراتو يو تر ټولو لوی او مثبت اقدام د اسلامي امارت په مذاکراتي ټېم کې د نويو مشرانو ټاکنه ده، چې پر بين الافغاني مذاکراتو به خورا مثبت اغيز ولري ، د عاليقدر اميرالمؤمنين دحکم په اساس په ۵/۹/۲۰۲۰ تاريخ باندې د اسلامي امارت مذاکراتي ټيم اعلان شو.

په ياد مذاکراتي ټيم کې ۲۱ تنه غړي شتون لري او محترم شيخ مولوي عبدالحکيم صاحب د مذاکراتي ټيم رئيس وټاکل شو.

د شيخ عبدالحکيم صاحب ټاکنه ولي رامنځته شوه !

شيخ صاحب عبدالحکيم چې د ملا محمد عمر مجاهد تر ټولو نيږدې او د اعتماد وړ کس و، شيخ مولوي عبدالحکيم صاحب د کندهار ولايت د ميوند ولسوالۍ د بند تېمور اوسيدونکی دی .

شيخ صاحب عبدالحکيم د اسلامي‌امارت د علمي سياسي او تجربه ناکو شخصيتونو له جملې څخه يو برجسته عالم او بانفوذه کس دی.

هغه د اسلامي امارت د عالي محاکمو د رئيس او په عين حال کې د دورة الحديث شيخ پاتي شوی او په مجاهدينو ډېر مسلط شخص بلل کيږي.

چې په زرهاوو شاگردان يې اوس هم د سنگر په غېږه کې ژوند تېره وي.

شيخ صاحب د نورو علومو ترڅنگ په فقهي مسايلو کې هم پراخ لاس او ژوره مطالعه لري، او ورسره په څنگ کې د اسلامي امارت په مهمو او لويو پريکړو کې مهم رول لوبوي.

شيخ صاحب يو بانفوذه ديني او فقهي شخصيت دی نو له همدې وجې چې بين الافغاني مذاکراتو کې د مسئلې حل تر ډيره په ديني مسائلو پورې تړلی دی بايد و وايم چې شيخ صاحب د مذاکراتي ټيم د رئيس په توگه ټاکل د اميرالمؤمنين يوه خاصه ځيرکتيا او ښه اقدام دی.

بايد و وايم چې شيخ صاحب د اسلامي او شرعي نظام په هکله خورا عميقه مطالعه هم لري.

د شيخ صاحب عبدالحکيم د مذاکراتي ټېم رئيس ټاکل دا جوته کوي چې اسلامي امارت بين الافغاني مذاکرتو ته ژمن دی او غواړي له همدې لارې د افغانستان معضله حل کړي تر څو يوه سوچه اسلامي نظام ته لاره هواره شي،د نوموړي په څنگ ښاغلی شيرمحمد عباس ستانکزی صاحب چې له امريکايانو سره يې مذاکراتي پړاوو په ښه مهارت او جرئت رهبري کړ اوس هم دشيخ صاحب دمرستيال په توگه دنده لري نو ځکه بايد و وايم چې مذاکراتي ټيم له هرې نگاه الحمد لله ښه فعاله او وړ کسان لري.

د کابل اداره (!) وروسته له هغه چې څو ورځې وړاندې مذاکراتي افتتاحيه غونډې ته مايک پمپيو و ويل موږ خپل قانون او ديموکراسي په چا نه تحميله و، د هرچا خپله خوښه!

دې خبرې هغه کسان چې د کابل ادارې په نماینده کې راغلي ول (!) سخت غمجن او هک حیران کړل!

شاید یادو کسانو د پمپیو له وینا څخه سم برداشت نه وي اخیستی!

د پمپیو دا وینا چې موږ خپل نظام او دیموکراسي په چا نه تحمیله و د ارگ او سپیدار ماڼۍ چارواکو ته څرگنده پیغام ورکوي هغه دا چې افغانان باید خپل نظام په خپله خوښه جوړ کړي، او دا څرگنده ده چې افغانان د اسلام له مبارک دین سره دومره مینه لري چې موږ یې مثال نشو پیش کولای !

د اسلامي نظام قائمول په گران هېواد کې د امن او ثبات د ټینگښت او د سرتاسر سولې راوستولو او د اسلامي شریعت محکمولو ته ژمن او لیواله دی .

په مذاکراتي ټیم کې د شیخ عبدالحکیم صاحب او نورو نویو مشرانو ټاکنه ډیر پر ځای او مثبت اقدام دی او پر بین الافغاني مذاکراتو به خپل اثر وښندي .په نویو ټاکنو سره د اسلامي امارت مذاکراتي ټیم نور هم له علمي او سیاسي اړخه له هرې نگاه پوره، قوي او د باور وړ ټیم جوړ شو.

مذاکراتو ته له قوي دریځه را څرگندیدلو او په مذاکراتي ټیم کې نویو ټاکنو دا روښانه کړل چې اسلامي امارت په مذاکراتو پورا باور لري او بین الافغاني مذاکراتو ته حاضر دی.

د اسلامي امارت مذاکراتي ټیم د افغان او د مجاهد شموله ولس او افغاني قشرونو څخه جوړ دی،چې یوه یې رهبري یو یې هدف او یو یې مسیر دی په یاد ټیم کې ټول افغانان خپل ځانونه لیدلای شئ،..

بله ځانگړنه د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم داده چې د اسلامي او افغاني فرهنگ، کلتور ملي او اسلامي ارزښتونو په پام نیولو عنعناتو په رڼا کې د یو متحد افغانستان په نمایندگۍ خپل مذاکرات پر مخ بیایې.

و ماذالک علی الله بعزیز

□□□

د مشرانو وفا او اخلاص

دا هغه دوه اتلان دي چې د اسدالله خالد فرانسوي مشاوره یې ووژل او بیا زندانیان سول،

فرانس یې د خلاصون مخالفت وکړی او د کابل ادارې سور خط کش کړی چې دغه د میلمنو قاتلین په هیڅ صورت نه ایله کوو، شپې او ورځې تېرېږي چې د بین الافغاني افتتاحي غونډې مراسم راورسېدل او سبا ورځې ته د ۳۵ هیوادونو سفیران او نور زیات میلمانه راغوښتل سوي دي، پمپیو، میلر او خلیلزاد غونډې ته راروان دي، ترتیبات ټول بشپړ سول، طالبانو خلیلزاد ته وویل چې هغه زموږ دوه ملگري ولې نه دي ایله سوي؟ خلیلزاد ورته ویل فرانس یې د خلاصون مخالفت کوي، طالبانو وویل چې تر څو هغه دوه بندیان خلاص نسي- تر هغو په یوه غونډه کې هم شرکت نه کوو ځکه زموږ سره وعده سوې وه، امریکایانو ډېر زور وکړی چې سفیران او میلمانه مو راغوښتي دي او د هغوی مخته مو مه شرموئ خو د طالب یوه خبره وه چې تر څو ایله سوي نه وي ولاکه سره کښېنستو، خبره ټرمپ ته ورسېدل او ټرمپ د فرانس ولسمشر- ته وویل چې د داسي بې پروا او زورور دښمن سره مخ سوي یو چې په ټول ژوند مو فکر هم نه وو کړی اخیر د فرانس ولسمشر ورسره ومنل، بندیان خلاص سول او چې کله میدان وردگو کې دوه تنه بندي اتلان خپلو مجاهدینو اتلانو ته وسپارل سول نو امارت اعلان وکړی چې موږ غونډې ته بشپړ تیاری نېولی دی او د هغه وروسته امریکا او نورو هیوادونو د غونډې د پیل اعلان وکړی.

بين الافغاني مذاکرات او د ولس هيلې

ليکوال :مصلح افغان

د نړۍ په ټولو قوانینو او نظامونو کې د هېوادونو خپلواکي د یو اصل په توګه منل شوې .او دا د هر هېواد او ملت مسلم حق ګڼل شوی .په نړۍ کې ډېرو اشغال شویو هېوادونو د خپل هېواد د خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره ډېرې سترې قربانۍ ورکړې .او دې جګړې ته یې د یوې مقدسې جګړې په سترګه کتلې، او په دې لار کې وژل شوي سرتېري یې په خپل تاریخ کې د اتلانو په نوم ثبت کړي، د اشغالګرو ترڅنګ ولاړ خلک یې غداران او خائنان بللي .

هیتلر په خپل کتاب کې وايي : په انسانانو کې تر ټولو بیغرته خلک هغه وه چې له مونږ سره یې د خپل هېواد په اشغال کې مرسته کوله . نړیوال که څه هم د هېوادونو خپلواکي یو اصل او د هغوی مسلم حق بولي خو بیا هم د نړۍ ځینو کفري استکباري قوتونو د تاریخ په اوږدو کې دغه اصل له پوښتو لاندې کړی له اسلام او اسلامي امت سره د ژورې دښمنۍ په بنسټ یې په ډېرو اسلامي هېوادونو یرغل کړی او د هغوی خپلواکي یې سلب کړې .

چې د دې هېوادونو له جملې څخه یو زمونږ ګران هېواد افغانستان هم ده چې د تاریخ په مختلفو پړاونو کې پرې د کافرانو له لوري یرغل شوی .د سختو وحشتونو او بمباردونو په زور یې د یو څه وخت لپاره خپل لاسپوځي په دې غیور ملت تپلي .چې هر ځل د افغانانو له لوري له سخت شکست او نامۍ سره مخ شوي او په تیټو سترګو یې له دې هېواد څخه پښې سپکې کړي .

کفري ملتونه د خپلواکۍ اخستلو جګړې ته د یوې مقدسې جګړې په سترګه ګوري . خو د اسلام په قاموس کې بیا دغې جګړې ته د جهاد نوم ورکړی شوی او د یو فرضي عبادت په نظر ورته کتل شوي، د شریعت په ډېرو صریحو نصوصو کې د جهاد ، مجاهد او شهید ډېر فضائل بیان شوي .

له همدې امله اسلامي امتونو ته د خپلو هېوادونو خپلواکي ډېر اهمیت لري .او په دې لاره کې د هیڅ ډول قربانۍ څخه دریغ نه کوي .په ځانګړې ډول بیا افغانان په دغه لار کې د میړانې او شهامت څخه ډک تاریخ لري .د تاریخ په اوږدو کې یې په تش لاس له داسې سترو قوتونو سره دغرې وهلي چې غټ غټ هېوادونه یې له مقابلې نه عاجز وه .چې د اسلامي امارت تر قیادت لاندې د امریکا په مشرۍ د ناټو له مجهزو او په پرمختللو وسلو سمبالو ځواکونو سره تېره نولس کلنه مبارزه یې ژوندی مثال ده.

اسلامي امارت د علماء او شیخو په قیادت کې د دې ملت له منځه راپورته شوې خوځښت دی .د نړۍ په کچه یواځنی اسلامي حرکت ده چې په خپلو ټولو کړونو کې اسلامي ارزښتونو ته ژمن دی . خپلې ټولې فیصلې د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې ترسره کوي .

اسلام له کافرانو سره د صلحې دروازه هم خلاصه پرېښې .که یو وخت کافران له مسلمانانو سره د سولې غوښتنه وکړي مسلمانان هم د خپلو اسلامي اصولو په نظر کې نیولو سره له هغوی سره سوله کولی شي .چې په اسلامي تاریخ کې یې زیات مثالونه شتون لري

له همدې امله اسلامي امارت په دوه زره یو) ۲۰۰۱ (میلادي کال کې هم د امریکایانو له یرغل څخه مخکې هغوی ته د مذاکراتو وړاندیز کړی وه چې هغه وخت د بوش له خوا په ډېر غرور سره رد شو .د جنګ اعلان یې وکړ او دغه جنګ یې صلیبي جګړه وبلله .د تېرو نولسو کلنو په جریان کې هم اسلامي امارت د سولې دروازه خلاصه پرېښې وه. چې کله به د امریکایانو او که به یې د ګوډاګیانو لخوا وتړل شوه .

بالاخره د نولسو کلونو په تېرېدلو امریکایان دې پایلې ته ورسېدل چې د غه جګړه نه شي ګټلی .او په خپله خوله یې د خپلې

ماتې اقرار وکړ او دا يې هم په صراحت سره وويل چې افغانستان د امپراطوريو هديره ده .د افغانستان مسئله د جنگ له لارې نه حل کېږي دا مسئله بايد د سولې له لارې حل شي .هماغه وه چې د خپلو گوډاکيانو د توقع خلاف يې د اسلامي امارت سياسي دفتر ته مراجعه وکړه . مذاکرات رسما پيل شول چې تقريبا يو کال يې دوام وکړ . چې په نتيجه کې افغانان د اسلامي امارت په قيادت کې له امريکايانو سره د دغو پيچلو مذاکراتو له جريان نه سرلوړي او بريالي راووتل .

په تېره نولس کلنه مبارزه او بيا له امريکايانو سره د برياليو مذاکراتو په ترسره کولو افغانانو نړۍ ته وښودله چې مونږ هم د جگړې خلک يو او هم د جرگو ،مرکو، او مذاکراتو .مونږ هر وخت جگړې ته مجبور شوي يو .جگړه په مونږ تپل شوې .جگړه زمونږ انتخاب نه بلکې مجبوريت ده . کنه مونږ د دې وړتيا لرو چې د نړۍ او سيمې هېوادونو سره د متقابل احترام په اصولو برابر په سوليزه فضاء کې ژوند وکړو .

له امريکايانو سره د مذاکراتو له پيلېدو سره سم د افغانانو په زړونو کې د تېرڅوينښت کلن جنگ د پای ته رسېدو او په تېره بيا د امريکايي اشغال په موده کې د هرې ورځې د بمبارونو، شپنيو چاپو او وحشتونو د پای ته رسېدلو هيلې راټوکېدلې . د هېواد په مختلفو سيمو مسجدونو، مدرسو او کورونو کې د مذاکراتو د کاميابېدو لپاره ختمونه او د عاگانې وشوې . د اولس د دغو ختمونو ، د عاگانو او د اسلامي امارت د سياسي د فتر د مشرانو د سياسي بصيرت صبر، زغم او د الله تعالی د خصوصي فضل او کرم په نتيجه کې دغه مذاکرات له پولسو پړاوونو وروسته بريالي شول له اشغالگرو سره د هېواد د اشغال د پای ته رسېدو، د خپلواکۍ اخستلو تړون لاسليک شو .

په دې تړون کې که څه هم د اسلامي امارت له لوري په نورو هېوادونو کې د نه مداخلې هرکړه شوې .چې ځينې خلک ورته اندېښمن دي .خو زما په گومان طالب په خپلو قربانيو او سياسي بصيرت ټول اسلامي امت ته د دې خبرې درس ورکړ . چې که چېرې اسلامي امت د دوی په لاره لاړ شي الله تعالی به دوی ته هم په خپلو دښمنانو د غلبې توفيق ورکړي او د عزت او خپلواکۍ ژوند به يې په نصيب شي .

د مذاکراتو د دغه پړاو کاميابېدل د نړيوالو او افغانانو له تصور نه لرې خبره وه . چې په کاميابيدو سره يې د افغانانو په وجود کې د يو نوي ژوند ساه وچلېده .د امريکايانو او د گوډاگيانو له لوري يې په ړندو بمباريو او وحشتناکو چاپو کې د پام وړ کموالی راغی .

د اسلامي امارت وياندويانو له پيله په دې خبره اسرار کاوه چې د افغانستان مسئله دوه بعده لري چې يو يې خارجي بعد ده او يو يې داخلي .لمړی بايد خارجي بعد سره مذاکرات تر سره شي چې هماغسې وشول .

له امريکايانو د سره د موافقې له لاسليک نه وروسته د کابل ادارې تبليغاتي دستگا داسې تبليغات پيل کړل چې گواکې طالبانو له کافرانو سره سوله وکړه او له خپلو افغانانو سره يې جگړه جاري ساتلې .تر څو د طالب په وړاندې عامه ذهنيت بدل کړي .او د دوی روانه مبارزه له سوال لاندې راولي .

خو دوی له ځان سره دافکر ونه کړ چې مونږ دا نولس کاله له همدې کافرانو سره ملگرتيا وکړه .د هغوی د خوشحالولو لپاره مو خپل هېوادوال ووژل، په کورنو مو ورته چاپې ووهلې ،

مسجدونه ، مدرسې ، کلينيکونه او ودونه مو ورته بمبار کړل . حال دا چې دغه امريکايي کافران له مونږ سره نه په دين کې شريک وه .نه په هېواد کې او نه په قوم ، ژبه او کلتور کې .او چې له چا سره جنگېدو هغوی راسره په دې هرڅه کې شريک وه . اکثره يې ديني عالمان او د قران حافظان وه . مونږ ته د دغې نولس کلنې جگړې جواز کوم عقل کوم قانون او کوم دين راکړی وه؟

دا خبره ټولو ته معلومه ده چې د اسلامي امارت روان جهاد د امريکايي اشغالگرو په ضد پيل شوی .امريکايانو په داسې وخت کې په افغانستان يرغل وکړ چې دلته يو سوچه اسلامي نظام حاکم وه . هغه وخت نه د کابل ادارې شتون درلوده او نه هم د دې ادارې عسکرو .بلکې دغه اداره اشغالگرو امريکايانو د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره جوړه کړه . د امنيتي ځواکونو په نوم يې د ولس بچيان د خپل امنيت د ساتلو لپاره ورزل .تر څو يې د خپلو افغانانو ورونو په وړاندې وجنگوي .او دخپلو ځانونو لپاره ورځخه د سپر کار واخلي .

د دوی له وتلو وروسته يې د همدې کفري نظام د ساتنې لپاره وکاروي . دغه ادراه او مفسد مديران په تېرو نولسو کلنو کې د اشغالگرو له لورې د تيارو او ټانگونو په زور په دې اولس تپل شوي .

د اشغالګرو له وتلو وروسته باید دوی دا فکر ونه کړي چې مونږ به له دې وروسته هم د دې اولس پـه سر حـاکمان یـو .او خپـل ظلـم ، وحشت او فساد ته به دوام ورکوو،طالب دې تهوپک په ځمکه کېږدي او زمونږ تر حاکمیت لاندې دې په همدې نظام کې راګډ شي .دوی بایـد دا فکر له مغزو وباسي .حقایق درک کړي .په خپلو کړنو پښیمانه شي . له ملت څخه بښنه وغواړي . او په هیواد کې د اسلامي نظام په وړاندې خنډ نه شي .

اسلامي امارت وخت په وخـت پـه خپلـو اعلامیـو کـې دا خبـره کړې چې د اسلامي امارت په قیادت کـې د افغـان ولـس روان جهـاد د دوه سپیڅلو هدفونو لپاره پیل شوی .چې یو یې د اشغال خاتمـه او بـل یې د اسلامي نظام حاکمیت ده . او د دې دارو هدفونو د ترلاسه کېدلو پورې به دوام کوي .

نن چـې د قطـر پـه دوحـه کـې طالـب مشران د اشـغالګرو لـه ګوډاګیانو سره خبرو ته ناست دي . دا د دې دلیل نه ده چـې دوی بښـه خلک دي .بښه کارونه یې کړي .نه بلکې دوی په هیڅ دیـن، قـانون او نظام کې د بښلو لایق نه دي .د کافرانو په قانون کې هـم دوی د خپـل هیواد او ملت په وړاندې خائنین بلل کېږي؛ ځکه دوی د خپل هېواد په اشغال کې د خپل کړېدلي ملت په ضد د اشغالګرو ترڅنګ دربدلي .

له دوی سره د طالب مشرانو ناسته یـواځې او یـواځې د دې لپـاره شوې چې دا د ولس یوه هیله وه چې بین الافغاني مـذاکرات پیـل شي . او د خبرو له لارې د هېواد مسئله حل شي .د وینو تویـدلو مخـه ونیـول شي .د افغانانو د خوښې خپلواک افغان شـموله اسـلامي نظـام حـاکم شي .طالب مشرانو د خپل اولس دغـې هیلـې او غوښـتنې تـه پـه درنـه وکتل .او د خپلو شل کلنو دښـمنانو او مـلي خائنـانو سره پـه یـوه میـز مذاکراتو ته کېناستل .

اوس انتخاب د طالب د مخالفو جهتونو پـه لاس کـې ده . چـې لاهم د ولس بچیان د خپل قدرت د دوام او امریکایي نظام د بقـاء لپـاره قرباني کوي د زرګونو عسکرو د سر په قیمت له دغه شړېدلي او فاسـد نظام څخه دفاع کوي .او که اسلامي نظام ته غاړه ګدي . دا دواړه لارې د دوي په وړاندې خلاصې دي .که دوی دغه طلایـي جـانس لـه لاسـه ورکړي .او د جګړې لار غوره کړي دوی به یو ځل بیا د الله رسول او د دې ملت په وړاندې ملامت او مختوري وي .

او د دې هېواد د اصیلو بچیانو په لاس به د عدالت میز ته راکـش کړی شي .ملت ته به د تېرو ظلمونو او حشتونو حساب ورکړي .دوی بایـد دا حقیقـت درک کـړي چـې لـه تېـرې څلویښـت کلنـي جګـړې وورسته مو اوس هېواد په یو حساس پړاو کې قرار لري .ملت مو د بین الافغاني مذاکراتو نتائجو ته په ډېرې بې صبرۍ سترګې پـه لاره ده .د موجوده نظام په شتون کې مو حتی په ښارونو او د دې نظـام د کنټـرول لاندې سیمو کې هم د هېوادوالو سر ، مال او نـاموس خونـدي نـه ده . چې په دې نزدې وخت کـې د قنـدهار پـه ولایـت کـې د یـوې افغـانې میرمنې په ظلم او وحشت سره شهادت او له یوه ماشوم سره لـه جنسـي تېرې نه ورسته د ظلم او وحشت او شهادت داستان لا هم د هېوادوالـو په زړونو کې ژوندی ده . په کابل او نورو ښارونو کې هره ورځ د غـلا، اختطاف او د پېسیو په سر د وژنو په سلګونو پېښې ترسره کېږي .

هېوادوال مو په هېڅ صورت کې د موجوده نظام بقاء نه غواړي . او نه دغه نظام د افغانانو ستونزې حل کولای شي .دغه نظام نه یـواځې افغانان بد ګڼي بلکې په نړیواله کچه هم د مفسـدو نظـامونو پـه لمـړۍ قطار کې شمارل شوی .

دلتـه د ظلمونـو ، وحشـتونو ، او حتـي لـه ارګ څخـه د جنسيـ زوروني عیاشۍ او د د ندې په بـدل کـې د غلطـو جنسيـ غوښـتو پـه هکله مختلفو رسنیو رپوټونه جوړ کړي .موجوده نظام د افغانانو وقـار، عزت او حیا ته ستر زیان رسولی .دلته هره ورځ د لګکیو لخـوا د هېـواد د ویاړلي تاریخ ، سترو شخصـیتونو او لویـو قومونـو تـوهین کېـږي .د امریکایانو او نورو نړیوالـو مرسـتندویه سـازمانونو لـه کړنـو او وینـاوو څخه هم جوتیږي چې نـور دوی لـه دې فاسـد نظـام سره د مرسـتې او کار کولو لیوالتیا نه لري .

دې پورته ټولو خبرو او حالاتو ته کتو اولس هیلمند ده چـې روان مذاکرات به یوې پایلې ته ورسېږي او پـه نتیجـه کـې بـه یـې هېـواد تـه سرتاسري سوله راشي . وبه ګورو چې د طالب مخالف جهتونه څومره د خپل اولس د هیلو د پوره کولو هوډ لـري .او څـومره د دې غمځپلـې اولس په درد دردمن دي .

په دې هیله چې روان مذاکرات به په لنډ وخت کې ولـس تـه د خوشحالۍ زیرۍ له ځان سره ولري .او په دې غمځپلي هېواد کـې بـه مو د سرتاسري سولې او اسلامي نظام د حاکمیت لامل شي .

(و ماذلک علی الله بعزیز)

ټرمپ پوهېږي چې پر سرېو اوښتی

ليکنه أبو إحسان عامر

تاريخ شاهد دی چې د حق او باطل اوږده او تاريخي مقابله په خپله لمنه کې ډېرې زياتې داسې پيښې لري چې باطل نه يواځې دا چې د حق په وړاندې پرمخې لوېدلی او ماته يې خوړلې بلکې د حق په حقانيت يې اقرار هم کړی.

حق خورا عيان دی، حق د خپلو ګڼو ځانګړنو له جملې نه يوه دا ځانګړتيا هم لري چې په خپله رڼا د لوی متعصب دښمن سترګې برېښوي او د ځان د تسليم مزي آن د باطل او مقابل و زړه ته غځوي، همدا لامل دی چې ډېر ځله باطل دې ته اړ شوی چې له خپلې کينې او پراخ تعصب سره سره بياهم کله نا کله د حق پر حقانيت ژبه را وڅرخوي.

لکه څنګه چې څه دپاسه ۱۴ سوه کاله وړاندې قريشو او اهل کتابو به په خپله خوله له سختې دښمنۍ سره سره د رسول الله) صلی الله عليه وسلم (په حقانيت اعتراف کاوه همداسې په روان دور او افغانستان کې د حق او باطل په دې روانه شل کلنه سيالي کې موږ) لله الحمد(ډېر ځله داسې څه مشاهده کړل او وامو وربدل چې د وخت لوی باطل)امريکا (د حق د وړکې او پر نبوي منهج روان ټولي) إسلامي امارت د لښکرو} طالبانو ({په وړاندې په هره نقطه کې ماته وخوړه او په حقانيت يې قائله شوه.

طالبان چې د جګړې او مصالحې په هره برخه کې له نبوي سيرت او سياست نه رنګ اخلي، په دې پوهېدل چې زموږ د بري راز او د دارينو سرلوړي په باطل ضد مقاومت او په استقامت کې نغښتی دی.

قرآن کريم کې اَلـلـه (ﷻ)خپل پيغمبر ته په واستقم کما امرت سره امر کوي،

همدا د طالبانو د همدې امر امتثال او پر سختيو استقامت وو چې شوخه او خونخواره نړۍ يې حيرانه او د خبرو ميز ته را کش کړه.

معلومه خبره ده چې د وخت سرکش باطل) امريکا (دې ځای ته په زاريو چا نه دی را وستې امريکا پر طالبانو له هيڅ قسم وحشت او ظلم نه مخ نه دی اړولی، امريکا کلونه کلونه پر دې تېر کړل چې څنګه طالبان له خپل هدف نه تېر کړي، له سترو جنګي ستراتيژيو سره سره يې د بمونو د مور تر څنګ بلا تېرې مرمۍ او ببرې روپۍ باران او مصرف کړې.

دا چې د طالبانو مينه له خليلي او محمدي پاکې مينې نه زرغونېږي، طبعي ده چې د داسې خلک له دردونو خوند اخلي او د داسې يو چا ماته هم بيا نا شوني ده؛ موږ د سر په سترګو

ولیدل چې طالبانو په بیخي نشت امکاناتو سره وکولای شول چې د امریکا سد سر ته راولي او پر ملا او بندونو یې غوټه ماته کړي.

ټرمپ اوس ښه پوهېدلی چې پر سرېیو اوښتی، د جنګ او صلحې په غبرګو برخو) سنګر او دفتر (کې ښه ناهیلی شوی؛ که له یوه اړخ نه یې په نظامي ډګر کې زرګونه ککری د استشهاد څپو تل کړې له بل اړخ نه دفتر کې هم طالبانو ورته په قوي استدلال مړال داسې مات کړ چې دوی یې فکر هم نه وو کړی .

مور شل کاله وړاندې لا امریکا ته ویلي وو:

افغانستان د پردیو نیواکګرو مقتل دی، څوک چې د مچیو ځاله ورانوي باید تاخته یې ښه زده وي.

خو بد بختې امریکا د افغاني تاریخ تر مطالعې د خپلو افغاني لاسپوڅو مطالبې ته اولویت ورکړ چې له کبله یې دا دی په ښه لوی غوبښن ناورین واوښته؛ له درنو تلفاتو لیدلو وروسته اوس هڅه کوي په هره ممکنه لاره چې وي له دې افغاني ګرداب نه ځان وباسي.

ټرمپ عملي ولیدل چې طالبان له زیاتو فشارونو سره سره د نظامي مبارزې په سنګر او د مصالحې په دفتر کې یو اینچ هم له خپلې داعیې او هدف نه پر شا نه شول؛ دا ځکه، طالبانو ته ښه جوته ده چې د دښمن په وړاندې تنزل د تزلزل او تذلل پیلامه ده.

دا لومړی ځل نه دی چې ټرمپ اقرار کوي او وایي :طالبان سخت او ځیرک خلک دي.

بلکې تر دې وړاندې یې هم د تېر ۲۰۱۹ کال په لسمه میاشت کې د طالبانو په اړه داسې وویل:

طالبان جګړې ته د داسې تفریح په نظر ګوري لکه څنګه چې مونږ د فوټبال یا نورو لوبو ننداري ته ځو، طالبان په همدومره لیوالتیا د تفریح لپاره جګړې ته ځي.

هو :طالبان له غیبي ځواک نه برخمند ځواک دی) من کان لله کان الله له (دا هر څه ویاړونه او بریاوې د اَلـلـه (ﷻ)ځانګړی نصرت او یو ستر احسان دی،طالبان نور هم د خپل اتحاد، اطاعت او استقامت په برکت کولای شي چې د نړی پر مخ او د تاریخ پر پاڼه لا هم ښه وځلیږي.

اوس چې د شل کلنې جهادي مبارزې د ثمرې وخت راغلی طالبانو ته په کار ده چې نور هم پر خپل مسیر او داعیه کلک شي او باید له إستقامت نه ستړي نه شي؛ د تصوف شیوخ د إستقامت په اړه زیاتوي :الإستقامة خیر من ألف کرامة .استقامت تر زرو کرامتونو غوره دی.

تر کومه وخته چې طالبان او إستقامت سره مله وي تر هغه وخته به یې مړال او إستقلال غبرګ خپل، پر ځای او ثابت وي.

إن شاء الله

وما ذالک علی الله بعزیز

افغانان د اسلامي نظام غوښتونکي دي!!

حمزه حسیني

الله تبارک وتعالی فرمایلي:

ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ (۱۸) سورة جاثية.

ژباړه: بیا مونږ تـه (د دیـن) پـه معاملـه کـې پـه واضـحه لاره باندې ودرولې، نو ته د خپل دین پیروي کوه او تـه د هغـو خلکـو د خواهشاتو پیروي مه کوه چې نه پوهېږي.

د الله تعالی حکمت دا دی چـې انسـان یـې مـدني الطبـع پیدا کړی، له ټولنیز چاپېریال پرته ژوند نشي تېرولی، پـه یـوازې ځـان خپلـې اړتیـاوې نشي۔ پـوره کـولی، رهـبر، قـانون او د ژونـد تېرولو ټولو اسبابو ته محتاج دي، نو ځکه اللـه تعـالی انسـان تـه په خطاب کې فرمایلي، "اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً" الایـه (ژ: زه تا په ځمکه کې خلیفه جوړوم) بنـاءً خلیفـه بـې رعیتـه نـه وي او رعیت یوه داسې نظام ته ضرورت لري، تر څو ځمکه ابـاده او انساني ژوند پکـې دوام او اسـتمرار ومـومي، نـو همـدا انسـاني ژوند یو نظام ته اړتیا لـري، چـې هغـه نظـام بـه لـه الهـي قوانینـو څخـه تشـکیل شـوی وي، د ناپوهـانو د خواهشـاتو څخـه جـوړ شوي مفسد نظامونه د هوساینې لامـل نشي۔ کېـدلی او نـه هـم څوک په نیمگړو نظامونو کې په ډاډمنه توگه ژوند کولی شي.

راځـم اصـلي مقصـد تـه چـې د اسـلامي امـارت بنیـاد او بنسټ له اسلامي قوانینو تشکیل شوی دی، لازمـه ده چـې هـر مؤمن او مسلمان لـه دې نظـام څخـه ننگـه وکـړي او پـرې نـږدي چې څوک دغه نظام په فاسدو نظریو مجروح کړي.

دا چـې اسـلامي امـارت د اللـه تعـالی پـه کامـل نصـرت لـه نظامي او سیاسي پلـوه د بریـا تـر پولـو رسـېدلی، مقابـل جهـت (کابل اداره) کوښښ کوي چـې بریـاوو تـه یـې صـدمه ورسـوي او که نور هیڅ و نه کړي، د اسلامي امـارت د کامیـابې دیپلوماسـۍ د ناکامۍ لپاره په ټول توان هڅه کوي، خو ممکنه نـه ده چـې دا ارمان یې پوره شي.

کابل اداره چې مستقیمًا د غربیـانو لخـوا را منځتـه شـوې، نظـام یې په غربي مفکوره متمرکز دی، اسلامي ارزښتونه یـې تـر پښـو لاندې کړي دي او غواړي په نمایشي چیغو خپـل روحیـه بـایللي نظامي او سیاسي ارگانونه ډاډمن کړي او هر ځل همـدا یـوه نـاره بدرگه کوي چې دوی به له اتلس کلنو لاسته راوړنو دفاع کوي.

دا خو ټولو هیوادوالو ته جوته ده چې اتلـس کلـن اشـغال، له فحاشۍ، عریانۍ، قتلونـو، شر او فسـاد پرتـه نـور څـه نـه دي ایجاد کړي، دا د اتلس کلـن اشـغال زېږنـده ده چـې ډېـرى خـود غرضو کړیو د خپلو شخصي۔ مفـادو پـه خـاطر د هیـواد شـتمني وپلورله، د سرحداتو پـه سر یـې لـه گاونـډیو هیوادونـو سره پټـې معـاملې وکـړې، فسـاد خوښـونکي او زورواکـان یـې د اقتـدار پـه سترو عـهدو ونـازول، د مسـلمانو مېرمنـو او ځوانـانو پـټ او عـزت یې تالان کړ؛ هیوادوال نور نه غـواړي چـې د غـربي ډیمکراسـۍ علمبردارانو ته د اقتدار واگې په لاس کې ورکړي، بلکـې دوی پـه هیواد کې د سوچه اسلامي نظام راتلو ته شېبې شماري ان شـآء الله چې دا ارمان به یې ډېر ژر پوره او سترگې پرې یخې شي.

افغانان په نړیواله توګه هغه منل شوی قشر دی، چې د اسلامي نظام په دفاع کې یې نه هېرېدونکې قرباني ورکړې دي، نو د یو هیواد وګړو چې په دومره لوړه سطحه قرباني ورکړې وي، په دې لاره کې یې ډول ډول ازمایښتونه ګاللي او لا یې ګالي، څنګه به له اسلامي نظام پرته د غرب بې دینه او فاحش دیمکراسي نظام ومني؟

هوکې! افغانستان کې موجود ځینې خلک چې کورونه او د کورنۍ غړي یې په بهرنیو هیوادونو کې مېشت دي، نه غواړي چې اسلامي نظام راشي، نه د اسلامي ارزښتونو غم ورسره دی بلکې په لوی لاس یې د مخنیوي هڅې کوي، البته د هیواد اصلي اوسېدونکي نور له غربي دیمکراسۍ ستومانه شوي او نه غواړي د خپل مکلفیت په خلاف کارونه وکړي.

په دې هر څوک پوهېږي چې مسلمانان مجبور او مکلف دي چې اسلامي نظام او قانون به مني، که د مسلمانانو لپاره د خپلې خوښې او خواهشاتو ازادي وای، نو نبي کریم ﷺ به یې په اړه دا حدیث نه بیانولو چې، الدنیا سجن المؤمن و جنة الکافر، نو له دې مالومېږي چې مؤمنان به له عریانۍ، فحاشۍ، دیمکراسۍ او نورو مفسدو کړنو ځانونه ژغوري، که له دې بې دینه کارونو یې ځانونه و نه ساتل او د خواهشاتو تابع شول الله تعالی به یې په دردناکو عذابونو ودردوي.

ټولو مسلمانانو ته په کار ده، چې د اسلامي نظام ننګه وکړي، د راتلو لپاره یې زمینه سازي وکړي، خلک له فکري انحرافه وژغوري او په اسلامي منهج یې سوق کړي، ځکه همدا د بري راز دی او بس. که زمونږ ټولنه د خپلو غولېدلو هیوادوالو ذهنیت ته سالمه پاملرنه و نه کړي، د اسلامي نظام په ارزښتونو یې و نه پوهوي ممکن ټول د هلاکت کندې ته ولوېږو، مثال به یې د هغې سورۍ شوې کښتۍ شي، چې په دوه برخو وېشل شوې وي، لاندې کسان بره کسانو ته اوبه نه ورکوي او برني کسان د لاندېنیو کسانو مرسته نه کوي تر څو د کښتۍ سورۍ شوی بند کړي، نو په داسې حالت کې به ټول هلاک شي، په کار ده چې د اسلامي نظام راتګ ته په ټول توان زمینه سازي وکړو او خپل مسؤلیت اداء کړو. په همدې هیله.

هجري کال ولې په "محرم" پیل کېږي؟

په عامه توګه ذهن ته دا خبره راځي چې رسول الله ﷺ به د هجري کال د لومړۍ میاشتې (محرم) په لومړۍ ورځ هجرت کړی وي. خو خبر داسې نه ده، بلکې هغه د ربیع الاول په میاشت کې هجرت کړی و. تقریبا ۲۲ د ربیع الاول مدینې منورې ته رسیدلی و.

نو په کار خو دا وه چې هجري کال هم په ربیع الاول پیل کیدلی، خو خبره داسې نه ده، بلکې هجري کال د محرم په میاشت پیل کېږي، د دې دوه مهم لاملونه یاد شوي دي: یو دا چې په محرم کې حاجیان کورونو ته ستنېږي.

د لومړۍ میاشتې د تعین په مشوره کې ځینې صحابه کرامو وویل چې د روژې له میاشتې به کال پیل کړو، خو عمر رضي الله عنه وویل چې نه له محرم نه یې پیل کوو، ځکه په دې میاشت کې حاجیان کورونو ته ورګرځي. او دا مشوره په ۱۷هـ کې شوې وه. (الحاکم)

دویم لامل یې دا دی چې اصلاً د هجرت هوډ په محرم کې شوی و. هغه داسې چې کله رسول الله حج یعني د ذوالحجې کې له انصارو سره وکتل چې د سیرت په اصطلاح کې "بیعة العقبة الثانیة" ورته وایي. نو له هغه وروسته لومړۍ میاشت محرم وه او په محرم کې د هجرت اراده او تیاري پیل شوه. نو ځکه دا د کال لومړۍ میاشت وټاکل شوه. فتح الباري لابن حجر

#۱۴۴۲هـ

صلاحیتونه او وړتیاوې مخته کول

د رسول الله ﷺ له وفات وروسته د هغه د خلافت په اړه ابوبکر رضي الله عنه، عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته وویل: لاس راوغځوه، چې د خلافت لپاره بیعت درسره وکړم، عمر ورته وویل: ته زما نه ډېر غوره یې، یعني ته د خلافت مستحق او وړ یې، ابوبکر ورته وویل: ته زما نه قوي او پیاوړی یې، عمر ورته وویل: زما قوت به ستا د فضیلت او غوراوي ملاتړ وي. نو عمر له هغه سره بیعت وکړ. الطبقات الکبری لابن سعد ۳/۱۵۸}.

د پکتیکا ولایت محترم والي

مولوي محمد قاسم (خـالـد)

له څرک سره ځانګړې مرکه کې:

د پکتیکا پنځه ولسوالۍ مکملې مفتوحه دي، دپنځو ولسـوالیو ۹۵ سلنه خاوره او د نهو ولسوالیو ۷۰ فیصده سـاحه دمجاهدینو ترواک او اختـیار لانـدي ده.

مرکه کوونکی :م شعیب شهامت

درنو او قدرمنو مینـه والـو دا ځل مـو د پـکـتیـکـا ولایـت لـه محتـرم جـهـادي مسـؤل مولـوي محمـد قاسـم خالد صـاحب سـره ځـانګړې مرکـه چمتـو کـړې ده چې لوستلو ته يې ستاسو پام را اړوو.

پوښتنه :مولوي صاحب محترم که په پیـل کـې خپـل ځان دڅرک مجلې درنو مېنوالو ته ور معرفي کړئ ډېره مهرباني به مو وي ؟

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی امابعد :له هرڅه نه مخکې تاسو تـه او ستاسو لـه طريق نـه د افغانسـتان مؤمن او مجاهـد ملـت تـه خپـل سلامونه نيکې هيلې او احترامات وړاندې کوم او له تاسونه يوه نړۍ مننه کوم چې مونږ ته مو دا فرصت برابر کړ تـر څـو خپل آواز تر ګرانو هيوادولو پورې ورسوو.

محترمه زه مولوي محمد قاسم خـالد د مرحـوم مولـوي صاحب سيد عمر زوي د لوګر ولايت د برکي بـرک ولسـوالي اوسېدونکی يم او في الحال د افغانستان د اسلامي امـارت په تشکيلاتو د پکتيکا ولايت د مسؤل په حيث پـه جهـادي خدمت بوخت يم.

پوښتنه :پـه عمـوم کـې د پکتيکـا ولايـت جهـادي وضعيت څنګه ارزوئ؟ سږ کال مجاهدينو کـوم پـر مختګونـه کړي دي اوڅه لاس ته راوړني لري؟

د پکتيکا ولايت جهادي وضعيت سږ کال الحمدلله د لوي الله جل جلاله په فضل او کرم سره ډېر زيات خونـدور او د پام وړ ده د سږ کال پـه جريـان کـې ګڼ شـمېر سيمې او کلي د مجاهدينو په کنټرول کې راغلي دي ، او ددښمن لـه شر څخه خلاصې شوي دي او د دښمن ګڼ شمير ډېر مهـم چارواکي په تعرضي او چريکي بريـدونو کـې لـه منځـه تللـي دي.

پوښتنه: که په پکتيکا ولايت کې د اسلامي امارت د تشکيلاتي او اداري فعـاليتونو پـه هکلـه معلومـات راکـړئ د اسلامي امـارت کـومې شـعبې هلتـه فعـالې دي او اولـس تـه خدمات وړاندې کوي په دې اړه که لږ تفصيل راکړئ؟

د افغانستان د اسلامي امـارت پـه تشـکيلاتو کـې چـې څومره اداري موجودې دي په پکتيکا ولايت کـې هغـه ټـولې فعالې دي مسؤلين يـې ټـول پـه سـاحه کـې موجـود دي ، د هرې اداري مؤظف هيئتونه په سيمه کې موجـود دي عمـلاً په خپلو کارونو بوخت دي او خپل اولس ته خـدمات وړانـدې کوي چې د نمـونې پـه ډول د څـو ادارو د فعـاليتونو يادونـه کولئ شو.

۱ . د مؤسسـاتو کميسـون داسلامي امـارت پـه تشکيلاتو کـې هغـه اداره ده چـې د اولـس پـه خـدماتو کـې فعاله ونډه لري ، پـه مختلفـو ولسـواليو کـې يـې د مکـاتبو او

کلینیکونو تعمیرونه جوړ کړي دي ، فرعي لارې او سرکونه يې جوړ کړي او جغل اندازي کړي دي ، د اوبو د لپاره يې لوېې او وړې ویالې ،او د اوبو بندونه جوړ کړي دي چې د گومل ، چاربران ، اومنې ،جانیخیل ، متاخان ،برمل او نکې ولسوالي يې د مثال په ډول وړاندې کولای شو.

همدغه راز د معارف کمیسون هم په ټولو ولسوالیو کې دیني مدارس ، عصري ابتدائیه ،او متوسطه مکاتب او لیسې فعا لې کړي دي ، په یادو مدارسو او مکاتبو کې د افغانستان د اسلامي امارت د تعلیم او تربیې د کمیسون له لوري تر تیب شوي نصاب تقریباً ٪۹۰ عملي دی، او د دیني مدارسو او عصري مکاتبو استادان ښه د امن په فضاکې خپلې چارې پر مخ وړي.

همدغه راز د ملکي تلفاتو اداره هم ښه فعاله ده د اولس شکایات اوري دهغو مشکلاتو ته شرعي او اصولي حل لاره پیدا کوي او مربوطه مراجعو ته يې راجع کوي.

فرهنگي کمیسون هم دعام اولس او بالخصوص د ځوان نسل په تربیت ،روزنه او ذهن سازي کې فعاله ونډه اخیستې ده ، وخت په وخت د اسلامي امارت مربوط نشراتي مواد په اولس توزیع کوي، او د شریعت غږ راډیو خپروني هم په اکثره ولسوالیو کې اوریدل کیږي عام اولس بالخصوص ځوانان ښه استفاده ورنه کولای شي.

پوښتنه : د مجاهدینو تعامل له اولس سره او بالمقابل د اولس تعامل له مجاهدینو سره څنگه دی آیا هغوی د مجاهدینو له تعامل نه خوښ دي کنه؟ او له مجاهدینوسره همکاري لری کنه؟

داسلامي امارت قهرمانو مجاهدینو له امریکا او د هغو له متحدینو او غلامانو سره دا ۱۹ کاله جهادي مبارزه د الله جل جلاله په ځانگړي نصرت او د خپل مجاهد اولس په همکاري ترسره کړې ده اولس په خپله غیږ کې مجاهدینو ته پناه ورکړې او هره نوعه همکاري يې ورسره کړې ده ، مجاهدین دنبي علیه السلام د هدایت له مخې نه چې) مَن لَم يَشكُرِالنَّاسَ لَم يَشكُرِ الله ۜ (له خپل اولس سره ښه تعامل کوي او په اولس باندې مکمل ترحم او شفقت لري څکه چې نبي علیه السلام هدایت کړی ده) الرَّاحِمُون يَرحَمُهُم الرَّحمن اِرحَمُوا مَن فِی الاَرضِ يَرحَمُكُم مَن فِی السَّمَاءِ (او داچې د افغانستان ملت مسلمان او مجاهد ملت ده څکه خو د اسلامي امارت له مجاهدینو سره ښه تعامل او روابط لري او د مجاهدینو له ښو اخلاقواو ښه تعامل نه ډیر خوښ او راضي دي ، همدا وجه ده چې په هر رنگه سختو شرائطو کې د مجاهدینو همکاري ته چمتو او تیار ډي او عملاً همکاري ورسره کوي.

پوښتنه :مولوي صاحب محترم داچې پکتیکا یوه لرغونې غرنۍ او گڼ میشتې سیمه ده هلته مختلف اقوام ژوند کوي طبعې خبره ده هرقوم به خپل عنعنات عرف او رواجونه لري ستاسو او د مجاهدینو گذاره هلته څنگه ده؟

هو د پکتیکا ولایت د افغانستان په نقشه کې یو ډیر ستر ولایت ده او مختلف قومونه دلته ژوند کوي تقریباً ٪۹۰ فیصده نفوس يې له څلورو اقوامو نه تشکیلیږي سلیمانخیل،خروټي ،څدراڼ او وزیر قومونه ، موږ او نور عام مجاهدینو د خپلو حسنه اخلاقو په نتیجه کې توانیدلي یو چې په ډیر لږ وخت کې مو څانونه د قومونو له عاداتو ا و عنعناتو سره څانونه بلد ، او د هر قوم د عاداتو او عنعناتو مطابق په هغه سیمه کې ژوند کوو گذاره مو ډیره ښه ده الحمدلله هیڅ نوع مشکل نشته اولس هم زمونږ له ښو اخلاقونه متأثر او هرنوع همکاري ته چمتو او تیار ده.

پوښتنه :که راته ووایاست چې په پکتیکا ولایت کې اولس په حقوقي موضوعاتو کې چاته مراجعه کوي؟ او هغه کومې مهمې پېښې او موضوعات دي چې د مجاهدینو په هڅو او توسط سره حل شوي دي؟

په پکتیکا ولایت کې اولس د خپلو موضوعاتو د حل لپاره مجاهدینو ته مراجعه کوي حتی د مرکز ښرنې له بازار نه هم مجاهدینو ته مراجعه کوي د ښرنې ملکي مسؤل راته وویل له ښار نه روزانه لسګونه عام خلک دوکانداران ،تجاران راځی د خپلو موضوعاتو د حل لپاره مونږ ته مراجعه کوي او مونږ د هغو موضوعات یا د مصلحینو له لارې حل کوو او که ضرورت ولیدل شي موضوع یې محکمې ته راجع کوو ، بناءً زه دا ویلی شم چې په سلو کې ۹۸٪ خلک د خپلو موضوعاتو د حل لپاره مجاهدیو ته مراجعه کوي ، ځکه چې د اسلامي امارت مسؤلین د خلکو موضوعات د شریعت په رڼا کې حل کوي ، د مظلوم حق د عدل او انصاف له مخې مظلوم ته ورکوي او ظالم ته د اسلام د اصولو له مخې جزا ورکوي چې دا د اولس آرزو او تمنا هم ده ، مونږ په ټولو ولسوالیو کې په تشکیلاتو کې د موضوعاتو د حل لپاره د ملکي مسؤلینو په حیث کسان تعین کړي دي هغه په کوم مسجد یا مدرسه یا بل کوم داسې عام ځای کې چې عام اولس لاس رسی ورته لري هملته روزانه موجود وي او خلک مراجعه ورته کوي ورسره په څنک کې محاکم هم ښه منظم فعال دي اکثره ولسوالی مستقلې محکمې لري ،البته په بعضې ځایو کې د یو لړ مشکلاتو له امله مو دوه ولسوالی سره یو کړي دي او یوه ابتدائیه محکمه مو ورته جوړه کړې ده ، او چې کله موضوع د اصلاح له لارې حل شي یا د محاکمو اصولي مراحل نهایي شي له هغه وروسته یې د اجراء لپاره نظامي مسؤل ته هدایت کوو چې هغه فیصله عملي او تطبیق کړي.

دلته به د څو مهمو موضوعاتو یادونه وکړو چې دمجاهدینو د اخلاص او هلو ځلو په پایله کې حل شوي دي.

۱ .د لوړګي دښته چې د پکتیکا او غزني په منځ کې واقع ده د دواړو ولایتونو اولسونو له ډیر وخت نه په دې موضوع کې جنجال وو د مجاهدینو په هلو ځلو سره مو هلته د دوي تر منځ یو حد فاصل ایجاد کړ او د دواړو لوریو حدود مو ورته معلوم کړل دایوه پیچلې حقوقي موضوع وه خو اوس مهال په جنایی موضوع بدله شوې وه خو الحمدلله دا مشکل حل کړل شو.

همدغه راز په پیرکوتي سیمه کې هم یو دوه پیچلي موضوعات وو چې د دوو قومونو په یاده موضوع کې لانجه وه یاده موضوع مو محکمې ته راجع کړه محکمې قاطع فیصله وکړله او فیصله تطبیق او اجراء شوه.

همدغه راز د پکتیکا د زیړوک ولسوالی او دخوست ولایت سپېرې ولسوالي د اولسونو په منځ کې په یو غره باندې لانجه وه داهم یوه تکلیفي او پیچلې موضوع وه د ولایت له لوري په دې موضوع کې یو هیئت تعین شو د محاکمو له عالي اداري سره په مشوره یاده موضوع حل شوه او حد فاصل ورته وټاکل شو او د دواړو لوریو طرفونه مشخص او معلوم شول.

همدغه راز د سرحوضې د دمارزکو او دنکې ولسوالی د توریخیلو دقومونو په یوه غره باندې جنجال وو چې آن قتلونه هم پکې شوي وو دلته هم د ولایت د هدایت له مخې نه یو هیئت ورته تعین شو یاد هیئت شل شپې تحقیقات وکړل وروسته له تحقیقاتو هغه حقوقي بخش یې حل شو او جانبین وریاندې خوښ شول او فیصله ورته ابلاغ شوه.

دا یوځونموني وې نور هم ګڼ شمېر داسې مهم موضوعات شته خو دلته به په همدې اکتفا وکړو.

پوښتنه : مولوی صاحب محترم د پکتیکا ولایت عمومي نظامي وضعیت سږکال څنګه دی مجاهدین په نظامي ډګر کې کومې لاس ته راوړنې لري؟ او په کومو ساحو کې مجاهدینو پرمختګونه کړي دي او دښمن یې له هغو سیمو نه په شاه کړی دي؟ او په عموم کې د یاد ولایت څومره اراضی د اسلامي امارت د مجاهدینو تر چتر لاندې ده؟

د پکتیکا په ولایت کې سږ کال نظامي وضعیت الحمدلله ډیر خوندور او دپام وړ ده ، قهرمان مجاهدین له دفاعي حالت نه تعرضي حالت ته راوتلي دي ډیرې د پام وړ لاس ته راوړنې لري په مختلفو ولسوالیو کې د دښمن په اکمالاتي کاروانونو تعرضي بریدونه شوي دي لکه ارګون،خیرکوټ او یحی خیل ولسوالی چې په نتیجه کې یې دښمن ته سخت مالي او ځاني زیانونه اوښتي دي ګڼ شمېر اسلحې او مهمات ه غنیمت شوي دي همدغه راز په جانیخیلو ،خیرکوټ ،یحی خیل، متاخان ، او وازیخوا ولسوالیو کې هم ګڼ شمیر پوستې فتح شوي دي او ګڼ شمېر کلي او پراخې ساحې د مجاهدینو تر تسلط لاندې راغلي دي . خلاصه داچې د پکتیکا د ۲۲ ولسوالیو له جملې څخه ۵ ولسوالي مکملې مفتوحه دي لکه : ډیله ، نکه، چاربران، او منه او ګیانه ولسوالي او په پنځو ولسوالسو کې ٪۹۵ سلنه خاوره د مجاهدینو تر واک لاندې ده لکه برمل، وازیخوا، خوشامند ، متاخان، او زیړوک ولسوالي ، او په ۹ ولسوالیو کې ٪۷۰ څمکه د مجاهدینو تر تسلط لاندې ده ، صرف په دریو لکه یحی خیل، شکېن، او تروه ولسوالي کې د دښمن وجود څه ناڅه زیات ده ، بناءً دا ویلي شو چې په پکتیکا ولایت کې الحمدلله ٪۷۰ سلنه خاوره د اسلامي امارت د مجاهدینو تر ولکې لاندې ده او په دغو سیمو کې اولسونه دکامل ډاډ او امن په فضاء کې ژوند کوي.

پوښتنه:که راته ووایاست د دښمن هغه کوم مهم افراد او چاراوکي وو چې اولس ورنه په تکلیف وو او د اولس په غوښتنه د سږ کال په جریان کې د اسلامي امارت مجاهدینو له منځه وړي دي او اولس یې له شر څخه خلاص سوی دی؟

سږ کال د پکتیکا مجاهدینو په تعرضي تکتیکي او چریکي بریدونو کې د دښمن شل تنه مهم قومندانان له منځه وړي دي لکه:

۱ .دریاخان تلاش دسروبي ولسوالی امنیه قومندان وو او په خپله سیمه کې د اربکیانو مشر هم وو نوموړي په سروبي ،چاربران، اومنه او ګومله ولسوالی کې یې فعالیتونه کول او د یادو ولسوالیو عام اولسونه یې له ظلمونو څخه ډیر تنګ شوي وو بالآخره د یو خاص تکتیک کې یاد قومندان ووژل شو او اولسونه یې له شر څخه خلاص شول،خلکو د خوښې مجالس جوړ کړل جلسې یې جوړې کړلې او د نوموړي په مرګ یې د خوشحالی اظهار وکړ.

۲ .په جانیخیلو کې موسی خان او عید محمد د اربکیانو قومندانان وو په سیمه کې اولسونه د دوي له ظلمونو او وحشتونو نه ډېر سخت په تکلیف وو چې د مخامخ جګړې په ترڅ کې ووژل شول.

۳ .په خوشامند ولسوالی کې د اردو دقرارګاه قومندان د جلال آباد دشینوارو اوسیدونکی وو په ظلم او وحشت کې ډېر مشهور وو بالآخره د اردو له قرار ګاه سره په ۵۰۰ میتری فاصله کې د مجاهدینو د یو کمین په ترڅ کې و وژل شو.

۴ . په خیرکوټ کې د اربکیانو یو قومندان د شفیق په نوم چې په ظلم او وحشت کې ډیر مشهور وو د مخامخ جگړې په ترځ کې ووژل شو .

۵ .په خیرکوټ کې یوه سیمه ده دبکخیلو په نوم باندې او دکابل اداري په تشکیلاتو کې د یوې مستقلې ولسوالی په نوم نومول شوې ده د دې ولسوالی امنیه قومندان د میرعالم په نوم ډیر مشهور ظالم قومندان وو د مخامخ جگړې په ترځ کې ووژل شو.

٦ .همدغه دوه ورځې مخکې محمد آصف تو خي چې دپکتیکا د امنیت آمر وو په زابل کې هم عام اولس د ده له ظلمونونه سخت په تکلیف وو د یحی خیلو په ولسوالي کې د مخامخ جگړې په ترځ کې ووژل شو چې د پکتیکا او زابل اولسونه یې د تل لپاره له شر نه په امان شول او د مخابرې له لارې نه د زابل مجاهدینو هم د نومورې د مرگ مبارکي راکړه دغه ۷ کسان هغه مشهور قومندانان وو د ټولو قومندانانو تفصیلي لیست په لاندې ډول ده.

په ۲۰۲۰ کال په ۹ میاشتو کې په پکتیکا کې د کابل مزدوزې اداري ۲۰ نفره مهم قومندانان وژل شوي :

۱۹/۹/۲۰۲۰ نیټه د مخامخ جگړې په ترځ کې د پکتیکا د امنیت آمر آصف توخي ووژل شو او د عزیزالله کاروان وحشي ورور خانداده کاروان سخت ټپی شو

د ۲۰۲۰ /۸/۹ نیټه ظالم اربکی قومندان عید محمد ووژل شو

د ۲۰۲۰ /۲۸/۴ نېټه باندې د اربکیانوقومندان موسی جان ووژل شو

د۲۰۲۰ /۲۰/٦ په جانیخیلو کې د مخامخ جگړې په ترځ کې د اربکیانو قومندان مجاهد و وژل شو د ۲۰۲۰/ ۱۵/۷ نیټه باندې د جانیخیلو بازار ته خیرمه د چاودنې په ترځ گې د اربکیانو قومندان عبدالله سخت ټپي شو.

د ۲۰۲۰ /۲۳/۴ د خوشامند ولسوالی چمبران سیمه کې د اردو قومندان شینواری قتل شو

د ۲۰۲۰ /۲/ ۲۰ نیټه باندې خبرکوټ کې ظالم قومندان شفیق و وژل شو

د ۲۰۲۰ /۱۱/٦ نیټه باندې خیرکوټ کې قومندان میرعالم و وژل شو

د ۲۰۲۰ /۱۹/۷نیټه باندې سروبي ولسوالی کې ظالم او وحشی قومندان دریاخان تلاش و وژل شو.

د ۲۰۲۰ /۱/٦ نیټه باندې متاخان ولسوالی کې ظالم قومندان آدم و وژل شو

د ۲۰۲۰ /١٦/٥ یوسفخیلو کې ظالم قومندان گل رحمن و وژل شو

د ۲۰۲۰ /۱۹/۹ نیټه باندې دیوسف خیلو پخوانی ولسوال او فی الحال اجرائیه مدیر و وژل شو

د ۲۰۲۰ /۱۰/۹ نیټه باندې برمل ولسوالی کې د چاودنې په ترځ کې ظالم قومندان شفیق و وژل شو

د ۲۰۲ /۳/۲ نیټه باندې د ظالم اربکي قومندان باگي زوي چې خپله هم اربکی وو ووژل شو.

د ۲۰۲۰ /۳/٦ نیټه باندې یحی خیلو کې شریر اربکی سلیمان و وژل شو

د ۲۰۲۰ /۱۱/٥ د کابل اداري مهم کارکونکي عبدالخالق په وازیخواکې و وژل شو

پوښتنه: په عموم کې په پکتیکا ولایت کې کومې ستونزې وجود لري؟ د اولس غوښتنه له مجاهدینو او د اسلامي امارت له مشرتابه نه څه ده؟ هغه کوم کارونه دي چې باید د اولس د هوساینې لپاره وشي خو لا تر اوسه ندي شوي؟

پکتیکا ولایت ډیره پیچلې جغرافیه لري غرنی سیمې یې ډیرې زیاتې دي لارې یې ټولې صعب العبور او له تکلیفه

ډکې دي د ولایت په سطحه یوه لویه ستونزه د لارو او سرکونو خرابوالی ده بناءً د سرکونو او فرعي لارو جوړول په پکتیکا کې یوه حیاتي مسئله ده ، همدغه راز د پکتیکا نفوس ډیر زیات ده خلک یې د مکاتبو او کلینیکونو له کمښت سره مخ ده داهم یو عمومي مشکل ده ، همدغه راز په پکتیکا کې د کتهواز په نوم یوه سیمه ده چې په دولس ولسوالیو مشتمله ده یاده سیمه کې د ځنباک د اوبو نه شتون لویه ستونزه ده که دغو مشکلاتو ته د اسلامي امارت د مشرتابه له لورې پوره توجه وشي دا به په اولس باندې ډیر زیات شفقت وي ځکه چې یاد اولس له مجاهدینو سره ډیره زیاته همکاري لري که څه هم یادو ستونزو ته یو اندازه توجه شوې ده خو پوره توجه ته اړتیا لري.

پوښتنه:داچې هیواد مو له یو بل حسای پراو څخه تېرېدونکی دی امریکایی ځواکونه ورځ په ورځ له افغانستان نه روان دي او په داخل کې له افغاني جهتونو سره هم د تفاهم کوشش روان دی د راتلونکي افغانستان په اړه څومره هیله مند یاست؟ ، تاسو له مجاهدینو او اولس سره په څنګ کې یاست اولس او مجاهدین څومره په خپلو مشرانو باور او اعتمادلري چې د اسلامي امارت پرېکړې ته به لبیک وایی؟

د افغانستان عام اولس په دین او هیواد مین اولس دی د اسلامي نظام د نفاذ لپاره یې بې شمیره قرباني ورکړې دي د دوي د بېساره قربانیو په نتیجه کې انګریزي او روسي ښکیلاکګر له شرمونکې ماتې سره مخ شوي دي ، له امریکا او دهغو له متحدینو سره هم دا ۱۹ کاله د جهاد سنګر ګرم ساتل شوي ده او زموږ د مسلمان ملت د بې شمېره قربانیو په پایله کې امریکا په نظامي او سیاسي ډګرونو کې له شرمونکې ماتې سره مخ شوې ده او اوس وتلو ته مجبوره شوې ده ، بنیادي هدف له دغو قربانیو نه په ملک کې دائمي سوله او د اسلامي نظام نفاذ ده دغه هدف ته د رسیدلو لپاره دوه لارې دي په سنګر کې دله دښمن سره جنګېدل چې دغه حالت فی الحال ښه ګړندی روان ده ، او بل د اسلام د مقدس دین د اصولو له مخې نه له دښمن سره تفاهم او مذاکرات دي اسلامي امارت دغه هدف ته د رسیدلو په خاطر دواړه لارې تعقیبوي ، نو په عموم کې دا ویلی سو چې د اسلامي امارت قهرمان مجاهدین دغه وضعیت ته ډیر زیات خوشبین دي او د اسلامي امارت د مشرانو په ټینګ او فولادي عزم باندې پوره باور او اعتماد لري او د اسلامي امارت مشرانو هرې پرېکړې ته به لبیک وایي ان شاءالله.

او له افغاني جهتونو سره مذاکرات خو فی الحال په مقدماتي پړاو کې جریان لري وبه ګورو چې مقابل لوری څومره اخلاص ښکاره کوي او د دوي استقلال او صلاحیت په کومه کچه باندې ده ، که د مذاکراتو په جریان کې مقابل لوری داسلام له سپیڅلي دین او خپل وطن سره پوره اخلاص ښکاره کړي او دخارجي استخباراتي کړیو له فرمایشي غوښتنو څخه ځان وساتي هیله مند یو چې د مذاکراو دغه پړاو به هم په کامیابی سره پای ته ورسیږي لکه څنګه چې له امریکایی جهت سره مذاکرات یوې مثبتې نتیجې ته ورسیدل.

ډیره مننه محترم مولوي صاحب چې له ډېرو مصروفیاتو سره سره مو مونږ ته وخت راکړ او د پکتیکا ولایت د روان جهادی وضعیت په اړه مو له مونږ سره معلومات شریک کړل جزاکم الله خیراً.

له تاسو نه هم ډیره ډیره مننه کوم چې مونږ ته مو دا فرصت راکړ تر څو د پکتیکا ولایت په نظامي او اداري وضعیت له تاسو سره خپل معلومات شریک کړم

...جزاکم الله

ولې د کابل له اداري خلک ناراضه دي؟

حبیب مجاهد

د ارګ اوسني واکمن شاید د افغانستان په معاصر تاریخ کې منفور ترین واکمن وي چې نه خو د نړۍ په سطحه کوم حیثیت لري او نه هم په خپل ولس کې د پام وړ مقبولیت لري .د دې عدم مقبولیت ښکاره ثبوتونه په ټولنیزو رسنیو او عامه میډیا کې د ولس هغه نفرت دی چې په بیلابیلو بڼو څرګندیږي او له چارواکو او حاکمې اداري سره خپله کرکه څرګندوي.

په تیرو ولسمشر-یزو انتخاباتو کې له ۳۵ میلیونه نفوس څخه یوازې د څو لکه خلکو برخه اخیستل، چې زیاتره یې دولتي کارمندان وو د دې بل ثبوت دی چې واکمنه اداره په ولس کې ځای نه لري .په هر حال ... راځئ دلته هغه عوامل راوسپړو چې د ارګ او ولس تر منځ یې د نفرت او لریوالي دیوالونه درولي دي.

لومړی دلیل دا دی چې واکمنه اداره دیني او ملي صبغه نه لري .دا اداره ۱۹ کاله وړاندې د امریکایي الوتکو لخوا پراشوټ شوې او په دې مظلوم ولس د ټوپک او بمبار په زور تحمیل شوې ده .د اداره په هغو قواعدو بناء شوې کوم چې په غرب کې د نظام سازۍ لپاره ټاکل شوي دي . د داري په جوړښت او طراحۍ کې زموږ د مؤمن ولس ارزښتونو او اصولو ته هیڅ پام نه دی شوی .

لکه څنګه چې د دې اداري جوړښت او چوکاټ پردی دی، همدغسې یې چلوونکي او چارواکي هم اکثره له ولس څخه پردي او د نورو ګټو ته وفادار دي .د دې اداري مشر-اشرف غني هغه څوک دی چې د عمر ډیره برخه یې په غربي نړۍ کې تېره شوې ده .هغه کاملا په غربي روحیه او نظریه تربیه شوی دی او له افغان ولس سره فکري تړاو نه لري.

د کابل اداري د نه مقبولیت بله وجه دا ده چې په نړۍ کې دولتونه د ولس لپاره د مور او پلار حیثیت لري . دولتونه ولس ته د آرام او عزتمند ژوند زمینه برابروي .د ولس د سرلوړۍ، عزت او پرمختګ لپاره کار کوي .اما د کابل اداره له افغان ولس سره داسې چلند کوي لکه لیوانو

ته چې بې ځښتنه رمه په لاس ورشي .په تیرو اتلسو کلونو کې حاکمو چارواکو د ولس او هیواد پـه نـوم راغلـي تـولې پیسې چور او په شخصي اکاونټونو کې یې جمع کړې .کله یې چې په دې پیسو خیټې نه شوې مړې، نو یې د ځمکـو غصب، د رشوت په نوم د ولـس لوټلـو، اخـتلاس او د ملـي شتمنیو په چورتالان پیل وکړ .

د دې چور تالان یوه ښه بیلګه د کابل بانک لـوټماري وه، دغـه بانـک چـې د افغـان ولـس د غریبـو اقشـارو لکـه کسبګر، معلـم، مـامور او عـادي کارمنـدانو پیسـې پـه کـې راجمع وې، د لوړ پوړو چارواکو لخوا یې پیسې په بیلابیلـو نومونو وایستل شوې او د خلیج په هیوادونو کـې وربانـدې ځمکې رانیول شوې .

له مادي چور او تـالان عـلاوه د ولـس پـه وړانـدې بـې رحمي، وژل، بندیانول، تحقیر او تعذیب بـل هغـه څـه دی چې دغه اداره یې د خلکو تر منځ د نفرت په سمبول بدله کړې ده .د کابل چارواکي خپـل ولـس تـه د غلـیم پـه نظـر ګوري .کله چـې پـه نیمـه شـپو پـه ولسي- کلیـو او کورونـو چاپې وهي له خلکو سره داسـې چلنـد کـوي چـې هغـه د سخت ترین غلـیم پـه وړانـدې هـم جـائز نـه وي .د ولسي- کورونو ته په نیمو شپو ورلویدل .د سـپین ږیـرو، ځوانـانو ، ښځو او حتی ماشومانو چارماري کول .د ولس کورونه لوټل او په آخر کې یې ولسي کورونه په بمونـو الـوزول هغـه څـه دي چې د کابل اداري د ځانګړو ځواکونو له عمـده کـارونو ګڼل کیږي.

له دې علاوه زموږ د ولس معنوي اقدارو ته سپکاوی او نه پاملرنه بل هغه څه دی چې د کابل اداره ولس ته پـردي معـرفي کـوي .د ارګ چـارواکي درګـرده لګیـا دي پـه افغانستان کې د غربي فرهنګ د پیاده کولو هڅـې کـوي . خپل دین، فکر، فرهنګ، رواجونه او عادات د پسماندګی او بدویت په تـور تورنـوي او کوښـښ کـوي چـې د غربیـانو دودونه او عادات په نوي نسل کې ترویج کړي.

د همدې عواملو په اساس د کابل اداري خپـل اعتبـار او وزن له لاس ورکړی او حاکمیت یې یوازې د پلازمینـې او ولایتي مراکـزو تـر حـده را محـدود شـوی دی .پـه همـدې محدودو سیمو کـې هـم د ارګ واکمنـو حاکمیـت یـوازې د وسلې او پیسو پـه زور دوام لـري .کـه د زر او زور خـبره نـه وای شاید دغه اداره وختي لا له منځه تللې وای.

لیکوال: جواد عمري

طالبان څوک دي..؟

ايا طالبان په نولسمه پيړۍ کې پيدا شول؟

د طالبانو سابقه څه ده، او تر شايې کومې افسانې پرتې دي؟

هغوي چې د اسلام له ستر او وياړلي تاريخ نه ناخبره دي او يا هغوي چې د طالب په دوښمنۍ کې يې سترګې حق نه شي لېدلای او هر څه يې منفي تعبيروي ، د طالب په پيژندګلوۍ کې غلطي کوي له ځانه خبرې جوړوي او په طالبانو رنګا رنګ تهمتونه لګوي، راځئ چې طالب د تاريخ په پاڼو کې ولټوو، له کينې او مبالغې پرته قضاوت وکړو.

که اسلامي تاريخ مو لوستلی وي نو ضرور به مو د اصحاب صفه نوم اوريدلی وي، اصحاب صفه هغه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم شاګردان ؤ، هغوي خپل کورونه، اولادونه، مالونه او ټوله شتمني ددې لپاره پريښي وو د مسجد نبوي په صفه(چوتره) کې به ناست وو چې د الله جل جلاله دين زده کړي، د قران او حديث علم زده کړي تر څو چې د الله جل جلاله دين بيا نورو خلکو ته ورسوي، همدوي ول چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه يې ديني درسونه يادول، په علمي ډګر کې همدوي د قرآن او د احاديثو حافظان وو، خو چې کله به د جهاد اواز پورته شو تر ټولو مخکې به دوي د جنګ لپاره تيار ولاړ وو، دغه د صفي طالبان ؤ چې د وخت ستر ظالمان او داسلام سر سخته دښمنانو ته يې د عبرت درسونه ورکړل، لکه عبد الله بن مسعود رضی الله چې ددې امت د فرعون ابوجهل نه يې سر ور پرې کړ، بلال حبشي رضی الله عنه چې اميه بن خلف يې د جهنم کندې ته وليږه.

هو دوي طالبان وو طالبان اوسنی نه دی بلکې طالبان ۱۴۰۰ سوه کاله پخوانی مخينه لري.

هغه د بدر او د احد غازيان، هغه د خيبر او د مکې فاتحان، هغه د موته او د تبوک قهرمانان ټول طالبان وو، هغوي چې په يمامه کې يې د نبوت دعوادار مسيلمة الکذاب سره وجنګيدل، او کذاب يې سره د لښکره مات کړ او د جنهم کندې ته يې واچوه، د سالم مولی حذيفه غونډې قاريان او غازيان ټول د رسول الله صلی الله عليه وسلم طالبان وو .چاچې د حضرت علی رضی الله عنه په زمانه کې هغه خوارج چې د اسلام په جامه کې د اسلام دښمنان ول، ټول شوم اهداف يې شنډ، نيست او نابوده کړل هغوي هم طالبان ول.

که د جنګ صفين واقعه وګورئ او که د يرموک، هغه چې د روم د قيصر امپراطوري يې نسکوره کړه او د فارس د کسری اتش ګدې اور يې مړی کړ هو ټول د دينې زده کړو زده کړيالان وو.

که په تاريخ کې لږ روسته راشو او په ۷ هجری صدی کې د محمد بن قاسم د سيند فاتح قصه ولولو چې په اتلس کلنۍ کې يې دسيند د جهادي لښکر سپاسالار وو د دولس زره مجاهدينو سره يې په سيند حمله وکړه، تر فتحې ورسته يې تر بيرغ لاندې يو لک او شل زره کسان دده د امر په انتظار په وسلو سمبال مجهز ولاړ وو، دا د اتلس کلن

سپسالار جنګي مهارت، اوچت اخلاق، په دين کې پوه، په اسلامي اصولو پابندي او د اسلام سره بې کچې مينې ښکاره ثبوت دی چې د سيند خلکو د نفرت پر ځای بې کچې مينه ورکړه، د نجات فرښته او دوهم لوی ديوتا(رب النـوع)يې وباله، او د سيند د خلکو په منځ کې يې ديو مهربانه پلار او نيک زړي ورور لقب وګاټه، هو دا کم عمره سپاسالار ددينې زده کړو زده کړيال)طالب (وو.

د کم عمره سپاسالار فتوحات، لاسته راوړنې او برياوې د وخت حاکم، امير سليمان بن عبدالملک ته د منلو وړ نه وو، هغه وو چې دغه ستر فاتح يې په شهادت ورسولو، او يو ځل يې دا خبره بيا ثابته کړه چې د وخت کم ظرفيته حاکمان هيڅ کله دا نغواړي چې د داسې فاتحانو او سر ښندونکو اتلانو کارنامې دې واوري، خو بر عکس تاريخ اتل اتل ثابتوي او خاين او غدار ته د غدار په سترګه ګوري.

هو!دا وياړلې کارنامې ټول د طالب دي .

که د افغانستان په تير تاريخ نظر واچوو، د انګريزانو پر ضد په دريو مشهورو جګړو کې علماوو د لاربښوونکو او د قومندانانو رول ادا کړ، په دې جګړو کې ډير علماء او طالبان شهيدان شوي، چې دکندهار ښار د طالبانو هديره، د بولدک د طالبانو هديره او د قندهار د هرات دروازې د شهيدانو چوک يې ژوندي مثالونه دي، چې دافغان مورخ مرحوم علامه عبدالشکور رشاد په وينا " دا ټول قبرونه د هغو طالبانو دي، چې د انګريزانو سره په مخامخ جګړه کې شهيدان شوي دي."

د ثور په اوومه نيټه د بدمرغه او خونړۍ کودتا وروسته کمونستانو واک تر لاسه کړ، کمونستان د افغان ولس له فکر، کلچر او عقيدې نه پردي وو، کمونستان افغان ميړني ولس ونه زغمل، هغه وو چې د شوروي يرغل عملي دور نه روسته کمونستانو د خپل فکر د تحميلولو لپاره يې په دې بيچاره ولس د ظلم لړی شروع کړه او په خاص ډول يې ديني طبقه خپل هدف وګرځاوه، هغه ووچې تر يو لک پوري ديني علماء، روحانيون او د ديني ډلو غړي يې تري تم

کړل چې يوه نيمه لسيزه وروسته يې ملت په شهادت خبر شو، علماء کرامو د جهاد اعلان وکړ، په دغه جهاد کې دولس اصلي او اساسي رهبري او د قيام حقيقي پيل ديني علماؤ وکړ چې ولس يې په اکثريت ډول تر شا ولاړ وو.

پدې وخت دکمونستانو او روسانو سره د جهاد لپاره تنظيمونه را منځ ته شول په دغو ټول تنظيمونو او جبهاتو کې طالبانو کډون درلود، چې کارنامې او قرباني يې د يادولو وړ دي، چې زيات شمير طالبان د مولوي نصرالله منصور په تنظيم کې ول، هغه د طالبانو سياسي جوړښت" تنظيم طلبه " په خپل لاس ډير منظم کړي و، او د طالبانو دا تنظيم ډير خوځنده، متحرک او فعاله ؤ او د تنظيم د مشر لخوا ورته ډيره پام لرنه کيده .

همدا شان د حرکت تنظيم سره د مولوي محمد نبي محمدي تر قيادت لاندې ډيرو طالبانو جهاد کاوه چې حرکت تنظيم د" جميعت طلبه حرکت "په نامه مستقيل سياسي جوړښت لاره، په دې وخت کې امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله هم په عملي جهاد کې د حرکت تنظيم د يو غړي او قومندان په حيث جهاد کاوه، او ډير مخلص ملګري طالبان هم ورسره ول.

روسته بيا حزب اسلامي، اتحاد اسلامي او دملي اتحاد جبهې هم ديته ورته جوړښتونه جوړ کړل، چې د ديني طالبانو لپاره يې بېلې سياسي ډلې او څانګې تاسيس کړې.

کله چې روسي ځواکونه د ۱۳۶۷ه ش د سلواغي په ۲۶ مه له افغانستانه ووتل، د جهاد له بريالي کيدو نه روسته ځيني واک غوښتونکو مشرانو د واک په سر خپل منځي شخړې پيل کړې، چې په نتيجه کې هغه جنايتونه ترسره شول چې د کمونستي نظام نه وروسته دا جنايتونه کم ساري بلل کيږي، په نتيجه کې يې پاټکي نظام منځته راغی هرچابه په خپله خوښه حکومت کاوه، دهيچا سر، مال او ناموس په امن کې نه وو، چې له دې ټولو حالاتو څخه د ملت هر عام او خاص وګړی خبر دی.

ملت ددې جنايتونو نه نور تر پوزې رسيدلی وو .او ديو داسې چا انتظار کاوه چې دا ملت ددې بـدبختيو وژغـورې، هغه وو چې د ملا محمد عمر مجاهد تر مشرۍ لانـدې يـو ځل بيا د طالبانو تحريک په يو نوي شکل سره په غورځنګ راغي، ملت يې بې ساري هرکلی وکړ، او د نجات فرښتې يې وبللې، هغه و چې د ولس په ملاتړ او همکارۍ سره طالبـانو واک تر لاسه کړ.

طالبانو په سختو شرايطو کې پنځه کاله حکومت وکړ، د غربت او د نړيوالو بنديزونو سره يې داسې امنيت قايم کړ چې خلک يې په مثال کې وړاندې کوي، د الله ج په ځمکه يې ډير وخت روسته د الله جل جلاله نظام حاکم کړ، حدود يې قايم کړل، هيواد يې له تجزيې نه وژغوره، مسلمانان يې د يو واحد او اسلامي بيرغ لاندې را ټول کړل او د ابادی او بيا رغونې په لور يې ګړندي قدمونه اوچت کړل .خـو پـه ډيـر تاسف سره دغه ارمان ته ونه رسـيدل او د نړيـوال کفـر لـه طرفه د طالبانو حکومت نسکور کړل شو.

د ۲۰۰۱ کال د امريکې د اشغال نه وروسته طالبان سره خواره شول او مشران يې د بيا تنظيم په چارو بوخـت شـول هغه وو چې طالبـان بيـا سره مـنظم شـول او د امريکـې پـه خلاف يې عملً جهاد پيل کړ، دا اتلس کاله د اوږدې مبارزې وروسته يو ځل بيا الله)ج (طالبانو ته بريا ورکړه، او د قطر په پلازمينه کې يې له امريکـا سره د اسـتکبار د مـاتې تـړون لاس ليک کړ، اوس د بين الافغاني مذاکراتو لپاره تياری روان دی .ټمه کيږي چې ددې مذاکراتو په نتيجه کې به يو سوچه اسلامي نظام منځته راشي، او دا مزاکرات بـه ددې ملـت د هوسـايني او سـوکالی سـبب شي ان شأالله.

طالبان د علم په ډګر علماء، دجهـاد پـه ډګـر کـې مجاهـدين او د قربـانيو پـه ډګـر شهيدان دي .

که د دين د زده کړې مراکـز دي پـه طالبـانو ډک دي، که دجهاد سنګرونه دي په طالبانو ډک دي، که زندانونه دي په طالبانو ډک دي نو د شهيدانو هديرې هم په شهيدو طالبانو ډک دي.

طالبانو د اسلام په سر له هيڅ چا سره معاملـه او سـودا نده کړې، طالبان په تاريخ هيڅ د پيغـور داغ نـه لـري، هـو طالبان د قربانيو هغه مثال دي چې د يـوه ميلمـه پـه سر يـې خپله ټوله بادشاهي جار کړه، طالبان هغه اتلان دي چـې پـه نشت امکاناتو يې د نړې سوپر طاقت له ۴۳ کفري هيوادونو سره مات کړ.

که ووايو چې طالبان د تـاريخ اتـلان دي دا بـه مبالغـه نوي، دا فکر چې طالبان به وځپل شي او ختم به شي يـوازې حماقت دي او بس.

بالاخره طالبان د رسول الله صلی الله عليـه وسـلم ددې حديث مبارک مصداق دي :

عَنْ مُعَاوِيَةَ ، يَقُولُ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ " : لَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِي أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللَّـهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ ، وَلَا مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ عَلَى ذَلِكَ "

ترجمه :له معاويه) رض (نه روايت دي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي چې ويل يې .زما په امت کې به يوه ډله وي چې دالله تعالی په احکامو به پابنـد ولاړ وي، دوي ته به دچا دښمني او مخالفت ضرر نشي رسولي او دوي به په هم دې حال وي تر قيامته پوري.

مرکيال عاکف مهاجر

دهيواد نوميالی جيد عالم

شيخ الحديث مولوي واعظ

څرک مجلې سره په ځانګړې مرکه کې:

طالبانو ته به دا وايم چې د هميشه لپاره په جماعت لمونځ کوئ، علماء دې اتحاد کوي له اختلاف دې ځانونه وساتي، اختلاف کې هيڅ ګټه نشته تل مسلمانان او خاصکر علماء اختلافونو زيانمن کړي دي.

جناب شيخ صاحب د څرک مجله د خپلو نوميالیو شيوخو او استاذانو سره د مرکو په لړ کې دا ځل تاسو انتخاب کړي ياست تر څو مو درانه لوستونکي او مينه وال د خپل ژوند له لوړو ژورو قيمتي تجربو او نصائحو څخه مستفيد وګرځوی خو پيل به يې ستاسو له تعارف وکړو.

شيخ صاحب: په لومړي سر کې د افغانستان اسلامي امارت د مطبوعاتي څانګې مسئولينو خاصکر د څرک مجلې مدير، او همکارانو ته او بيا ستاسو له لارې د څرک مجلې لوستونکو ته

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

مننه کوم چې مونږ ته مو وخت راکړ خدای جل جلاله دې وکړی چې ستاسو د ظن (ګمان) مطابق هغه څه و وايم چې زما او ستاسو لپاره د اخرت يوه توښه وګرځي.

زما نوم مولوي واعظ د لوګر ولايت د برکي برک ولسوالۍ اوسيدونکی چې له نن څخه ۹۲ کاله وړاندې په ۱۳۰۷ کال د ميزان مياشت کې د پنجشنبې په ورځ دغې دنيا ته راغلی يم او لا يې هم ميلمه يم خو د پيدايښت ورځ دقيقه راته نده معلومه اما مياشت او کال يې همدغه وو چې دغه کال بيا زمونږ او ستاسو په عرف کې په سال سقاوي يا سقاوي کال باندې هم شهرت لري.

پوښتنه: لومړني او وروستني درسونه مو چيرته او له چا څخه لوستلي وو.

شيخ صاحب: زمونږ او ستاسې عمومي دود او دستور داسې ده چې ماشوم جومات ته د زده کړې لپاره ليږو زمونږ کورنۍ يوه علمي کورنۍ ده پلار او تره يعنې کاکا مې دواړه ښه ملايان وو زما کاکا مولوي محمد جان صاحب چې د والد صاحب په څير مې هغه هم يو ښه نوم درلود زياتو طالبانو به پرې درسونه ويل او ګڼ شاګردان يې درلودل هغه مهال د لوګر ولايت محمداغې ولسوالۍ اړوند په ګمران کلي کې وو لومړني درسونه مې له هغه سره و ويل او منځني درسونه مو بيا له خپل والد صاحب او له يو بل استاذ څخه چې په قاضي صاحب مشهور وو د محمداغې ولسوالۍ په کتب خيلو کلي کې ترسره کړلې.

ميېذي مو هم په محمداغه ولسوالۍ کې د حرکت انقلاب اسلامي له امير مولوي محمد نبي محمدي صاحب څخه په مغل خيلو کلي کې ولوستله.

دا چې امير صاحب يو خورا ستر او غښتلی عالم وو وروسته مو شپږ کاله په برکي برک کې ورسره تير کړل او د فنونو وروستي کتابونه مو د وړې دورې د ځينې کتابونه په شمول ټول له همده نه ولوستل چې هغه مهال يې په علميت کې ساری نه درلود.

دا چې د وړې دورې ځينې کتابونه مې پاته ول هغه مو بيا د لوګر مرکز اړوند پادخواب شانه کلي کې له ملا محمود او مولوي فقيرمحمد صاحب څخه ولوستل.

د درسونو پای او لويه دوره مو په دوه نيم کاله کې د غزني په قلعه جواد کې د حضرت صاحب مدرسه کې له شيخ سلطان جان صاحب سره وکړه، خو دستاربندي مو بيا په څرخ کې د مغل خيلو مير صاحب څخه وکړه چې مخکې مې هم استاذ وو بيضاوي او د تکميلې ځينې کتابونه مې ترې ويلي وو.

پوښتنه: لومړی تدریس مو چیرته پیل کړلو؟

شیخ صاحب: له فراغت وروسته مو دولس کاله د لوګر مرکز اړوند د ده مغلان په جامع جومات کې وکړ وروسته بیا څه موده په تنګي وردګ او څه په سپین ورسک کې خو به ده مغلان کې خکه ډیر خوښ وم چې طالبان زیات وو نو طبعا به خوښ وم درس مو ښه روان وو.

شپږ کاله مې بیا د کابل په ده سبز کې وکړ یو کال بیا د لوګر په خوشي ولسوالی کې وم، خو د روسانو له راتګ دوه کاله وړاندې بیا د درس لپاره د کندز دشت ارچي ولسوالی ته وکوچیدلم هلته مې دوه کاله درس وکړ چې په وروستي کال یې روسانو په افغانستان یرغل وکړ هغه مهال مجاهدین ډیر کم او کمزوري وو زما یو ورور هم د روسانو پروړاندې جهادي سنګر ته د یو سرلاري او قومندان په توګه ودانګل چې ډیر نومیالی او میړنی مجاهد وو بالاخره د روسانو له لوري په شهادت ورسید، وروسته زه له هغه ځای راپناه شوم خپل خای لوګر ته راغلم، چونکې د ورور ماشومان مې هلته وو هغو پسې بیا ولاړم چې هلته روسانو ونیولم شپاړس ورځې بندي وم وروسته یې بیرته خوشې کړم، د ورور کورودانه او بچیان مې بیا لوګر ته له ځان سره راوستل.

بوښتنه: په ټوله طالبي کې هغه کوم څه ډیر سخت وو چې تاسره مخ شوی یې؟

شیخ صاحب:د طالبي حالات وي خامخا لوړې زورې راځي ځینې وخت به ډوډی نه وه آن د شفتلو خوړلو ته به مجبوره وو، ځینې وخت به ځای سم نه وو او ځینې وخت به نور مشکلات وو خو سخت به هغه وخت وو چې درس به مو سم نه وو.

پوښتنه: کله مو په دولتي محاکمو یا بل کوم منصب باندې دنده ترسره کړې؟

شیخ صاحب: هوکې! کله چې په افغانستان د طالبانو واکمني وه اسلامي امارت وو شریعت حاکم وو هغه مهال مو د ستړې محکمې په دارالافتاء کې د هیواد له قاضی القضات ستر عالم مولوي نورمحمد ثاقب صاحب سره په دارالافتاء کې دیارلس میاشتې تیرې کړې چې تر هغه وروسته بیا په هیڅ کوم منصب نه یم پاته شوی او دا دی اوس مهال هم خپل کلیوالي درس کوم.

پوښتنه: د یو عالم په توګه مو علماء او طالبانو ته څه نصیحت ده؟

شیخ صاحب: طالبانو ته به دا و وایم چې د همیشه لپاره په جماعت لمونځ کوئ، معروفه او مشهوره ښیاکي مه کوئ او علماء دې اتحاد کوي له اختلاف دې ځانونه وساتي، اختلاف کې هیڅ ګټه نشته تل مسلمانان او خاصکر علماء اختلافونو زیانمن کړي دي د علماء اختلاف زیات زیانونه لري.

پوښتنه: ځیني خلک وایي چې شیخ صاحب محمد نعیم اخندزاده مشهور په کوڼ اخندزاده هم ستاسو شاګرد دی که مشهور استاذان او شاګردان مو راته وښیاست؟

شیخ صاحب: نه هغه مې نده شاګرد خو مشهور استاذان مو نو همدغه دي امیر صاحب د حرکت، د مغل خیلو میر صاحب میر عبدالستار، ملا محمود صاحب، مولوي فقیر صاحب، د اکوړي مولوي پاچاګل صاحب او شیخ سلطان جان صاحب او شاګردان مو بیا مولوي موساجان صاحب د خروار، مولوي عبدالجبار صاحب، سید یحیا اغا صاحب، مولوي عبدالروف صاحب او د څرخ ملاګل صاحب چې د حضرت صاحب خلیفه وو.

یادونه: مولوي واعظ صاحب اوس هم په ډیر ضعیف حالت کې د دین له خدمت څخه مخ نده اړولی او په کمزوري بدن له کور سره خواته مدرسه کې په داسې حالت کې درس کوي چې وایي درې ځله مو په کور او مدرسه امریکایانو چاپه واچوله چې یو ځل مو کور کې څو تنه میلمانه مجاهدین هم شهیدان شول او مدرسې ته مو بیا اربکیان په څو واره راغلل تالاشی یې وکړې غوښتل یې هسې مو تنګ کړي، خو وایي اوس الحمدلله سیمه توله د اسلامي امارت د مجاهدینو تر کنترول لاندې ده په ارامه فضا کې تدریس کوي.

د هغه په ځینو ځانګړو خصلتونو کې یې ځوی یو دا راته ډیر عجیب خصلت وښود چې مولوي صاحب یو چراغ (لاټین) لري تل ورسره وي آن کله چې حج ته تللی وو له ځان سره یې حرم ته هم وړی وو، هغه وایي چې د حج د سفر پر مهال یې دغه چراغ (لاټین) باندې هلته ځانته چای پخولو او کله چې ډیر یخ وي تهجدو ته راپورته کیږي، نو همدغه چراغ (لاټین) باندې ځانته د اوداسه لپاره اوبه هم ګرموي.

زوی یې مولوي محمدالله صاحب د خپل والد صاحب په اړه وایي چې هغه کله هم تهجد نه دي قضا کړي چې ډیر سخت مریض وي هم یې کوي، دا دی د ۹۲ کلونو په عمر کې دی خو اوس هم تهجد کوي او د درس دومره شوقین دی چې اوس هم راځي همدلته دغو ماشومانو ته سبق وایي.

د مولوي واعظ صاحب څلور زامن دي چې درې یې علماء او د یو یې بیا عصبي توازن برابر نه دی.

د اولاد د روزنې ۱۲۹ مشورې

د .أحمد بن عثمان المزيد+د .عادل بن علي الشدي
ژباړه :سعد کټوازی

د ماشومانو روزنه هم یو فن ده چې ډېر کم خلك پرې نه پوهېږي، پر دې موضوع لسگونه واړه او غټ کتابونه لیکل شوي، موږ مناسبه وگڼله چې په څو داسي گټورو اصولو کې له هغو څخه د ځینو لنډیز را ټول او را واخلو چې د ماشومانو په سالمه روزنه کې ورته د هغوی والدین او روزونکي زښته زیاته اړتیا لري.

عقیده:

۱ -:اولاد ته کلمه طیبه او په هغې کې نفې او اثبات وښیه؛ په «لا إله» کې له الله تعالی پرته د نورو د خدایي نفې ده او په «إلا الله» کې یواځې د خدای ج لپاره د خدایي ثابتول دي.

۲ -:دا ورته وښیه چې موږ د څه لپاره پیدا شوي یو﴿وَمَا خَلَقْتُ الجِنَّ وَالاِنْسَ اِلاَّ لِيَعْبُدُوْنَ﴾ او د عبادت او بندگۍ بشپړه مانا هم ورته وښیه.

۳ -:د دوزخ له اور، عذاب، د خدای ج له ترټنې او قهر څخه یې ډېر مه وېروه، ترڅو په ذهن کې یې د الله تعالی یاد له دغو وېرونکو شیانو سره ونه تړل شي.

۴ -:داسي یې جوړ کړه چې له الله تعالی سره تر ټولو زیاته مینه ولري، ځکه همغه موږ پیدا کړي، روزي راکوي، خوراك، څښاك او جامه را کوي او موږ یې مسلمانان گرځولي یو.

۵ -:په پټه له غلط کار کولو یې و وېروه، ځکه الله تعالی یې په هر حالویني.

۶ -:هغه نېکۍ ډېري ورباندې کوه چې الله تعالی پکې یادېږي، لکه د خوراك، څښاك، وتو او ننوتو پر وخت «بسم الله» شریف ویل، له خوراك او څښاك وروسته «الحمد لله» ویل، د حیرانتیا پر وخت «سبحان الله» او داسي نوري کلیمې ویل.

۷ -:د نبي علیه السلام د ځیني ښو صفاتو په ور ښودلو، د هغه په مخکې د نبوي سیرت د کیسو کولو او هر وخت چې د نبي علیه السلام نوم واخیستل شي پر هغه باندې درود ویلو سره اولاد ته له نبي علیه السلام سره مینه ور پیدا کړه.

۸ -:د قضاء او تقدیر عقیده د هغه په ذهن کې مضبوطه کړه چې خدای ج څه و غواړي هغه کېږي او څه چې خدای ج نه غواړي هغه نه کېږي.

۹ -:ماشوم ته د ایمان شپږ اصول) پر خدای ج، پرښتو، کتابونو او رسولانو، په ورځ د آخرت، د خدای ج له لوري د خیر او شر په تقدیر او له مرگ وروسته ژوند (ور وپېژنه.

۱۰ - :د عقیدې په باره کې ځیني پوښتنې ورڅخه وکړه (وابونه یې ور زده کړه) ؛ لکه :ستا رَب څوك دی؟ نبي دې څوك دی؟ موږ د څه لپاره پیدا شوي یو؟ څوك روزي، خوراك او څښاك راکوي؟ څوك مو له ناروغۍ څخه روغوي؟ توحید څو رنگه دی؟ شرك، کفر او نفاق څشی دي؟ د مشرك، کافر او منافق لپاره کوم کوم عذابونه دي؟ او داسي نور.

عبادت:

۱۱ -:اولاد ته د اسلام پینځه جوړښتونه)شپږم یې جهاد (ور وښیه.

۱۲ -:پر ماشوم د لمانځه تمرین وکړئ؛ »مُرُوا أَبْنَائَكُمْ بِالصَّلَاةِ لِسَبْعٍ وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا لِعَشْرٍ «ترجمه :اووه کلني اولادونه مو پر لمانځه ودروئ او په لس کلنۍ کې یې د لمانځه پابند کړئ.

۱۳ -:اولاد مسجدونو ته درسره بوزه او د اودس طریقه ور وښیه.

۱۴ -:د مسجدونو اداب، درناوی او سپېڅلتیا ور وپېژنه.

۱۵ -: د روژې تمرین ورکړه چې تر لوېدو پوري پرې عادت شي.

۱٦ -:ماشوم دې هومره اندازه قرآن کریم، صحیحو حدیثونو او ذکرونو یادولو ته وهڅوه څومره چې د هغه په وس کې وي.

۱۷ -:چې هغه) د قرآن، حدیثونو، ذکرونو (په یادولو کې پر مخ ځي، نو جائزه ور کوه، ابراهیم بن أدهم رحمه الله وایي : پلار مې راته وویل :بچیه ! حدیث شریف زده کړه، هر حدیث چې دې واوریډ او یاد دې کړ یو درهم/روپۍ به در کوم، نو ما په همدې طریقه حدیث زده کړل.

۱۸ -:اولاد) د قرآن، حدیثونو، ذکرونو (په یادولو او تکرارولو ډېر مه ستړی کوه، زړه یې ترې توربږي.

۱۹ -:دېته دې پام وي چې ته د خپل اولاد لاربنود یې، نو که تا خپله په عبادت کې غفلت او سستي وکړه او پر ځان دې بوج وباله، اولاد دې درڅخه أغېزمن کېږي او عبادت پر ځان بوج ګڼي، ځیني وخت لا بیا ترې تښتي هم.

۲۰ -:اولاد پر صدقې ور کولو أموخته کړه چې کله کله ته صدقه کوې او هغه دې ویني، یا چې کوم شی صدقه کوې د اولاد پر لاس یې مسکین ته ورکړې او له دې غوره او ښه دا ده چې هغه تشویق کړې چې له جمه کړې پاکې روزي څخه صدقه ورکړي.

خویونه:

۲۱ -:که غواړې چې اولاد دې رښتوني وي، نو زړه ته یې وېره مه ور اچوه.

۲۲ -:د رښتونولي او أمانتداري ګټه ور ته وښیه.

۲۳ -:د اولاد په ناپامۍ کې د هغه أمانت داري وازمایه.

۲۴ -:اولاد ته د زغم کولو او له بېړي/تلواري د ځان ساتلو تمرین ور کړه، دا کار په روژه باندې د هغه د أموخته کولو له لاري او یاهم د داسي بل کار په تمرین ور کولو سره کولای شي چې زغم او په کراره کولو ته اړتیا لري.

۲۵ -:د اولادونو ترمنځ برابري کوه، د اولادونو ترمنځ برابري هغو ته د عدل خوی ور زده کولو تر ټولو ښه طریقه ده.

۲٦ -:د عملي ځایونو یا ځیني هغو کېسو له لاري اولاد په قربانۍ ورکولو عادت کړه چې د قرباني ورکولو ستاینه پکې وي.

۲۷ -:اولاد ته د دوکې، خیانت، غلا، دروغو منفي نتېجې ور په ګوته کړه .

۲۸ -:که اولاد دې په کوم ځای کې زړورتیا وښودله، نو ستاینه یې وکړه، جائزه ور کړه او زړورتیا ورته وښیه چې یو ښه او ضروري کار کول دي.

۲۹ -:سختي مه ورسره کوه، خدای مکړه په وېره، دروغو او بې زړه توب یې أخته کړې.

۳۰ -:له عاجزي، نرمي او کبر څخه ځان ساتلو سره مینه ور پیدا کړه.

۳۱ :په دې یې وپوهوه چې خلك په تقوا او نېکو کارونو یو پر بل غوره او ښه کېدای شي، په پلرګنۍ، وړتیا او مال نشي- غوره کېدلای.

۳۲ -:اولاد پوه کړه چې د ظلم انجام ډېر کرکجن دی، بېلاری بېرته خپله پر سړي را ګرځي او خیانت سړی د بربادۍ لور ته بیایي.

۳۳ - اولاد ته د هغو شیانو تر منځ توپیر وښیه چې هغه یې یو له بله نه سره پېژني؛ لکه :د مېراني او بېباکۍ، د حیادارۍ او شرم، عاجزۍ او سپکتیا، پوهي او دوکې تر منځ توپیرونه.

۳۴ -:اولاد پر سخا عادت کړه چې په خپل کور کې سخي و اوسي او خپل خیر له نورو ونه سپموي.

۳۵ -:هیڅ وخت او خاصکر له اولاد سره وعده خلافي مه کوه، په دې سره د هغه په طبیعت کې د تعهد او ژومنتیا ښه والی نقش کېږي.

چلند او ادبونه:

۳٦ -:پر زوی سلام واچوه.

۳۷ -:د اولادونو تر مخ په ځان لوڅولو کې بې پروایي مه کوه.

۳۸ -:له ګاونډیانو سره ښه چلند کوه.

۳۹ -:اولاد ته د ګاونډي حقونه ور زده کړه او د هغه د ځورولو خطر ته یې متوجې کړه.

۴۰ -:د مور او پلار فرمانبرداره اوسه، له خپلوانو سره خپلوي پاله او خپل اولادونه پکې درسره کړه.

۴۱ -:اولادونه په دې پوه کړه چې خلك له پاکو او هغو ماشومانو سره مینه کوي چې نور نه ځوروي.

نور بیا...

منځني ختيځ کې

حالات پرکوم لور روان دي ؟

شهيدزوی

که په غور وليدل شي نو دمنځنـي ختـيځ حـالات د ډېرې لويې خرابۍ پر لور روان دي؛ دا ويل به بې ځايه نـه وي چې پـه ۱۹۴۸م کال کې دغاصب اسرائيلي دولت درامنځته کېدو نـه را وروسته نن په منځنـی ختـيځ کـې ډېـر سـتر بدلونونـه رامنځتـه کېدونکي ښکاري؛ واک ته دټرمـپ درسـېدو نـه پـس د منځنـي ختيځ او په ځانګړي ډول داسرائيلو پـه هکلـه د امريکـا پاليسـۍ ډېر تغير وموندلو؛ اوسنۍ کړنلاره دټېرو وختونـو نـه بېخـي بدلـه ده؛ د اسرائيلو په حمايت کـې ډېـر تېزوالـی راغلـی او امريکـا پـه کمه موده کې دتمې خلاف ګڼ داسې اقدامات وکـړل چـې پـرې دننه اسرائيلي دولـت قـوي؛ پـر سـيمه يـې خـوف لا زيـات اوپـه سياسي لحاظ دټېرو وختونو په پرتله ډېر ځواکمن شو.

دټرمـپ د واکمنــۍ پـدې لـړې مـودې کـې چـې غاصـب اسرائيل په څومره تېـزۍ مـخ پـه وړانـدې ولاړل لـه دې وړانـدې دامريکا ديو ولسمشر د واکمنۍ پـر مهـال هـم پـه دومـره تېـزۍ مخ په وړاندې نه وو تللي.

په ۲۰۱۷م کال کې چې ټرمـپ بيـت المقـدس د اسرائيلـو لپاره د پلازمېنـې پـه صـفت اعـلان کـړ ورسره ډېـرې لـويې نـړۍ خپل مخالفت ښکاره کـړ خـو ټرمـپ ددې مخـالفتونو هـيڅ پـروا ونه لرله؛ تر ننه په خپلې پرېکـړې ولاړ دی او د اسرائيلـو پـه اړه د امريکا دهرې پرېکړې نه دنړۍ دحمايت د راجلبولو هڅې کوي.

ددې ترڅنـګ ټرمـپ د فلسـطيني دولـت سره د روابطـو دپرې کولو او ورباندې دامريکا دمرستو ودرولو پرېکـړه هـم کـړې وه چې دې دواړو اقداماتو په عربي نړۍ کـې ډېـر لـوی اضـطراب رامنځته کړی و او ګڼو عربـو هېوادونـو دامريکـا ددې اقـدام سره خپـل مخالفـت هـم ښـکاره کـړ خـو دا چـې دا مخالفـت هسـې نمايشي او موقت و نو دامريکا په دريځ کې يې هيڅ کـوم بـدلون رامنځته نکړ بلکې پرعربو هېوادونو يې

داسرائيلو په رسميت پېژندلو لپـاره فشـار روان وسـاتلو تـر دې چې هڅو يې نتيجه ورکړه او دا دی دعربو متحده امـاراتو پـه علنــي ډول اسرائيــل پــه رســميت وپېژنــدل؛ ور سره يــې د ديپلومـاتيکو اړيکـو جـوړول اعـلان کـړل او د دواړو هېوادونـو ترمنځ پدې اړه ترون رامنځته شو.

پدې ترون کې دامريکا دولسمشر ټرمپ رول ډېر ښـکاره و چـې ورسره د منځنـي ختـيځ او عربـو هېوادونـو پـه اړه د امريکـا کړنلاره هم لا روښانه شوه.

امريکا غواړي چې نور عرب هېوادونه هم دآزاد فلسـطيني دولـت لـه غوښـتنې تېـر؛ داسرائيلـو تـر حاکميـت لانـدې دفلسطينيانو لپاره دمدني حقوقو په منلـو راضي او اسرائيـل پـه رسـميت وپېـژني؛ همـدا دفلسـطين دسـتونزې حـل وګڼـي او همدلته دفلسطين ستونزه حل وګڼل شي.

عـرب هېوادونـه لا لـه وړانـدې دامريکـا اتحاديـان دي خـو اوس چې دچين داقتصاد تېز استحکام امريکا يوڅـه اندېښـمنه کړېده نوامريکا ته اوس دعربو هېوادونو پخوانۍ ملګرتيـا دمنلـو وړ نده ؛ اوس امريکا له عربو هېوادونو دامريکا په څنګ کې سـم ودرېدل غواړي.

له دې څوک انکار نه شي کولای چې لا هم په ټولې نـړۍ کـې د امريکـا سره پـه نظـامي او اقتصـادي ډګرونـو کـې څـوک

دسیالۍ نشته؛ دا یقیني ده چې امریکا ته اوس هم دسعودي عربستان او ځنې نورو عربو هېوادونو نه په ډېر کم نرخ تېل روان دي خو امریکا دعربو هېوادونو تېلو ته دپخوا په څېر نده محتاج؛ د۲۰۱۸م کال پورې سعودي عربستان دنړۍ تر ټولو ستر تولیدونکی او صادرونکی هېواد و؛ دتېلو دصادرونکو هېوادونو تنظیم اوپیک باندې دسعودي عربستان غلبه وه خو په ۲۰۱۸م کال کې امریکا دنړۍ تر ټولو ستر دتېلو تولیدونکی هېواد وګرځېد.

نو د تېلو په بابله امریکاعربو ته نوره اړتیا نه لري ځکه خو اوس له عربو اتحادیانو غواړي چې هره پرېکړه دې یې په سر سترګو مني؛ همدا به ددوئ د وفادارۍ اعلان وي او همدا به له امریکا د ځان جارولو ثبوت وي.

اوس د امت اجتماعي ګټې او مسائل په کلي ډول له نظره غورځېدلي دي؛ په عربو او عجمو ټولو هېوادونو کې اوس دهېوادونو سره اړیکې د شخصي ګټو لپاره وي؛ هر هېواد اوس بل ته د دوستۍ لاس یواځې د خپلو ګټو لپاره ور اوږدوي نو که اسرائیل دفلسطین خاوره قبضه کوي؛ دفلسطین دمسلمانانو پر ضد یې وحشت له ټولو حدودو وځي او که هند ټول کشمیر نیسي؛ ټول مسلمانان په خپلو کورونو کې محاصره کوي؛ هره ورځ پرې بریدونه کوي،ځوانان زندانونو ته وړي پرمېرمنو جنسي-تېري کوي له دې روان وحشت نه هم مسلمان حاکمان ځانونه نه خبروي؛ نه د هند سره خپلې اړیکې پرې کوي؛ نه ورنه ددې ظلمونو د ودرولو غوښتنه کوي او نه دخپلو کشمیري ورونو په حمایت او دهند د وحشت پر ضد چرته اواز پورته کوي.

د اوس په پرتله هاغه وخت هم ډېر ښه و چې عربو حاکمانو د فلسطین د ازادۍ لپاره ناري پورته کولې؛ اتحادونه یې جوړول؛ د اسرائیلو پر ضد جنګونو ته تیارېدل او ټولو عربانو اسرائیل خپل تر ټولو ستر دښمن ګڼلو.

متأسفانه چې اوس دلته د حاکمانو حالت ډېر بدل شویدی اوس د عربو هېوادونو کابو هر مشر- سره دخپل واک دداوم فکر دی؛ قومي او دیني حمیت له منځه تللی؛ دفلسطین دآزادۍ خبره یواځې کمزورو مظلومو فلسطینیانو ته پرېښودل شویده ؛له یو دوه هېوادونو پرته نېږدې ټولو د اسرائیلو په باره کې دریځ نرم کړی؛ او داسې عرب هېوادونه هم شته چې به یې اسرائیل خپل سرسخته دښمن ګڼلو؛ د فلسطیني مبارزینو نه به یې حمایت کاوه ، ورسره به یې مرستې کولې خو اوس یې حاکمانو اسرائیلو ته د دوستۍ لاسونه ور اوږده کړیدي او فلسطیني مظلوم مسلمانان چې دخپلې خاورې او ړومبۍ قبلې لپاره سرونه قربانوي تروریستان یې ګڼي.

هغه اسرائیل چې دفلسطیني مسلمانانو ځمکې یې قبضه کړیدي اوپه زور یې پکې خپل دولت اعلان کړیدی؛ دمسلمانانو قبله یې نیولې؛ دمېرمنو او کوچنیانو په شمول یې په زرونو مظلوم مسلمانان زندانونو کې اچولي دي؛ له یوې لسیزې زیاته موده وشوه چې دغزې مسلمانان یې تر محاصرې لاندې ساتلي دي؛ په مسلسل ډول پر مظلومو فلسطیني مسلمانانو درانده بمونه غورځوي او په خپلو کورونو کې یې وژني ؛ نن عرب حاکمان دخپلو ورونو همدې قاتل دولت سره دخپل قدرت دساتنې او شخصي مادي ګټو په موخه دښواړیکو دجوړولو په لټه کې دي؛ دمسلمان ملت اجتماعیت او اتفاقي پرېکړو ته تاوان رسوي ؛ امت دوه ټوټې کوي او هغه څه کوي چې تر ننه ترې لا ډېرعجم حاکمان ځان ساتي.

دعربو متحده ایالات د اسرائیلو سره د اړیکو دجواز لپاره دا پلمه وړاندې کوي چې د اړیکو دشتون په صورت کې به له اسرائیلو له لورې پر فلسطینیانو دحملو د ودرولو ا و د فلسطینیانو دحقوقو غوښتنه کولای شي چې د اړیکو د نه شتون په صورت کې به یې غوښتنه کابو ناشوني وي.

خو دا هسې دځان غولول دي؛ هرڅوک پوهېږي چې اسرائیلي دولت داسې سپین سترګی او مغرور دولت دی چې دملګرو ملتونو اداري دقرار دادونو او غوښتنو پروا نه لري نو د اماراتو په څېر دکمزوري هېواد غوښتنه به څه ومني؟!

دهمدې تړون نه څو ورځې پس د اسرائیلوطیارو په فلسطیني سیمو په داسې حال کې حملې وکړې چې داسرائیلي دولت نمایندګانو ددې تړون د توثیق په موخه په اماراتو کې شتون درلودلو.

صهیونستي دولت دا تړون دخپل ځان لپاره ډېر ستر بریالیتوب ګڼي؛ له دې انکار هم نه شي کېدای چې دا داسرائیلو بریالیتوب دی او پدې کار دآزاد فلسطیني دولت هیلې کمزورې شویدي خو دا فکر سم ندی چې ګینې پدې

سره په عربي نړۍ کې د اسرائیلو پر وړاندې په کرکې کموالی راغلی دی؛ د اسرائیلو په هکله د دولتونو د دریځ دنرمېدو او پټو اړیکو د رابرسېره کېدو نه پس په عامو عربانو کې د فلسطیني مسلمانانو سره همدردي او د اسرائیلو پر وړاندې کرکه زیاته شویده.

اوس داسلامي نړۍ زیاتره هېوادونه د خپلو ګټو او دامریکا خوښې ته په پام سره د هېوادونو سره د دوستۍ او دښمنۍ پرېکړې کوي اوکابو ټولو اجتماعي مصالح له پامه غورځولي دي.

او هغه اقدامات چې وړاندې به تړې پراسلامي نړۍ مسلطو حاکمانو ډېره کوله او پرې به شرمېدل اوس یې ښه علني کوي او پرې دهیڅ دشرم احساس نه کوي.

داسې عرب هېوادونه شته چې لا دمخه یې له اسرائیلو سره اړیکې درلودلې خو دا اړیکې یې نه ښکاره کولې؛ ډېرې پټې به یې ساتلې چې اردن یې ښه مثال دی؛ ار دن یو له هغو ۴ عربو هېوادونونه و چې په ۱۹۴۸م کال کې دغاصب اسرائیلي دولت دقیام نه پس یې پدې قابض دولت حمله کړې وه ؛ هماغه اردن چې د ۱۹٦۷م کال دعربو او اسرائیلو په جنګ کې ترې اسرائیلو بیت المقدس او لویدیځه غاړه ونیوله دهمدې اردن دبادشاه عبدالله د اسرائیلو د تر ټولو اول لومړي وزیر ډیویډبن ګوریان سره دبرتانې په منځګړیتوب پټې جورې اړیکې وې چې د پاچا عبدالله دمړینې نه پس دهغه ځوی شاه حسین هم دخپل پلار په څېر دا اړیکې ښه په مینه په پټه پاللې چې له همدې امله یې په اسرائیل دښمنو هېوادونو کې خپل اعتبار له لاسه ورکړی و.

د۱۹٦۷م کال په جون میاشت کې دعربو او اسرائیلو تر منځ په رامنځته شوي جنګ کې اسرائیلو دشام نه دګولان څوکې؛ دمصر۔ نه دسینا دښته او د اردن نه بیت المقدس او ټوله لویدیځه غاړه ونیوله؛ کله چې په ۱۹۷۳م کال کې شام او مصر داسرائیلو نه دخپلو سیمو دبېرته نیولو په موخه پر اسرائیلو حمله کوله نو د شام ولسمشر۔ حافظ الاسد او د مصر۔ ولسمشر۔ انورسادات اردن له ځان سره راشامل کړ خو پرې دبې اعتمادۍ له امله یې ورته دحملې داصل نېټې(٦ اکتوبر) پر ځای اوونۍ وروسته نېټه وښووله خو بیا هم هغه خیانت وکړ په سبا یې اسرائیلو ته پټ سفر وکړ او داسرائیلو لومړۍ وزیرې ګولډامایر ته یې وویل چې د اکتوبر له ۱۰مې نېټې وروسته پر اسرائیلو برید کېدونکی دی؛ اسرائیلو لا خپل احتیاطي عسکر نه وو راپوره کړي چې د اکتوبر په ٦مې نېټه پرې حمله وشوه او اردن ایله په همدغې نېټې خبر کړای شو.

د تېر په څېر دې جنګ کې هم داسرائیلو په مقابل کې یادو هېوادونو شکست وخوړ چې ورسره مصر۔ دجنګ له لارې داسرائیلو په مقابل کې دبریالیتوب نه ناهیلی شو نو یې داسرائیلو سره د اړیکو جوړولو پرېکړه وکړه او په ۱۹۷۷م کال کې د مصر ولسمشر۔ انور سادات اسرائیلو ته سفر وکړ او په همدې سفر کې یې داسرائیلو پارلمان ته وینا هم وکړه؛ دا دعربي نړۍ لومړی مشر۔ و چې اسرائیلو ته یې ښکاره سفر کړی و نو ځکه پرې ټوله اسلامي نړۍ سخته خفه وه؛ د مصر۔ پرېکون وشو او دعرب لیګ او اسلامي کانفرانس نه وویستل شو خو چې په ۱۹۹۴م کال کې دیو بل عرب هېواد اردن

داسرائیلو سره علني اړیکې پیل او ورسره یې امنیتي تړون لاسلیک کړ نو پر ضد یې په اسلامي نړۍ کې هغسي غبرگون رامخې ته نه شو لکه د مصر په مقابل کې چې رامخې ته شوی و.

اوس دعربو متحده امارات دریم عرب او ړومبنی خلیجي هېواد دی چې د اسرائیلو سره یې په رسمي ډول دیپلوماتیکې اړیکي جوړې کړې.

متأسفانه چې داخل هم په عربو هېوادونو کې ددې تړون پر وړاندې هغسې غبرگون رامخې ته نه شو لکه څنگه یې چې تمه کېدله نو ځکه دنړۍ زیاتره خلک فکر کوي چې عربو دفلسطین دخرڅلاو پرېکړه کړېده.

دیادولو وړ ده چې په تېرو وختونو کې دعربو رسنیو له لارې داسې راپورونه هم خپرېدل چې پکې د ورکړل شویو معلوماتو له مخې لا ډېر وړاندې یانې د ۲۰۱۴م کال راهیسې دعربو په متحده اماراتو اوخصوصاً په دوبۍ او ابو ظهبۍ کې داسرائیلي یهودي سوداگرو سوداگریزې هلې ځلې روانې دي؛ خصوصاً دقیمتي ډېرو په کارو بار کې دوۍ ډېر پرمخ تللي دي؛ دقیمتي ډېرو لږ تر لږه ۱۱ ستر مرکزونه داسې دي چې ۴ ستر اسرائیلي یهودان یې مالکان دي.

په عربو رسنیو او په ځانگړې ډول الجزیره کې ددواړو هېوادونو ترمنځ د پټو روابطو په اړه وخت ناوخت معلومات خپرېدل چې اوسنی اقدام دخپرو شویو دې معلوماتو د کره توب ښه ثبوت دی.

دلته دا خبره ډېره خطرناکه ده چې پدې تړون کې داهم راغلي دي چې اسرائیل به دپاتې عربو او نورو اسلامي هېوادونو سره هم د ښو روابطو جوړولو هڅې کوي او امریکا او دعربو متحده امارات به ددې هدف لپاره شریکې هڅې کوي.

نو ځکه د منځني ختیځ دچارو شنونکي وایي چې دعربو دمتحده اماراتو او اسرائیلو ترمنځ رامنځته شوی دا تړون په اصل کې دسعودي عربستان او اسرائیلو ترمنځ د دیپلوماتیکو اړیکو دجوړولو لپاره له پخوا جوړ شوی پلان دی.

اوس خو دامریکا له لورې په رسمي ډول دا دعوی هم شویده چې داسرائیلو او اماراتو تر منځ رامنځته شوی تړون دسعودي عربستان په خوښه رامنځته شوی دی.

نوځکه دسعودي عربستان په هکله دا اندېښنې وې چې شاید څه موده وروسته د اماراتو اقدام ته ورته اقدام وکړي خو د اوس لپاره دا اندېښنې هغه مهال یو څه راکمې شوې چې سعودي اعلان وکړ چې د آزاد فلسطیني دولت له رامنځته کېدو وړاندې داسرائیلو سره د اړیکو رامنځته کېدل ناشوني دي.

د عربو دمتحده اماراتو او اسرائیلو تر منځ درامنځته شوي تړون نه پس دټرمپ سره په تلیفوني رابطه کې هم د سعودي پاچا سلمان بن عبدالعزیز ویلي و چې د ازاد فلسطیني دولت درامنځته کېدو شرط دسعودي له لورې د وړاندې کړای شوي عرب امن پلان د پیل نقطه ده.

دیادولو وړ ده چې په ۲۰۰۲م کال کې سعودي عربستان د فلسطین دستونزې دحل په نوم د(عربو دامن پلان) په نوم یوه طرحه وړاندې کړې وه؛ پدې طرح کې راغلي و چې که اسرائیل د فلسطینیانو لپاره د ازاد فلسطیني دولت ومني او د ۱۹۶۷م کال په جنگ کې قبضه کړې سیمې پرېږدي نو د عربو او اسرائیلو ترمنځ روابط جوړېدای شي.

همدا راز دبحرین په اړه هم همداسې اندېښنې موجودې وې؛ ډېرو دا وړاند وینې کولې چې داماراتو نه پس شاید بحرین ړومبنی هغه هېواد وي چې اسرائیل په رسمیت وپېژني؛ دمتحده اماراتو او اسرائیلو ترمنځ د اوسني تړون درامنځته کېدو نه پس چې د امریکا د باندنیو چارو وزیر پومپیو ړومبی اسرائیلو او بیا بحرین ته ولاړ نو دا اندېښنې لاپسې قوي شوې ځکه چې پومپیو د بحرین سلطان حمدبن عیسی ته دټرمپ له لورې داسرائیلو دتسلیمولو غوښتنه رامخې ته کړې وه خو له نېکه مرغه چې دبحرین پاچا نه یواځې دا چې ټرمپ غوښتنه یې رد کړه بلکې دا یې هم وویل چې باید فلسطین د ۱۹۶۷م کال نه وړاندې حالت ته بېرته ور وستل شي.

که نور عرب هېوادونه په خپل پخواني دریځ کلک پاتې شي شاید فلسطیني مسلمانان دفلسطین په یوې کوچنۍ برخه کې حپله واکمي ووینې او که نورو عربو هېوادونو او په ځانگړې توگه سعودي عربستان خدای مکړه د اماراتو په څېر اقدام وکړ نو بیا به دا رښتیا وي چې عربو هېوادونو دفلسطین دپلورلو پرېکړه کړېده.

د شهید ملا صدیق احمد زنداني تقبله الله

ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

لیکنه: شفیق الله حسیني

ملا صدیق احمد زنداني تقبله الله تعالی د ملا کاظم خان رحمه الله تعالی زوی او د ملا فقیر محمد درویش ورور له نن څخه اوه څلوېښت کاله مخکې په (۱۳۹۴ هـ ق) کال چې له (۱۳۵۲ هـ ش) سره سمون خوري، د خوست ولایت، اسماعیل خېلو ولسوالي د چارګاه کلي په یوه دینداره او جهاد پاله کورنۍ کې دنیا ته سترګې وغړولې.

زده کړې: کله چې د شهید کورنۍ له روسي اشغال وروسته پاکستان ته هجرت وکړ، نوموړی لاکشر و، او له هجرت وروسته یې څه وخت د خیبر پښتونخوا د هنګو په مفتاح العلوم کې لومړنۍ دیني زده کړې ترسره کړې، بیا یې د کاهي په سراج الاسلام کې له شیخ الحدیث مولوي سمیع الله راشد صیب څخه ـ چې هغه مهال په یاده مدرسه کې د ابتدایي کتابونو استاد و ـ هدایة النحو او نور کتابونه وویل او له نورو استادانو یې هم استفادې وکړې، بیا یې څه وخت د میرانشاه په منبع العلوم کې درسونه وویل.

له روسانو څخه د هیواد له ازادي وروسته یې په خوست کې هم څه درسونه ولوستل، چې ټول درسونه یې تقریبا تر څلورو، پنځو درجو وویل او د کورنیو او جهادي بوختیاوو له امله یې نور درسونه نیمګړي پاتې شول.

جهاد: له دې سره چې نوموړی د کمونیستي انقلاب په مهال کشر طالب و؛ خو بیا یې هم په زړه کې جهادي جذبه پرته وه.

د قومندان رحیم الله تر مشرۍ لاندې یې د جهاد په بېلا بېلو محاذونو کې برخه اخیستې وه، دګرډېز د فتحې په وخت کې له قومندان خان محمد سره ملګری و او په خوست کې د مولوي عبد الحکیم شرعي صیب د حکومت په مهال هم د نظام غړی و.

بیا چې په دې وروستیو کلونو کې د ده کشر ورور قاري نسیم احمد عمري تقبله الله تعالی شهید شو؛ نوموړی دا شپږ کاله ان تر خپل شهادت پورې د هغه د ډلګۍ سرپرست و، هر کال به یې څلور، پنځه میاشتې په تشکیل کې تېرولې، له دښمن سره به یې په مخامخ نښتو کې هم ګډون کاوه او د جګړې په ډګر کې به یې د ملګرو ډېره ښه او کامیابه رهبري کوله، له دښمن سره د جنګ په مهال به هېڅکله نه وارخطا کېده، په ډېرو نازکو حالاتو کې به یې هم ملګرو ته په ډېر اطمینان او زړورتیا سره قومنده ورکوله.

د کامیابې قومندې یوه خاطره یې: د شهید زنداني صیب تقبله الله تعالی د ډلګۍ یو مجاهد کیسه راته کوله چې یو وارې نوموړي شهید او د سیمې نورو مجاهدینو په ګډه د منډوزیو ولسوالي د ورزې په سیمه کې په اربکیانو چاپه ووهله، په دې چاپه کې له دوی سره د اسلامي امارت له خوا د منډوزیو ولسوالي ولسوال صیب هم برخه اخیستې وه.

دوی هیڅ خبر نه و چې د دښمن ټانګونه یې سل متری ته رارسېدلي وو، حتمي ده چې انسان په داسې وخت کې له وارخطایي سره مخ کیږي؛ خو شهید زنداني صیب تقبله الله تعالی یومخ ډار نه پېژانده، په دې حال کې یې ـ د دې په ځای چې په شاتګ وکړي ـ هم لومړی له دوه دریو خواوو سیمه ځارلې وه، چې که په څه ډول شونې وي، له یوې خوا په دښمن برید وکړو او ټانګونه تر محاصرې لاندې راولو؛ خو چې ویې لیدل، د برید ترتیب نه برابرېده؛ نو په ډېر مهارت او

پـوره ډاډ سـره يـې ټـول مجاهـدين او د مجاهـدينو مـوټر لـه صحنې څخه روغ رمټ راوایستل.

مسؤليتونه: په هيواد کې د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهـال نومـوړی د افغانسـتان لـه خـوا د اسـلام ابـاد سـفارت د پاسپورټونو برخه کې کابو درې کاله دنده ترسره کړه، بيا يې د خوست ولايت د مخابراتو پـه رياسـت کې يـو نـيم کـال خپلـه دنده په مخ يووړه، بيـا د خپـل کشـر ورور تکـړه مجاهـد قـاري نسيم احمد عمري تقبله الله تعـالى لـه شـهادت وروسـته شـپږ کاله رسماً د هغه د ډلګۍ سرپرستي ورله غاړې وه او سږ کـال د اسلامي امارت له خوا د خوست ولايـت د صـحت عمـومي مسؤل هم و چې دا مسؤليت يې هـم ان د خپـل شـهادت تـر ورځې په ډېر جديت او پوره فعاليت سره سر ته ورساوه.

اخلاق: نومـوړی د ښـو اخلاقـو، ديانـت، تقـوا، امانـت، پوخ عقل، هوښيارتيا، تدبير او قوي رايې څښتن و؛ خو بيا بـه يې هم هر کار له ملګرو سره تـر سـلا مشـورې وروسـته ترسـره کاوه، د پنځه وخته لمانځه د جمعې ډېر پابنـد و، ټـول ملګـري او زامن به يې هم له ځان د هر وخت لمانځه لـه پـاره جومـات تـه بيـول، سـورت يـس، تبـارک الـذي او د حفاظـت لـه پـاره ختمونه به يـې هيڅکلـه نـه قضـا کـول، نومـوړی پـه نقشـبنديه طريقه کې د شيخ الحديث خليفه د ين محمد صيب مريد و.

نوموړی د ښه غږ څښتن هم و، کله، کله بـه يـې لـه خپـل مشر ورور ملا فقير محمد درويش سره د جلسو او پيټو ډکولـو په مهـال بدرګـه هـم کولـه او کلـه بـه يـې د ملګـرو پـه غوښـتنه يوازې هم ترانه ويله.

له عوامو سره يې ښه راشه درشه لرله او د دوی پـه غـم او ښادي کې به يې خامخا ګډون کاوه، له دې امله عـوام ډېـر تـرې متاثر وو.

د ډلګـۍ پـه مجاهـدينو يـې د وروڼـو او زامنـو غونـدې شفقت کاوه، له يوه ملګري به يې هم ځان پورته نه ګاڼه، د هـر يوه مشوره به يې په پوره توجه سره اورېدله، که څه هـم د کشـر ملګري مشوره به وه، پـه مجاهـدو ملګـرو بـه يـې چې څـومره مصرف وشو، زړه يې نه پرې بدېده، په بنديانو ملګـرو يـې ډېـر پام کاوه، مجاهدين ملګري به يې دينـداري، نوافلـو، تلاوتونـو او د ثواب نورو کارونو ته هڅول او په ملګـرو بـه يـې د نظـامي او استخباراتي درسونو او اعداد ډېر کوښښ کاوه.

د تقوا خاطره يې: د نوموړي د سنګر ملګري وايـي: مـوږ به چې په خوست کې کومې سيمې ته تشکيل کاوه، هغه سـيمه غرنـۍ وه او طبعـاً د ځـايي خلکـو کـورنۍ پـرده کمـزورې وه، مېرمنو ځينې له کوره باندينې کارونه هم تر سره کـول، لکـه: لـه غره څخه لرګي راوړل او نـور... نـو نومـوړي پـه مـوږ دا لازمـه کړې وه چې کله هم له مرکز نه وځو، په خپـل سر بـه دسـمالونه داسې اچـوو چې پـه مـخ مـو رازوړنـد وي، مخـامخ لاره راتـه ښکاري، خو ښۍ او چپې خوا ته څه شی نـه ښکاري چې پـه پرديو مېرمنو مو نظر ونه لګيږي، نو دا يې ډېره عجيبـه خـاطره ده چې کلـه بـه داسې ځـای تـه ولاړو چې هلتـه بـه سـيميزې مېرمنې د باندنيو چارو ترسـره کولـو لـه پـاره لـه خونـو راوتلې وې، نوموړي به په ملګرو غږ وکړ: (حجاب!) نو ټولـو ملګـرو به سمدلاسه په سرونو دسـمالونه راواچـول او يـوازې مخـامخ لاره به يې ليدله.

شهادت: زنداني صيب تقبلـه اللـه تعـالى د شـهادت ډېـر تږی و، سږ کال به يې له هر ملګري سره د رابطې په وخت بيا بيا ويل: تاسې ما ته دعا وکړئ چې اللـه تعـالى مـو سـتړياوې ضايع نه کړي، نومـوړی د روژې د مياشـتې پـه لومړنيـو ورځـو کې تشکيل ته ولاړ، هلته به خپلو جهادي خدمتونو بوخـت و، چې يـوه ورځ د خوسـت ولايـت د صـبريو پـه ولسـوالي کې د اسلامي امارت له خوا د صحت د مشـرانو غونـډه جـوړه شـوه او دی هم همالته وروبلل شو.

مجاهـدين ملګـري يـې وايـي: کلـه چې دی لـه مـوږ نـه رخصـتېده، لـه هـر ملګـري سـره يـې د اخيـري خـدای پامـانې غوندې رخصتي واخيسـته، پـه هماغـه مهـال يـې پـه ټنـډه کې سور ټاپې ښکاره شو، چې ټولو ملګرو په خپلـو سـترګو وليـد، او ده ته يې وويل: په تندي کې دې نښه ځرګنده شوه، هسې نـه چې شهيد شې، ده به پوره ډاډ سره ورغبرګـه کـړه: ملګـرو! اللـه تعالى چې مـا تـه کومـه مرمۍ ليکلې وي، هغـه پـه بـل چـا نـه لګيږي. او رخصت شو.

په دغو شپو او ورځو کې د اسلامي امارت د مجاهدینو له خوا د خوست د موسی خېلو ولسوالي تر کلکې محاصرې لاندې وه، او زنداني صیب تقبله الله تعالی چې د صحت مسؤل و، د زخمیانو له پاره د بېړنیو مرستو او روغتونونو ته د لېږد په پار همالته په سیمه کې نږدې موجود و، له دغه ځایه په (۱/۱۱/۱۴۴۱ هـ. ق.) نېټه چې له (۲/۴/۱۳۹۹ هـ. ش.) سره سمون خوري، له د خپل مشر زوی او دریو نورو مجاهدینو ملګرو په ملتیا صبریو ته روان شو، په لاره کې د موسی خېلو ولسوالۍ اړوند (وایه) سیمه کې د مزدور دښمن په څلور طرفه کمین کې راګیر شول، هرې خوا ته د غرو په سرونو دښمن ناست و او یوې خوا ته هم لاره نه وه، دوی له ځان سره د عوامو موټر سپېشل راوستی و، او ده له عوامو سره زیاته خواخوږي لرله؛ نو زنداني صیب تقبله الله تعالی سمدلاسه له ملګرو سره یو ځای له موټره راښکته شو او موټروان ته یې د تګ اجازه ورکړه، هغه له سیمې ژوندی ووت او دښمن پرې کار ونه لاره.

ده له خپلو څلورو وارو ملګرو سره یو ځای له پاخه سرک نه په لږ واټن سره په داسې یو خوړ کې پناه واخیسته، چې په ونو او غنو پوښل شوی و، او د خوړ یو متر لوړې ژۍ ته یې ډډه ولګوله، دښمن چې دوی تر ښار لاندې نیولي وو او ویې لیدل چې په دغه ځای کې بې درکه شول، نو دغه ځای یې د هاوانونو، غټو او وړو وسلو تر برید لاندې ونیو او نږدې سرک ته ټانګونه هم راورسېدل او هماغه ځای یې تر اور لاندې ونیو، ده ملګرو ته وویل چې ځای پر ځای غلي شئ، حرکت مه کوئ او د الله تعالی ذکر شروع کړئ. که څه هم محاصره د سهار له اته نیمو بجو د مازدیګر تر څلورو بجو وغځېده؛ خو د نوموړي په بدن په نهه نیمو بجو د ټانګ د دهشکې څلور مرمۍ ولګېدې او سخت ټپي شو، سمدلاسه یې د شهادت کلمه وویله او په ملګرو یې د ایت کرسي ویلو ټینګار وکړ، همداسې د شهادت کلمې یې ویلې، او یو ساعت وروسته یې حقیقي خالق ته خپل روح وسپاره.

انا لله و انا الیه راجعون

او نور څلور وارو ملګري یې د لوی خدای د نصرت په مټ له محاصرې روغ ووتل، چې بیا د ده مبارک جسد په هماغه ماښام د کلیوالو په مرسته د دښمن له سیمې انتقال او مجاهدینو ته وسپارل شو.

اولاد: نوموړي شپږ اولادونه: پنځه زامن او یوه لور تر شا پرېښودل.

روح دې ښاد او یاد دې تل وي.

د انسان بدني اعضاو په اړه مهم معلومات

• معده(Stomach) هغه وخت په تکلیف وي کله چې انسان د سهار ناشته نه کوي.

• پوښتورګي (Kidneys) هغه مهال په وېره کې وي، کله چې انسان په ۲۴ ساعته کې یو ګلاس اوبه هم نه چیښي.

• تریخی(Gall Bladder) هغه وخت په مشکل کې وي کله چې انسان د شپې تر ۱۱ بجو ویدېږي نه او له لمر راختلو مخکې راپورته کېږي نه.

• کوچنۍ کولمې(Small Intestines) هغه مهال پرېشانه وي کله چې تاسې یخ مشروبات چیښئ او سړه ډوډۍ خورئ.

• غټې کولمې(Large Intestine) هغه مهال ستړي وي کله چې انسان ډېر زیات سور شوی یا مصاله لرونکی شی خوري.

سږي(Lungs) هغه وخت زیات تکلیف احساسوي کله چې تاسې د سګریټ او بیړۍ له دود ډکه فضا کې سا اخلئ.

• ځیګر(Liver) هغه وخت تکلیف احساسوي کله چې تاسې ډېر درانه خواړه او فاسټ فوډ (تیار شوی خواړه) خورئ.

• زړه(Heart) هغه وخت د مشکل سره مخ کېږي کله چې انسان ډېر تریو یا ډېر کولیسټرول لرونکي خواړه خوري.

• سترګي(Eyes) هغه وخت په تکلیفېږي کله چې په تیاره کې پر هغوی د کمپیوټر او موبایل تېزه رڼا پرېوځي.

• دماغ(Brain) هغه مهال ډېر ستړی وي کله چې تاسې منفي فکر کوی .

د میزان په شپږمه د کابل د فتحې د کلیزې په مناسبت

د اســـلامي امـــارت اعـــلامیه

د میزان شپږمه نېټه زموږ د هیواد په معاصر تاریخ کې یوه مهمه او تاریخي ورځ ګڼل کېږي، د افغانستان پلازمېنه کابل چې د تنظیمي جګړو پر وخت د بوږنوونکو غمیزو او بدمرغیو شاهد و د ۱۳۷۵ لمریز کال د میزان په شپږمه د اسلامي امارت د مجاهدینو په لاس فتحه او هیواد له یوه خطرناک او تباه کوونکي بحران څخه نجات وموند.

د کمونیستي رژیم له سقوط وروسته ځینې د قدرت حریصان او د کمونیستانو مؤتلفین پخپل منځ کې په جګړو واوښتل، که څه هم په دې مرحله کې په ټول افغانستان کې فساد او هرج و مرج خپور و؛ خو د فتنو او غمیزو اصلي ډګر د هیواد تاریخي پلازمېنه کابل و، کابل ښار د څو مشهورو تنظیمي جګړه مارانو تر منځ تقسیم او د خپلمنځي جګړو په ډګر بدل شوی و.

په درې کلنو جګړو کې د کابل ښار له څلورو درې برخې و دانې سیمې له یوې مخې تباه او ونړېدې.

هیواد یوازې په مادي ډول نه شو تباه؛ بلکې معنوي تباهي او د تاریخي اثارو، کتابخانو او موزیمونو لوټ تالان تر دې څو برابره بوږنوونکی داستان لري، د هیواد د تجزیې نقشې تیارې شوې وې او د رڼا هیڅ څرک نه ښکارېده.

د افغانستان اسلامي امارت د تیارو په همدې اوج کې قیام وکړ، جګړه ماران یې له هیواده ورک کړل، په سمتونو تقسیم شوی هیواد یې متحد کړ، کابل یې د شر و فساد له عناصرو او لوټمارانو تصفیه کړ او د افغان ولس سر، مال او عزت یې بیرته خوندي کړ.

په همدې اساس ویلی شو چې د میزان شپږمه د سقوط، تجزیې او بربادۍ له خطر څخه د افغانستان د ژغورلو ورځ ده.

په همدې ورځ په هیواد کې د یو داسې سوچه اسلامي نظام واکمني پیل شوه چې زموږ د ملت د یو نیم میلیون شهیدانو ارمان او هدف و.

د افغانستان اسلامي امارت د دې تاریخي ورځې د رارسیدو په مناسبت خپل مظلوم او مجاهد ملت ته مبارکي وایي او زیری ورکوي چې ان شاءالله هغه ورځ رانږدې ده چې هیواد مو یو ځل بیا د یرغلګرو له وجود او د افغانستان موجوده سلطې څخه د خلاصۍ او خپلواکۍ ورځې ولري او د راتلونکي لپاره باید ټول هوډ ولرو تر څو مو ولس د یوه سوچه اسلامي نظام په نفاذ سره خپلو لوړو ارمانونو ته ورسېږي، ان شاءالله تعالی وما ذالک علی الله بعزیز

د افغانستان اسلامي امارت

۱۰/۲/۱۴۴۲ هـ ق

۲/۷/۱۳۹۹ هـ ش ـ ۲۰۲۰/۹/۲۵ م

د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په مراسمو کې د اسلامي امارت د مرستیال

او سیاسي دفتر رئیس محترم ملا برادر اخند د وینا متن

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علیه رسوله المجتبی

امابعد: فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم و اعتصموا بحمبل الله جمعیا ولا تفرقو (الایة) و ایضا قال الله تعالی :يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّـهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّـهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّـهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا

تر هرڅه مخکې د دې درانه مجلس ټولو ګډونوالوته ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

خوښ یم چې د افغانستان اسلامي امارت او د امریکا د متحده ایالاتو د تاریخي توافقنامې د امضاء په تعقیب سره د افغانستان څلویښت کلنې معضلې پای ته د رسولو او یو اسلامي نظام د قیام په موخه د بین الافغاني مذاکراتو د افتتاحیې غونډې ګډونوال یو .

د سولې روان بهیر د دوحې د تړون په بشپړ عملي کولو سره کامیابېدلای شي .

اسلامي امارت د دوحې په تړون کې کړې ژمنې عملي کړي دي او عملي کوي یې .

همدا رنګه له مقابل لوري څخه هم په کلکه غوښتنه کوي چې په تړون کې کړې ژمنې عملي کړي، ترڅو د سولې پروسه ښه پرمخ ولاړه شي، او له خنډ او ځنډ سره مخ نشي .

زه په دې مجلس کې له حاضرو دواړونو ټیمونو څخه غوښتنه کوم چې په خپلو بحثونو او پریکړو کې د اسلام د مقدس دین او هیواد لوړ منافع په نظر کې ونیسي او دغه هدف ته رسیدل باید د ډلو او ټپلو او اشخاصو تر شخصي منافعو قرباني نه کړي .

د مذاکراتو جریان به خامخا ستونزې ولري، خو غوښتنه مو داده چې بحثونه په پوره حوصله او زغم او له موضوعاتو سره د ښه تعامل په نظر کې نیولو سره پرمخ ولاړ شي .

د افغانستان اسلامي امارت خپل خوږیدلي ملت ته ډاډ او اطمینان ورکوي چې په پوره اخلاص سره به د بین الافغاني مذکراتو په جریان کې کوښښ وکړي چې خپل مسلمان ملت ته د سولې، آرامۍ او سوکاله ژوند لپاره زمینه برابره کړي .

همدا رنګه نړۍ ته اطمینان ورکوي چې پخپل توان سره به هلې ځلې وکړي ترڅو بین الافغاني مذاکرات ښه نتیجه ورکړي .

موږ غواړو چې افغانستان خپلواک، مستقل، متحد، پرمختللي او آزاد هېواد وي او یو داسې اسلامي نظام ولري چې د ولس ټولې برګنې پکښې د کوم تبعیض پرته خپل ځان ووینې او د یوبل سره د وروري په فضا کې په پوره صممیت سره ژوند وکړي .

موږ غواړو چې افغانستان په آینده کې د ګاونډیو، سیمې او نورې نړۍ له هیوادونو سره مثبتې، په متقابل احترام ولاړې او ښې اړیکې ولري .

په پای کې د قطر کوربه هیواد د محترم امیر، محترم خارجه وزیر، حکومت او ملت څخه او همدا رنګه د نورو هغو هیوادونو څخه چې زموږ سره یې د سولې په اړه هر اړخیزه همکاري کړې او کوي یې د زړه له کومې مننه کوم .والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

ملا عبدالغني برادر

د اسلامي امارت سیاسي مرستیال او د سیاسي دفتر رئیس

۱۴۴۲/۱/۲۴هـ ق / ۱۳۹۹/۶/۲۲هـ ش / ۲۰۲۰/۹/۱۲ م